یا ایها الذین امنوا اذکروا الله ذکرا کثیرا (الاحزاب ۴۱)

# مسنون مستند

## ذکرونه او دعاګانې

مؤلف


فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوري
حفظه الله تعالی


Ketabton.com


مکتبه محمدیه
بیرون گنج گیټ منگل مارکیټ پېښور
0301-8828402


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا ایها الذین امنوا اذکروا الله ذکرا کثیرا (الاحزاب ۴۱)

# مسنون مستند

## ذکرونه او دعاګانے

مؤلف

ابو محمد امین الله البشاوری
حفظه الله تعالی

مکتبه محمدیه
منګل مارکیټ بیرون ګنج پیښور

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تالیف او طباعت حقوق محفوظ دی


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د ذکرونو او دعاگانو مسنون مستند کتاب |
| مؤلف | شیخ ابو محمد امین الله حفظه الله |
| طباعت | طبعه جدیده مع اضافات وتحقیق |
| طبع قدیم | ذی الحجة الحرام سنه ١٤٢٥ هـ |
| | موافق : ١٩/١٠/٢٠٠٥ یوم الاربعاء |
| طبع جدید | ١٤٣٩ هـ رجب موافق ٢٠١٨ء/ ١٢/٤ |
| اضافات مفیده | ابوزهیر سیف الله "عفی عنه" |
| کمپوزنگ وتحقیق | ابوزهیر |
| اخراج | ابوزهیر |

ناشر

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پیښور

رابطه : ولی الله موبائل نمبر 0301-8828402

0311-8828402


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرس د مضامينو


| صفحه | عنوان | شماره |
|---|---|---|
| ۵ | د د ذکر او د دعا آداب او قواعد ........ | ۱ |
| ۱۳ | د صبا او بیگاه ذکرونه او دعاگانے | ۲ |
| ۲۲ | د صبا په وخت ذکر ........ | ۳ |
| ۲۳ | د اوده کیدو ذکرونه او دعاگانے . ........ | ٤ |
| ۳۲ | د خوب نه د رابیداریدو دعاگانے ........ | ۵ |
| ۳٤ | د شپے د رابیداریدلو دعاگانے ........ | ٦ |
| ۳٦ | په خوب کښ د یریدلو دعا ........ | ۷ |
| ۳۷ | ځوك چه د سرکش شیطانانو نه یریږی ........ | ۸ |
| ۳۸ | کله چه انسان بد خوب اووینی ........ | ۹ |
| ۳۸ | د جامو اغوستلو د عاگانے ........ | ۱۰ |
| ٤۰ | بل ته د جامو د مبارکئ ورکولو دعاگانے ........ | ۱۱ |
| ٤۱ | د جامے د ویستلو دعا ........ | ۱۲ |
| ٤۲ | بیت الخلاء ته د ننوتو دعاگانے ........ | ۱۳ |
| ٤۳ | بیت الخلاء نه د راوتلو دعا ........ | ۱٤ |
| ٤۳ | د اوداسه دعاگانے ........ | ۱۵ |
| ٤۵ | کورته د ننوتو دعا ........ | ۱٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | کورنه د بهر وتلو دعاګانې ........ | ٤٧ |
| ۱۸ | مسجد ته د داخلیدو او وتلو دعاګانې ........ | ٤٨ |
| ۱۹ | مسجد کښې اخستونکی، خرڅونکی ته دا دعا کول پکاردی ........ | ٥٠ |
| ۲۰ | مسجد کښې د ورك شوی شی تلاش کونکی ته داسې خیره اوکړه ........ | ٥١ |
| ۲۱ | د اذان او اقامت دعاګانې ........ | ٥١ |
| ۲۲ | د سحر د سنتو نه پس دعاګانې ........ | ٥٤ |
| ۲۳ | د مانځه د افتتاح ذکرونه او دعاګانې ........ | ٥٥ |
| ۲٤ | د شپې د مونځ شروع کولو په وخت ذکر ........ | ٦٠ |
| ۲۵ | په مانځه کښې د قراء ت نه مخکښې تعوذ ........ | ٦١ |
| ۲٦ | د رکوع دعاګانې ........ | ٦١ |
| ۲۷ | د قومې دعاګانې ........ | ٦٣ |
| ۲۸ | د سجدې دعاګانې ........ | ٦٦ |
| ۲۹ | د دوو سجدو په مینځ کښې دعا ........ | ٦٩ |
| ۳۰ | د تشهد دعاګانې ........ | ٧٠ |
| ۳۱ | د التحیات او درود نه پس دعاګانې ........ | ٧٤ |
| ۳۲ | د سلام اړولو نه روستو دعاګانې ........ | ٧٧ |
| ۳۳ | د وترو دعاءِ قنوت ........ | ٨٥ |
| ۳٤ | قنوتِ نازله ........ | ٨٦ |
| ۳۵ | د سحر مانځه نه پس اذکار ........ | ٨٩ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۳۶ | سفر کښې د سحر مانځه نه پس دعا .......... | ۹۱ |
| ۳۷ | سفر کښې د صبا صادق ليدلو وخت کښې دعا ...... | ۹۲ |
| ۳۹ | کله چه سپوږمۍ راخيژي ........... | ۹۳ |
| ۴۰ | د نوې مياشتې دليدلو دعاګانې ........... | ۹۳ |
| ۴۱ | د نمر او سپوږمۍ د تندر په وخت دعا ........ | ۹۴ |
| ۴۲ | د خوراك، څکاك دعاګانې ............. | ۹۶ |
| ۴۳ | که بسم الله په اوله کښې هيره شي او د خوراك د شروع نه پس ورته ياده شي نو دا دعا به وائي ...... | ۹۷ |
| ۴۴ | د خوراك نه روستو دعاګانې ........... | ۹۷ |
| ۴۵ | د اوبو څکلو مستقله دعا ........... | ۹۹ |
| ۴۶ | ميلمه به کور والا ته دا دعا کوي ........... | ۹۹ |
| ۴۷ | د پيو [ شودو] څکلو دعا ............ | ۱۰۱ |
| ۴۸ | د نوې ميوې د خوراك په وخت دعا ........... | ۱۰۱ |
| ۴۹ | د روژه ماتی ( افطار) دعاګانې ........... | ۱۰۲ |
| ۵۰ | بازار کښې د دداخليدو دعا ............ | ۱۰۳ |
| ۵۱ | د استخارې دعا ........................ | ۱۰۴ |
| ۵۲ | د غم، خفګان او پريشانۍ په وخت دعاګانې ........ | ۱۰۵ |
| ۵۳ | د تمامو مصيبتونو علاج .............. | ۱۰۸ |
| ۵۴ | د تکليف په وخت دعا ............. | ۱۰۹ |
| ۵۵ | دشمن يا د ظالم بادشاه نه د يرې په وخت دعاګانې .. | ۱۱۰ |
| ۵۶ | د نوی نعمت د ملاويدوپه وخت دعاګانې ......... | ۱۱۱ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۵۷ | د مصیبت په وخت ذکرونه ................ | ۱۱۲ |
| ۵۸ | د ماشوم د دمولو دعاګانې ........... | ۱۱٤ |
| ۵۹ | د بیمار پرسۍ په وخت دعاګانې ........... | ۱۱٤ |
| ٦۰ | مریض دِ ځان دپاره داسې دعا کوي ........... | ۱۱۸ |
| ٦۱ | که چرې چاته د تپې تکلیف وي نو هغه داسې دعا اوکړه ........ | ۱۱۹ |
| ٦۲ | دانه یا زخم باندې دم اچول یا چیچلې شوې دمول | ۱۲۰ |
| ٦۳ | لیونې دمول ........... | ۱۲۱ |
| ٦٤ | اهل کتابو د بیمار پرسۍ په وخت دعا ........... | ۱۲۲ |
| ٦۵ | کله چه انسان د خپل ژوند نه تنګ شي ........... | ۱۲٤ |
| ٦٦ | مدینه طیبه کښې د مرګ نصیب کیدو دعا ........ | ۱۲٤ |
| ٦۷ | د مړي د سترګې پټولو په وخت دعا ........... | ۱۲۵ |
| ٦۸ | د جنازې د مانځه دعاګانې ........... | ۱۲٦ |
| ٦۹ | د تعزیت دعاګانې ........... | ۱۳٤ |
| ۷۰ | د مړي د سپارلو دعاګانې ........... | ۱۳۵ |
| ۷۱ | د دفن کولو نه پس د قبر دپاسه دعا ........... | ۱۳۵ |
| ۷۲ | د زیارة القبور دعاګانې ........... | ۱۳٦ |
| ۷۳ | د کافرو په قبرونو دِ ورتیریدلو په وخت دعا ........ | ۱۳۸ |
| ۷٤ | د قرض نه دخلاصیدو دعا ........... | ۱۳۹ |
| ۷۵ | د قرض د واپس کولو دعا ........... | ۱٤۲ |
| ۷٦ | د مصیبت زده شخص د لیدلو په وخت دعا ........ | ۱٤۲ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۷۷ | د کفر د وسوسې د دفع کولو دعاګانې .............. | ۱۴۳ |
| ۷۸ | د باران غوختلو دعا ................ | ۱۴۴ |
| ۷۹ | د وریځې د مخامخ لیدو دعا ............... | ۱۴۶ |
| ۸۰ | د تیزې هوا د چلیدو په وخت د عاګانې ............ | ۱۴۶ |
| ۸۱ | کله چه باران شروع شي .............. | ۱۴۸ |
| ۸۲ | د باران نه پس دا الفاظ اووایئ ............ | ۱۴۹ |
| ۸۳ | د باران د اوردیدلو دعا ............... | ۱۴۹ |
| ۸۴ | د آسمان د غرارۍ په وخت دعا ............ | ۱۵۰ |
| ۸۵ | کله چه څوك په سفر ځي او تا نه دعا طلب کړي نو داسې ورته ووایه ! .............. | ۱۵۲ |
| ۸۶ | د سورلئ دعا .................. | ۱۵۳ |
| ۸۷ | کله چه سورلئ اوخوئیږي .............. | ۱۵۴ |
| ۸۸ | د خکته کوزیدلو او پورته ختلو دعا ........... | ۱۵۴ |
| ۸۹ | سفر ته د روانیدو دعاګانې ........... | ۱۵۵ |
| ۹۰ | د سفر نه د واپس کیدو دعا .............. | ۱۵۷ |
| ۹۱ | د سفر نه واپس کیدو کښې به چه کور ته داخلیدو.. | ۱۵۸ |
| ۹۲ | کله چه یو کلي ته ورداخلیږي .............. | ۱۵۸ |
| ۹۳ | کله چه انسان یو ځائې کښې دمه کوي .......... | ۱۵۹ |
| ۹۴ | د پرنجي په وخت دعاګانې او د هغې جواب .......... | ۱۶۰ |
| ۹۵ | دکافر د پرنجي په وخت د عا ............ | ۱۶۱ |
| ۹۶ | د نکاح دعاګانې .............. | ۱۶۲ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | | |
|---|---|---|
| ۹۷ | کو یږدن والا ته دعا ............ | ۱٦۳ |
| ۹۸ | ناوي سره د ملاویدو په وخت دعا ............ | ۱٦٤ |
| ۹۹ | د کور والی په وخت دعا ............ | ۱٦٤ |
| ۱۰۰ | د ماشوم د پیدا کیدو په وخت دعا ............ | ۱٦۵ |
| ۱۰۱ | د چرګ، خره او د سپي د آواز په وخت دعا ........ | ۱٦٦ |
| ۱۰۲ | د ناڅاپي مصیبت راتلو په وخت څه کول پکاردي | ۱٦۷ |
| ۱۰۳ | د یو ځائے نه د پاڅیدلو دعاګانے ............ | ۱٦۷ |
| ۱۰٤ | مجلس کښې استغفار کول ............ | ۱۷۱ |
| ۱۰۵ | کله چه د غیر الله په نوم قسم اوخوری نو د کفارے په طور دِ داسے اووائی ............ | ۱۷۲ |
| ۱۰٦ | د غصے په وخت دعا ............ | ۱۷۳ |
| ۱۰۷ | کله چه مسلمان په خندا اووینی نو داسے ووایه ... | ۱۷۳ |
| ۱۰۸ | کله چه ته چاته څه هدیه ورکړے او هغه تاته دعا اوکړی نو ته به هم هغه شان دعاکوے ........ | ۱۷٤ |
| ۱۰۹ | کله چه تاسو سره څوك احسان اوکړی ............ | ۱۷٤ |
| ۱۱۰ | د منکر کار د ختمولو په وخت دعا ............ | ۱۷۵ |
| ۱۱۱ | که ستا دګیرے یا مخ نه څوك څه خس، خشاك لرے کړی نو داسے عا ورته اوکړه ............ | ۱۷٦ |
| ۱۱۲ | کله چه د نظر لګیدلو نه یریږی ............ | ۱۷٦ |
| ۱۱۳ | د بد فالئ په وخت دعا ............ | ۱۷۷ |
| ۱۱٤ | کله چه یو غوره شے اووینی ............ | ۱۷۸ |



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۵ | کله چه یو بد شے اووینی ........................ | ۱۷۸ |
| ۱۱۶ | درياء نه د يريدو په وخت دعا ........................ | ۱۷۸ |
| ۱۱۷ | کله چه د يو مسلمان صفت کوے ........................ | ۱۷۹ |
| ۱۱۸ | کله چه تا ته څوك اووائی څما تاسره مينه ده نو ته ورته داسے اووايه ........................ | ۱۸۰ |
| ۱۱۹ | کله چه تا ته څوك خپل مال پيش کړی ......... | ۱۸۰ |
| ۱۲۰ | د حج متعلق دعاګانے ........................ | ۱۸۰ |
| ۱۲۱ | د حجر اسود خکلولو په وخت دعا ............ | ۱۸۱ |
| ۱۲۲ | د رکن يمانی او حجر اسود په مينځ کښے دعا .... | ۱۸۱ |
| ۱۲۳ | صفا مروه باندے اودريدلو په وخت دعا .......... | ۱۸۲ |
| ۱۲۴ | د عرفے په ورځ عرفات کښے دعا ............ | ۱۸۲ |
| ۱۲۵ | کله چه د يو قوم نه يريږی ........................ | ۱۸۳ |
| ۱۲۶ | د تعجب ياد خوشحالئ د خبر په وخت دعا ....... | ۱۸۳ |
| ۱۲۷ | په سجده د تلاوت کښے دعاګانے .............. | ۱۸۳ |
| ۱۲۸ | د صلوة تسبيح دعا ........................ | ۱۸٤ |
| ۱۲۹ | ليلة القدر د ليدلو دعا ........................ | ۱۸۵ |
| ۱۳۰ | څوك چه نوے مسلمان شی نو دا دعا به ورته خودلے شی ........................ | ۱۸٦ |
| ۱۳۱ | شيشه کښے د کتلو دعا ........................ | ۱۸٦ |
| ۱۳۲ | شيطان نه د بچ کيدلو اذکار ........................ | ۱۸۷ |
| ۱۳۳ | د ملاقات نه پس د جدائی په وخت دعاګانے ....... | ۱۸۷ |



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | | |
|---|---|---|
| ۱۳٤ | کله چه په یو مسلمان یو کار گران شي .......... | ۱۸۹ |
| ۱۳۵ | د رزق د فراخۍ اذکار او اسباب .......... | ۱۸۹ |
| ۱۳٦ | د جهنم نه د بچ کیدو او د جنت حاصلولو دعا .... | ۱۹۲ |
| ۱۳۷ | د نیکو د ډیروالي دعا .......... | ۱۹۲ |
| ۱۳۸ | د دعا د قبلیدو ذریعه .......... | ۱۹۵ |
| ۱۳۹ | د خزانه گټل .......... | ۱۹۷ |
| ۱٤۰ | کله چه ستا څوك صفت او کړي .......... | ۱۹۷ |
| ۱٤۱ | فائده منه دعا .......... | ۱۹۸ |
| ۱٤۲ | د میزان د ډکوالي دعا .......... | ۱۹۹ |
| ۱٤۳ | د گمراهۍ نه د بچکیدو دعا .......... | ۱۹۹ |
| ۱٤٤ | کله چه خلق وریې او اشرفۍ خزانه کړي .......... | ۲۰۰ |
| ۱٤۵ | د هغه ذکرونو او دعاگانو بیان چه هر وخت کیدلے شي .......... | ۲۰۱ |
| ۱٤٦ | د هغه سورتونو او آیتونو بیان چه د هغے فضیلت په صحیح حدیثونو کښے راغلے او په خاصو ځایونو کښے لوستے شي .......... | ۲۳۱ |
| ۱٤۷ | د درود شریف د الفاظو بیان .......... | ۲۳۳ |
| ۱٤۸ | اسمائے حُسنیٰ .......... | ۲۳۷ |
| ۱٤۹ | د هغه ذکر او دعا بیان چه خلق ئے کوی او هغه دین کښے ثابت نهٔ وی .......... | ۲٤٤ |



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

**أما بعد** !

د الله تعالی په احساناتو کښې بهترین نعمت دین دے چه یو انسان ته ئے ورنصیب کړی، ځکه ددنیا او د آخرت د کامیابئ سبب صرف او صرف دین دے. د هیڅ یو کس دپاره نجات او خلاصے تر هغه وخته پورے نشی کیدے ترڅو چه اسلام هغه پخپله زندګئ کښې رانه ولی. او د الله تعالی بل عظیم احسان دا دے چه کوم شی ته انسان ډیر محتاج وی هغه الله تعالی ډیر عام کړے وی لکه اوبه، هوا، زمکه او آسمان، دارنګه د الله تعالی ذکر کول چه د انسان روح او زړه هیڅ کله نشی خوشحالیدلے ترڅو چه انسان د الله تعالی ذکر کونکے جوړ نشی.

د ذکر الٰهی ډیر فضیلتونه په قرآن او حدیث کښې راغلی دی، الله تعالی فرمائی: ﴿وَلَذِكْرُ اللهِ أَكْبَرُ﴾ [سورة العنكبوت پ ۲۱/ آيت ٤٥]

(د الله تعالی ذکر ډیر لوئی شے دے)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: "مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ عَمَلًا أَنْجَى لَهُ مِنْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَلْعَذَابِ مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ تعالی" [الترغيب والترهيب ج ۲ / ۳۹٤ للمنذری]
(نـهٔ دے کړے انسان يو عمل چه بچ کونکے وی ده لره د الله تعالی د عذاب نه پشان د ذکر الٰهی).

دارنـګـه د تـرمـذی پـه حـديث کښے راځی چـه نبی عليـه السلام فـرمـائـی: تـاسو د الله تعالی ذکر کویٔ ځکه چه ددے مثال داسے دے لـکـه يو سړی پسے دشمـنـان پـه جلتیٔ سره را روان وی او دا ترے مـخـکښے منـډے وهی، تردے چه يوه مضبوطه قلعه راشی او دا په هغے کښے ورننوځی او ځان د دشمنانو نه بچ کړی.

دارنـګه انسان د شيطان نه نشی بچ کيدے مګر د الله تعالی په ذکر سره. په يو حديث کښے راغلی دی چه چه د ذکر په وجه د الله تعالی پـه دربـار کښے ددے انسـان تـذکره کيږی. يو بل حديث کښے دا هم راغـلـی دی رسول الله ﷺ فرمائی: آيا تاسو ته ستاسو په اعمالو کښے بهتـريـن عـمـل نه درښايم چه هغه ستاسو د بادشاه په نزد ډير خيـر والا (فـائـده مـنـد) وی او ستـاسـو درجے اوچتونکے وی او تاسو دپاره د سرو او سپينـو د خرچ کولو نه زيات بهتر وی او ددے نه هم ډيـر بهتـر وی چه تـاسـو خپلو دشمنانو سره ملاؤ شیٔ پس هغوی ستـاسـو څټونه اووهی او تاسو د هغوی څټو نه اووهیٔ؟ صحابو عرض اوکړو: ولے نه؟ نبی ﷺ اوفرمائيل (هغه) د الله ذکر دے.

[ترمذی رقم ۳٤۳۷، ابن ماجه رقم ۳۷۹۰ - بِسَنَدٍ صَحِيحٍ]

يـو بل حديث کښے راغلی دی: په ټولو اعمالو کښے بهتر عمل او الله تـعالی ته خوښ عمل دا دے چه په تا مرګ راشی او ستا ژبه د الله په ذکر لمده وی. (ابن حبان)

**خلاصه** دا چـه د الله تـعـالـی د ذکـر بے شماره فائدے دی بعض د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه فائدونه ابن القیم رحمه الله په پخپل کتاب "اَلْوَابِلُ الصَّیِّب" کښې ذکر کړیدي په ډیر اعلیٰ تفصیل او عُمده وضاحت سره او هغه تقریباً سل (۱۰۰) فائدې د ذکر د الله بیان کړیدي، د مثال په طور:

- د الله تعالیٰ ذکر د بختیٔ نه بچ کیدل دي.
- ذکر په وجه انسان د عابدانو اوچتو مرتبو ته رسیږي.
- د ذکر په وجه رڼرا ملاویږي په دنیا، قبر او حشر کښې.
- الله تعالی ته د رسیدلو لاره ذکر د هغه دے.
- زړهٔ رابیداروي د غفلت د خوب نه.
- د ذکر په وجه معرفتِ اِلٰهی ملاویږي.
- ذکر د شکر سر دے.

څوك چه الله تعالی ډیر یادوي هغه د الله ډیر شکر کونکے دے او څوك چه ترے غافل شو، هغه ناشکره بنده دے. دارنګ د ذکر نورے فائدے هم شته چه دلته د هغے د تفصیل ګنجائش نشته - اوس دلته د ذکر او دعا باره کښې بعض قاعدے او هدایات ذکر کولے شي چه هر مسلمان له ترینه ځان خبرول پکار دي.

## ۱- اوله قاعده: آدابِ دعا:

۱- د حرام خوراك او لباس نه خامخا ځان ساتل، ځکه چه د حرام خور دعا او عبادت نه قبلیږي.

۲- په اخلاص سره دعا غوښتل.

۳- د دعا کولو نه مخکښې څه صدقه ورکول دا یو بهتر عمل دے.

٤- که اوداسه سره دعا اوشي نو ښه به قبوله شي.

٥- قبلے ته مخامخ کیناستل.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦ - د دعا د شروع نه مخکښې د الله تعالی حمدونه او صفتونه کول او په اوّل او په آخر د دُعا کښې په رسول الله ﷺ درود وئیل.

٧- د دعا په آخر کښې "آمین" وئیل.

٨- نهایت عاجزئ سره دعا غوښتل چه زړه پکښې غافل نه وی بلکه توجه ئے وی.

٩- په خپله دعا کښې الله تعالی ته ژړل.

١٠- الله تعالی ته د هغهٔ اسماءِ حُسنیٰ او صفات وسیله کولو سره دعا کول لکه: یا غفور یا رحمن، یا سلام، یا غنی - یا نور صفات شو د الله.

١١- په دعا کښې هغه الفاظ خصوصی استعمالول کوم چه متضمن دی اسم اعظم د الله لره، دارنګ هغه الفاظ استعمالول کوم چه د نبی علیه السلام نه نقل دی.

١٢- دعا په یقین سره غوښتل ضروری دی.

١٣- رغبت او شوق سره دعا کول پکار دی.

١٤- د یو حاجت دپاره بار بار دعا کول او نا امیدی نه اختیارول.

١٥- یو دعا درے ځل مکرر لوستل پکار دی، مثلا: رَبَّنَا اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا، رَبَّنَا اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا، رَبَّنَا اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا.

١٦- په دعا کښې جلد بازی (جلتی) ندی کول پکار، چه دا اُووائی چه ډیر دعا ګانے مے اوکړے او قبولے نشوے نو دعا پریدی داسے به نکوی. ددے آدابو دلائل احادیثو کښې شته مونږ د اختصار په وجه پریښودل.

## ٢ - دویمه قاعده: آدابِ ذکر:

د الله تعالی د ذکر او یاد دپاره په تعظیم او احترام سره کیناستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکار دی.

۲- د ذکر په معنی او مفهوم ځان پوهول پکار دي، ځکه ذکر تاثیر هله کوي چه انسان ئې په مطلب باندې پو هیږي.

۳- خوله د هرې ګندګۍ نه پاکول پکار دي په وینځلو او په مسواك وهلو سره.

٤- په ډیرې عاجزۍ، زارۍ، سکون، اطمینان او د زړه په پوره توجه سره ذکر کول پکار دي.

٥- د الله تعالی ذکر په پټه سره، په زړه اوژبه دواړو سره کول پکار دي.

٦- د ذکر په وخت کښې د الله تعالی یَره او هیبت زړه کښې راوستل پکار دي ځکه د ذکر تاثیر پغیر د دې حالت نه نشی راتلې، دې باره کښې قرآن کریم کښې ارشاد دې:

"او یاده وه رب خپل! خپل ځان سره په عاجزۍ او په یره سره او دیر ښکاره ذکر مه کوه، او الله صبا او بیګاه یاد وه او غافل کیږه مه"

(اعراف پ ۹/آیت ۲۰۵)

او دا تجربه ده چه کله ذکر ته کینې نو دا آیت راياد کړه نو ذکر به مؤثر وي.

۷- د ذکر په وخت کښې بې ضرورته خبرې نۀ دي کول پکار ځکه خبرې کول د ذکر تاثیر ختموي.

۸- ذکر الهی کښې د چا نه اجازت اخستل یا وظیفه اخستل څه ضروري خبره نده بلکه کوم ذکرونه او دعاګانې چه په صحیح احادیثو کښې راغلي وي هغه لوستل پکار دي. د نبي علیه السلام اجازت مونږ له کافي دې.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳ - دریمه قاعده :**

کومے دعاگانے چه د موقع او وخت سره تعلق لری نو هغه د خپل وخت نه علاوه بل ځائے کښے لوستل پکارندی لکه مثلا : د مسجد دعا : اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ ، د خوراك په وخت نشی لوستلے،

دارنګ د خوراك دعا په بيت الخلاء کښے نشی لوستلے او نه بيت الخلاء ته د ننوتلو په وخت کښے دعا د خوراك په وخت کښے لوستلے شی بلکه د هغے دپاره خاص ځایونه نبی علیه السلام مقرّر کړیدی د هغه ځایونونه سوا بل ځائے کښے ئے لوستل فائده مند نه دی.

**٤- خلورمه قاعده :**

کوم ذکرونه او دعاګانے چه په یوه موقع ډیرے راغلے وی نو په بعض ځایونو کښے که دغه ټول انسان اولولی نو بهتره خبره ده لکه د صبا او بیګاه ذکرونه شول او یا د اوده کیدو په وخت دعاګانے شوے،

دارنګ د مسجد د راتلو، د خوراك نه پس، په سجده کښے ډیر ذکرونه او د التحیات په آخر کښے مختلفے دعاګانے لوستل بهتره خبره ده او که ټولے انسان نشی لوستے نو بعضِ دِے لولی، کم از کم یوه خو ضرور لوستل پکار دی۔

او بعض ځایونه داسے دی چه ډیرے دعاګانے پکښے راغلے وی لیکن هغه به په یو ځل ټولے نه لولی بلکه کله به یوه او کله به بله دعاګانے راغلے دی، دارنګ د الله اکبر نه روسته د : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ - په ځائے ډیرے دعاګانے راغلے دی، دارنګ د رکوع په وخت او د التحیات الفاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مختلف راغلي دي، نو کله به يوه لولي او کله به بله، تولي به نه راجمع کوي.

## ۵ - پنځمه قاعده :

د کومو دعاګانو چه وخت مقرر دې، د هغې نه ئې مخکښې يا روسته لوستل ندي پکار، لکه بيت الخلاء ته د داخليدو دعا انسان هغه وخت کښې اووائي چه کله فارغ شي د بولو نه نو دا فائده منه نده بلکه بيت الخلاء ته د داخليدو نه مخکښې به ئې وائي.

## ۶- شپږمه قاعده :

د صبا او بيګاه ذکرونه به د صبا د راختلو نه پس تر نمرخاته پورې او د مازيګر نه تر ماښام پورې کولې شي لکه دا د قرآن کريم د آيتونو نه معلوميږي ( الوابل الصيب ص ۹۰).

ليکن که په بعضو دعاګانو کښې ورسره دا قيد وي چه د ماښام د مانځه نه روسته به دا فلانۍ دعا لوستې شي نو بيا د هغې رعايت په هُمغه وخت پکار دې.

## ۷- اوومه قاعده :

قرآن کريم کښې الله تعالى د مومنانو په صفت کښې فرمائيلي دي :

﴿وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾.

[سورة الاحزاب پ۲۲/ آيت ۳۵]

ترجمه : د الله تعالى ذکر کونکي سړي او ذکر کونکي زنانه، الله تعالى تيار کړې دوئ له ښښنه او لوئي ثواب.

علماء کرام فرمائي : څوك چه د قرآن کريم تلاوت کوي او د مقام

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او موقع ذکرونه په پابندۍ سره لولي نو هغوئ به خامخا پدې ذاکرینو د الله کښې داخل شي لیکن دا ورسره لازم ده چه دا ذکرونه په توجه او په معنٰی پوهیدو سره لولي .

## ۸ - اتمه قاعده :

ذکر په درې قسمه دے (۱)- صرف قلبي (۲)- صرف لساني، (۳) - قلبي او لساني دواړه . اول ذکر قلبي یعني صرف په زړهٔ سره الله تعالی یادول او دیته فکر هم وائي . دویم ذکر لساني یعني الله تعالی صرف په ژبه یادول، سَره د غفلت د زړهٔ نه، او دریم ذکر قلبي او لساني دواړه جمع کول .

علماء کرام فرمائي چه دا دریم قسم ذکر ډیر فائده مند دے او اوّل قسم هم فائده لري، او دویم قسم دا هم د هسے کیناستو نه غوره دے لیکن په ذکر باندے چه د کومو انعامونو وعده ده نو ددے خبرے یَره ده چه دغه انعامات به دِې شخص ته ملاؤ نشي، دا وجه ده چه علماء کرام فرمائي : د هر عبادت د الفاظو معني زده کول ضروري دي چه توجه پکښې پیدا شي .

لیکن دا خبره قابلِ لحاظ ده چه کومے دعاګانے د موقع او مقام سره تعلق لري هغه په زړهٔ کښې وئیل او په خوله ئے نه وئیل سراسر خطائي ده لکه مثلا :

په زړهٔ کښې یو انسان الحمد لله (په مانځه کښې) وائي نو مونځ ئے نهٔ کیږي .

## ۹ - نهمه قاعده :

ذکر یو مُهم او ډیر ضروري عبادت دے، چه د انسان ددے نه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصے نشته کوم انسان چه د ذکر نه غافل شه، نو دده په تباهۍ کښې هیڅ شك نشته مګر که د خپل غفلت نه الله تعالی ته توبه اوباسی، هرکله چه ذکر عبادت دے نو دا قاعده ده علماء فرمائی چه بناء د عباداتو په نقل ده د رسول الله ﷺ نه، یعنی کوم عبادت یا ذکر او دعا چه د رسول الله ﷺ نه په صحیح سند سره ثابت نه وی نو هغه هیڅ کله عبادت نشی جوړیدے بلکه اُلټه به الله تعالی دِے شخص ته دردناك عذاب ورکړی، نو کوم پیران چه پدے وخت کښې خلقو له دا وظیفه ورکوی چه: هُوْ، هُوْ، دومره ځله لولئ یا: اللهُ، اللهُ، اللهُ یا: اَللّٰاهُوْ، اَللّٰاهُوْ، دومره ځله لولئ - نو تاسو ترے تپوس اوکړئ چه آیا دا ددین په کوم کتاب کښې راغلے دے؟ آیا دا په قرآن کښې یا په حدیث کښې شته؟ یو ضعیف حدیث خو راوړئ!

نو هر کله چه دا نشته او رسول الله ﷺ امت ته دا نهٔ دے خودلے نو ددے لوستل جائز نشو بلکه ددے الفاظو معنی او مطلب هم نشته، د - هُوْ، هُوْ یا د - اَللّٰهُوْ، اَللّٰهُوْ څه معنی ده؟ او ستا پدے الفاظو لوستلو څه مطلب دے؟

حدیث د مسلم کښې راځی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: «د خیر هر کار ما تاسو ته خودلے دے او د شر د هر کار نه ما تاسو منع کړی یئ» نو که دغه د خیر کار وے نو مونږ ته به ئے خامخا تلقین راکړے وے. او نبی علیه السلام فرمائی چه بهتر ذکر: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دے او بهتر ذکر چه ما او نورو پیغمبرانو وئیلے:

لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ - دے.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فرمائیلي ئې دي: څلور خبرې الله تعالی ته ډیرې خوښې دي:

سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَر. (مسلم)

او رسول الله ﷺ فرمائي: دغه مذکوره کلمات ما ته د ټول هغه څه نه زیات خوښ دي په کوم په شي چه نمر راختلی دې. دارنګ حدیث د بخاري کښې راځي رسول الله ﷺ فرمائي: دوه کلمې دي چه په ژبه آسانې دي او په تله کښې درنې دي او الله پاك ته خوښې دي:

سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ.

(البخاري رقم الحديث: (٦٦٨٢) و (٧٥٦٣)

او رسول الله ﷺ فرمائي: آیا عاجز دې یو کس پتاسو کښې د دې نه چه هره ورځ زر نیکۍ اوکړي، یو صحابي ﷺ عرض اوکړو: څرنګ به یو کس څمونږ نه زر نیکۍ اوکړي؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چا چه سل کرته سبحان الله اووئیله نو زر نیکۍ به ورله اولیکلې شي او زر ګناهو نه به ترې اورژیږي.

[صحیح البخاري رقم الحدیث: ۷۰۲۷)]

دارنګ سید الاستغفار به روسته ذکر شي چه هغه ډیر بهتر استغفار دې او رسول الله ﷺ به هره ورځ اویا (۷۰) او سل (۱۰۰) ځله استغفار کولو او امت ته ئې هم پدې استغفار سره حکم فرمائیلې دې.

**الغرض**: ټول احادیث ددې قسم ذکرونو او دعاګانو نه ډك دي چه یو انسان دا نه وائي، اعراض ترې کوي او هو، هو پسې لګیدلې دې چه د سره ئې دین کښې چرته ثبوت نشته دا جاهل او نادان انسان دې، پدې باب کښې د زیات احتیاط نه کار اخستل پکار دي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداری په هر څه کښې پکار ده، خصوصاً عباداتو کښې.

## د صبا او بېګاه ذکرونه او دعاګانې

(۱) - اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ خَلَقْتَنِیْ وَاَنَا عَبْدُكَ وَاَنَا عَلٰی عَهْدِكَ وَ وَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، اَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَیَّ وَاَبُوْءُ لَكَ بِذَنْبِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَاِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ.

[بخاری - ۹۳۳/۲، احمد رقم: ۱۷۱۷۱]

ترجمه: اے الله! ته څما رب ئے ستا نه سِوا بل لائق د عبادت نشته، تا زه پیدا کړے یم او زه ستا بنده یم او زه ستا په وعده باندے مضبوط یم څو پورے چه زما وَس وی، زه پناه غواړم پتا د شر د عمل زما نه، زه اقرار کوم ستا په نعمتونو په ما باندے او زه د خپلو ګناهونو اقرار ستا دپاره کوم، پس بخښنه اوکړے ما ته زما د ګناهونو، ځکه نشته بخښونکے د ګناهونو سِوا ستا نه.

**فائده**: حدیث شریف کښې راځی چا چه سحر دا استغفار په یقین سره اولوستلو او پدے ورځ مړ شو نو دا به ضرور جنت ته ځی او چا چه ماښام اولوستلو او د شپے مړ شو نو ضرور به جنت ته ځی او دے دعا ته سید الاستغفار وائی.

(۲) - اَصْبَحْنَا وَاَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ
عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۔ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِ هٰذِهِ
اللَّيْلَةِ وَخَيْرِ مَا فِيْهَا وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا
اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَسُوْءِ الْكِبَرِ
وَفِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ .

ترجمه : مونږ صبا کړو او صبا کړو بادشاهۍ الله تعالی لره او شکر دے الله لره او نشته لائق د بندګۍ سوا د الله نه، يو ذات دے، شريك نه لری، ده لره بادشاهی او ده له ثناء ده او دا په هر څه قادر دے . اے الله ! زه سوال کوم ستا نه د خير د دے شپے او د خير د هغه څه چه پدے کښے دی او پناه غواړم پتا د شر د دے شپے او د شر د هغه څه نه چه پدیکښے دی . اے الله ! زه پناه غواړم پتا د سُستۍ او دَبد بوډا والی او د فتنے د دنيا او د عذاب د قبر نه .

فائده : دغه دعا د سحر وخت کښے لوستلے شی او د مازيګر په وخت کښے به د : اَصْبَحْنَا وَاَصْبَحَ الْمُلْكُ - پځائے : اَمْسَيْنَا وَاَمْسَى الْمُلْكُ- وائی . ( مسلم ٢/٢٥٠ )

(مونږ بيګاه کړو او بيګاه کړه بادشاهۍ)

(٣) - اَللّٰهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيْكَهٗ ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَنْتَ، اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِىْ وَشَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهٖ.

[ترمذی ۳/۱۴۲ - ابوداود ۳/۲۵۵ - بسند صحیح]

ترجمه: ای الله ! چه عالم ئې په پټ او ښکاره، پیداکونکی د اسمانونو او د زمکې ئې، پالونکی د هر څه او بادشاه (د هر څه) ئې، زه ګواهي کوم چه نشته لائق د بندګۍ سوا ستا نه، پناه غواړم پتا د شر د نفس خپل، او د شر د شیطان او د شرك د هغه نه.

فائده: ابوبکر صدیق رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته درخواست اوکړو چه ما ته د سحر او د مابنام څه خاص ذکر اوښایه نو رسول الله ﷺ هغه ته دا ذکر اوخودلو او وې فرمائیل چه دا سحر، مابنام او اوده کیدو وخت کښې وایه !.

(٤) - بِسْمِ اللهِ الَّذِىْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَىْءٌ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِى السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ط.

[ابوداود رقم الحدیث : ۵۰۹۰، الترمذی : ۳۳۸۸ واسناده صحیح]

ترجمه: په نوم د الله، هغه ذات، چه ضرر نه ورکوی د هغه د نوم سره هیڅ شے نه په زمکه کښې او نه په آسمان کښې او هغه اوریدونکے او پوهه (ذات) دے.

فائده: څوك چه دا دعا درې ځله سحر او درې ځله مابنام اولولی نو هیڅ قسم ناخاپی مصیبت او مرض به ورته اُونهٔ رسیږی په دغه ورځ او په دغه شپه).

(٥) - اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ اَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَيْكَ النُّشُوْرُ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ ابو داود رقم : ٥٠٧٠، الترمذی رقم : ٣٣٩١، البزار رقم : ٧٥٥، ابن حبان ٣/ ٢٤٥- رقم ٩٦٤، الادب المفرد رقم : ١١٩٩، اسناد صحيح]

**ترجمه** : اے الله ! ستا په قدرت مونږ سحر کړو او ستا په قدرت مونږ بیګاه کړو او ستا په قدرت مونږ ژوند تیروو او ستا په علم او قدرت به مړه کیږو او ستا طرف ته درتلل دی .

**فائده** : حدیث کښې راځی چه رسول الله ﷺ به صحابه کرامو ته ددے دعا تعلیم ورکولو او حکم به ئے کولو په وئیلو د دے دعا باندے لیکن دغه مذکور الفاظ د سحر دی، بیګاه کښې به داسے الفاظ وائی :

**(٦) - اَللّٰهُمَّ بِكَ اَمْسَيْنَا وَبِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَ اِلَيْكَ الْمَصِيْرُ .**

[الترمذی رقم الحدیث : ٣٣٩١، ابو داود رقم : ٥٠٧٠، حدیث صحیح]

**ترجمه** : اے الله ! مونږ ستا په قدرت بیګاه کړو او ستا په قدرت مو صبا کړو او ستا په قدرت مونږ ژوند تیروو او ستا په قدرت به مړه کیږو او تا ته طرفته زمونږ در واپس کیدل .

**(٧) - لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.**

[بخاری ١/ ٤٦٥ - ابو داود ٣/ ٩٥٧ - ابن ماجه ٢/ ٣٨٦٧ ]

**ترجمه** : د الله نه سوا بل حقدار د عبادت نشته، يو ذات دے، شریك نه لری، ده لره بادشاهی ده، او ده لره ثناء ده او دا په هر څه قادر دے .

**فائده** : حدیث شریف کښې راځی " کوم سړی چه دا کلمه يو ځل

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر اولوستله نو دیو عربي غلام آزادولو ثواب ئے اوشو او لس نیکئ به ده له اولیکلے شي او لس گناهونه به ئے معاف شي او لس درجے به ئے اُوچتے شي او بیگاه پورے به د شیطان نه محفوظ وي''۔

دارنگ که چا ماښام اولوستله نو دا انعامات به ورته ملاویږي.

حدیث د بخاري او مسلم کښے دا کلمه سل (۱۰۰) ځله لوستل هم راغلي دي۔ دارنگ لس (۱۰) ځله لوستل ئے هم راغلي دي او ثوابونه ئے ددے نه زیات دي.

(۸) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الْعَافِیَةَ فِی الدُّنْیَا وَ الْآخِرَةِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِیَةَ فِیْ دِیْنِیْ وَدُنْیَایَ وَاَهْلِیْ وَمَالِیْ، اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِیْ وَآمِنْ رَوْعَاتِیْ، اَللّٰهُمَّ احْفَظْنِیْ مِنْ بَیْنِ یَدَیَّ وَمِنْ خَلْفِیْ وَعَنْ یَمِیْنِیْ وَعَنْ شِمَالِیْ وَمِنْ فَوْقِیْ، وَاَعُوْذُ بِعَظَمَتِكَ اَنْ اُغْتَالَ مِنْ تَحْتِیْ.

[سنده صحیح : ابوداود ۳/۹۵۷ رقم الحدیث : ۵۰۷٦۔ مسند احمد : ٤٧٨٥، وابن ماجه : ۳۸۷۱ وابن حبان ج ۳/ ۲٤۱ رقم ۹٦۱]

**ترجمه :** اے الله ! زه ستا نه عافیّت (روغتیا) غوارم په دنیا او آخرت کښے . اے الله ! زه ستا نه د معافئ او عافیّت سوال کوم په دین او دنیا او اهل او مال زما کښے . اے الله ! ځما عیبونه پټ کړے او ځما یرے په امن (بدلے) کړے . اے الله ! ځما حفاظت اوکړے د مخکښے او روسته نه او د ښي او د گس طرف نه او د برے نه او پناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوارم ستا په لویې د دے نه چه د لاندے نه هلاك شم .

**فائده** : دا دعا به رسول الله ﷺ صبا او بیگاه ضرور لوستله په ډیر اهتمام سره ځکه دا دعا ډیره جامعه ده د ډیرو فوائدو .

(۹) — يَا حَيُّ يَاقَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِيْثُ وَاَصْلِحْ لِيْ شَانِيْ كُلَّهُ وَلَا تَكِلْنِيْ اِلٰى نَفْسِيْ طَرْفَةَ عَيْنٍ اَبَدًا .

[الحاكم ۱/۵٤٥ ـ الصحيحة رقم ۲۲۷ ، ابن السنى رقم ٤۸]

**ترجمه** : اے ژوندے او تدبیر کونکے ذات ! ستا په رحمت ( ستا نه) سوال کوم او ځما حالت ټول برابر کړے او ما هیچرے خپل ځان ته مه سپاره په انداز د رَپ د سترگے .

**فائده** : رسول الله ﷺ فاطمے رضی الله عنها ته فرمائیلی وو چه دا ځما نه خامخا واوره او سحر ، مابنام ئے وایه .

(۱۰) — اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا طَيِّبًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا .

[ابن ماجه رقم ۷۵۳ حدیث صحیح ، البانی فی الروض النضیر ۱۱۹۹]

**ترجمه** : اے الله ! زه له تا نه فائده مند علم او حلال رزق او قبول شوے عمل غوارم .

**فائده** : دا دعا به صرف د سحر مانځه نه پس وائی ، مابنام ئے ونیل نشته .

(۱۱) — حَسْبِيَ اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ابو داود ۳/ ۵۰۸۱، ابن السنی رقم ۷۱ـ بسند حسن : المنذری فی الترغیب ۱/ ۳۰۷، وضعفه الالبانی، وجاء موقوفا علی ابی الدرداء باسناد جید : ابن باز]

ترجمه : پوره دے ما لره الله، د هغه نه سوا بل څوك د بندګئ حقدار نشته په هغه ما توکل کړے او هغه د لوئی عرش مالك دے.

فائده : کوم کس چه دا آیت اووه ځله صبا او اووه ځله بیګاه اولوستو نو الله پاك به د ده د دنیا او آخرت د غمونو نه کافی شی.

## (۱۲) ـ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ.

[مسلم ۲/ ۳۵۱]

ترجمه : پاکی ده الله لره سره د ثناء د هغه نه.

فائده : حدیث کښے راځی : چا چه سحر ماښام دا ذکر سل ځله اولوستلو نو د قیامت په ورځ به هیڅوك هم دده نه غوره نه وی مګر هغه څوك چه دده نه ئے زیات لوستلے وی.

## (۱۳) ـ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَاخَلَقَ.

[مسلم ۲/ ۳٤۷، ابن السنی رقم ۵۲۸]

ترجمه : پناه غواړم د الله تعالی په کلمو چه مکمل دی، د شر د مخلوق د هغه نه.

فائده : حدیث کښے راځی : چا چه دا کلمات بیګاه کښے درے ځله اولوستل نو هیڅ ځیز به ورته ضرر ورنکړی. دا دعا به صرف بیګاه کښے لولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱٤) - قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ، قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ .

[ابوداود ۳/۹۵۷-الترمذی رقم ۳۸۲۸-بسند حسن]

ترجمه : حدیث شریف کښې راځي : چا چه دا درې سورتونه سحر او ماښام درې درې ځله اولوستل نو د هر څه نه به ئې کافي شي .

(۱۵) - سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِهٖ وَرِضَا نَفْسِهٖ وَزِنَةَ عَرْشِهٖ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ .

[مسلم ۲/۳۵۰- رقم : ۷۰۸۸، ابوداود ۱۵۰۵]

ترجمه : پاکي ده الله تعالى لره سره د ثناء د هغه نه، په اندازه د مخلوقاتو د هغه او په اندازه د رضا د نفس د هغه او په اندازه د وزن د عرش د هغه او په اندازه د سیاهی د خبرو د الله تعالى .

فائده : جُوَيرِيه رضی الله عنها د سحر مونځ اوکړو، بیا په خپله مصلی باندې ناسته وه چه رسول اکرم ﷺ د ډیر وخت نه پس راغې، دغه بی بۍ ئې چه پدې حالت کښې اولیده نو دا ذکر ئې ورته ارشاد اوفرمائیلو، دا ذکر به صرف سحر درې کرته وئیلې شي .

(۱۶)- لس (۱۰) ځله سحر او لس (۱۰) ځله بیګاه کښې درود وئیل .

حدیث کښې راځي : څوك چه لس (۱۰) ځله په ما سحر او لس (۱۰) ځله بیګاه کښې درود اولولي نو د قیامت په ورځ زما شفاعت به دۀ لره لاندې کړي . [صحیح الجامع رقم ٦٣٥٧ - بسند حسن،

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



والترغيب والترهيب للمنذري)۔

(۱۷) - رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا.

[ابوداود رقم: ۱۵۳۱، ابن ماجه: ۳۸۷۰، مسند احمد رقم: ۱۸۹۸۸، سلسلة الاحاديث الصحيحة ج ۶/۴۲۱ رقم ۲۶۸۶)

ترجمه: زه راضی یم د الله په رب کیدو باندې او د اسلام په دین کیدو باندې او د محمد ﷺ په نبی کیدو باندې.

فائده: په بعض روایتونو کښې ددې ذکر درې ځله لوستل بیان شویدی لکه مسند احمد کښې لیکن هغه د سند په لحاظ سره ضعیف دې، صحیح دا ده چه یو ځل اولوستې شی.

حدیث کښې راغلی دی: څوک چه دغه دعا صبا او بیګاه اولولی په الله باندې دا ذمه ده چه د قیامت په ورځ به دغه انسان راضی کوی.

په یو بل روایت کښې راغلی: نبی ﷺ فرمائی: چا چه دا ذکر صبا کښې اولوستلو، زۀ ذمه واریم چه دا به د لاس نه نیسم او جنت ته به ئې داخلوم. او په یو بل روایت کښې دی چه جنت به ورله واجب شی۔ السلسلة الصحيحة ۶/۴۲۱ رقم- ۲۶۸۶- ۳۳۴. وصححه الحاكم ۱/۵۱۸ ووافقه الذهبي)

(۱۸) - اَللّٰهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ بَدَنِيْ، اَللّٰهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ سَمْعِيْ، اَللّٰهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ بَصَرِيْ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ.

(درې (۳) کرته سهار مابنام)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ابوداود رقم ۵۰۹۰، باسناد حسن، الالبانی]

ترجمه: اے الله! ما تـه زما په بدن کښې عافيت راکړه، اے الله! ما ته زما په غوږ کښې عافيت (روغوالے) راکړه، اے الله! ما زما په نظر کښې عافيت راکړه۔

(۱۹) - أَمْسَيْنَا وَاَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ، وَسُوْءِ الْكِبَرِ وَفِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَعذَابِ النَّارِ. (ابن السنی رقم: ۳۶ص ۲۱)

ترجمه: مونږ او ټولے بادشاهئ الله دپاره بیګاه کړو او ټول ثناء او صفت خاص الله دپاره دے، او نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه، هغه ایکی یواځے دے، د هغهٔ هیڅوك شریك نشته، اے الله! زهٔ پناه غواړم په تا سره د بزدلئ او د کنجوسئ او د بوډاوالی نه او د دنیا د فتنو نه او د عذاب د قبر نه او د عذاب د اُور نه۔

**فائده**: د اُووه (۷) غټو فتنو نه د بچ کیدو دعاء ده، کوم چه حدیث کښې ذکر دی۔

## د صبا په وخت ذکر

(۲۱) - اَصْبَحْنَا عَلٰى فِطْرَةِ الْاِسْلَامِ، وَكَلِمَةِ الْاِخْلَاصِ، وَدِيْنِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ وَمِلَّةِ اَبِيْنَا اِبْرَاهِيْمَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ .

[احمد (۳/۶، ۴۰۶، ۴۰۷) والدارمی (۲/ ۲۰۲) رقم (۲۶۹۱) وصحح فی صحیح الجامع [۴۶۷۴]

ترجمه: مونږ د اسلام په فطرت او د اخلاص (توحید) په کلمه او د خپل نبی محمد صلی الله علیه وسلم په دین باندے او د خپل پلار ابراهیم علیه السلام په ملت باندے صبا کړو، هغه کلك وو په توحید باندے او فرمانبردار وو د الله تعالی - او نه وو د مشرکانو د ډلے نه.

فائده: دا د صحیح فطرت حاصلولو دعا ده.

## د اوده کیدو ذکرونه او دعاګانے

(۱) - اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا .

[بخاری ۲/ ۹۳۴ - مسلم ۲/ ۳۴۸]

ترجمه: اے الله! زه ستا په نوم مړ کیږم او ژوندے کیږم".

(۲) - اَللّٰهُمَّ اَسْلَمْتُ نَفْسِىْ اِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِىْ اِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ اَمْرِىْ اِلَيْكَ وَاَلْجَأْتُ ظَهْرِىْ اِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً اِلَيْكَ، لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَأَ مِنْكَ اِلَّا اِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِىْ اَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِىْ اَرْسَلْتَ .

[بخاری ۲/ ۹۳۴ - مسلم ۲/ ۳۴۸]

ترجمه: اے الله! ما خپل ځان تا ته اوسپارلو او متوجه مے کړو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ خپل تا ته او اوږې سپارلو کار خپل تا ته او تکیه مې کړه شا خپله تا ته، د وجې د رغبت او ویرې نه تا ته، نشته ځائې د پناهئ او نه ځائې د خلاصئ مګر تا ته، ایمان مې راوړې ستا په رالیږلی کتاب او ستا په رالیږی پیغمبر (ﷺ) باندې.

**فائده**: رسول الله ﷺ فرمائی: کله چه ته د اوده کیدو اراده اوکړې نو مخکښې اودس اوکړه او بیا په ښی طرف څمله او دا دعا اووایه! که ته پدې شپه مړ شوې نو په اسلام به مړ شې او که سحر راپاسیدې نو خیر ته به اورسیږې.

(۳) – بِاسْمِكَ رَبِّیْ وَضَعْتُ جَنْبِیْ وَبِكَ اَرْفَعُهٗ اِنْ اَمْسَكْتَ نَفْسِیْ فَارْحَمْهَا وَاِنْ اَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهٖ عِبَادَكَ الصَّالِحِیْنَ.

[بخاری ۲/۹۳۵ـ مسلم ۲/۳٤۹]

**ترجمه**: ستا په نوم مې کیښودو اړخ خپل اې ربه او ستا په نوم به ئې پورته کوم، که واخسته تا روح زما نو رحم اوکړه په هغې او که را پرې دِ خودو (روح ځما) نو حفاظت ئې اوکړه په هغه څه چه ته پرې د خپلو نیك بندګانو حفاظت کوې.

**فائده**: حدیث شریف کښې راځی، کله چه بسترې ته راشې، نو بستره اوڅنډه، تا ته پته نشته په بستره څه پراته دی، بیا به په ښی طرف څملې او دغه مذکوره دعا به اولولې!.

(٤) – اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِیَ لَهٗ وَلَا مُؤْوِیْ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

[مسلم : ۲/۳٤۹]

ترجمه: ثناء ده هغه الله لره چه خوراك سكاك ئے راكړو او كافي شو خمونږ. ډير داسے مخلوق شته، چه د هغه څوك كافي كيدونكے نشته او نه ئے پناه وركونكے شته.

فائده: دا هم د خوب دعا ده، يو ځل لوستل ئے پكار دی ددے سره بنده شكر گذار جوړيږی.

(٥) - سُبْحَانَ اللهِ ط (پاكی ده الله لره) درے ديرش (٣٣) ځله.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ط (ثنا ده الله لره) درے ديرش (٣٣) ځله. اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط (الله ډير لوئے دے) څلور ديرش (٣٤) ځله.

[بخاری ج ۲/ ۹۳۵، مسلم ج ۲/ ۳۵۱]

فائده: ديته تسبيحاتِ فاطمه رض وائی ځكه هغے د خپل والد رسول الله صلى الله عليه وسلم نه خادم غوښتلے وو نو هغوی د خادم په ځائے هغے ته دا تسبيحات اوخودل، ددے تسبيحاتو ډير فضائل احاديثو كښے راغلی دی، يو صحيح حديث كښے راغلی دی چه پدے زرنيكئ ملاويږی. دارنگه علماء فرمائی: ددے تسبيحاتو په پابندئ سره انسان ته الله تعالی يو خصوصی قوت او طاقت وركوی.

علی رضی الله عنه فرمائی: دا تسبيحات ما په جنگ صفين كښے هم نۀ دی پريخودی.

(٦) - اَللّٰهُمَّ قِنِیْ عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ

[صحيح: الترمذی ۳/ ۱٤۳ الكلم الطيب (۳۷، ۳۹) ابن حبان ۱۲/ ۳۳۱ رقم ۵۵۲۲]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: اے الله! ما د خپل عذاب نه اوساته په کومه ورځ چه ته بندګان دوباره ژوندی کوے.

فائده: دا ذکر به رسول الله ﷺ یو ځل لوستلو، کوم روایاتو کښې چه درے ځله راغلی نو هغه د سند په لحاظ سره ضعیف دی نو صحیح داده چه یو ځل به دغه دعا لوستلے شی.

(۷) - آيَةُ الْكُرْسِيُّ یو ځل لوستل

(البخاری ۱/۳۱۰، مسلم ۱/۲۷۱]

ترجمه: کوم کس چه آیه الکرسی د هر فرض مانځه نه پس او هره شپه د اوده کیدو په وخت لولی نو خامخا به جنت ته ځی لیکن د آیه الکرسی معنی زده کول هر مسلمان له پکار دی. دارنګ بیا په هغے یقین کول پکار دی او حدیث کښې راځی چا چه دا د شپے اولوستله نو شیطان به ورته نزدے نه راځی او یو ملائك به دده حفاظت له راځی.

بله خبره دا هم قابلِ توجّه ده چه آية الكُرسِیُ یو آیت دے تر: وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ پورے، بعضِ ناپوهه ورسره: لَا اِكْرَاهَ فِی الدِّیْنِ هم لولی دا خطائی ده.

(۸) - اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوَاتِ وَرَبَّ الْاَرْضِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَیْءٍ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوٰی، مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَالْفُرْقَانِ، اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَیْءٍ اَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهٖ اَنْتَ الْاَوَّلُ فَلَيْسَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قَبْلَكَ شَيْءٌ وَاَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَاَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْئٌ وَاَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُوْنَكَ شَيْئٌ، اِقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ وَاَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ .

[مسلم ۲/۳٤۸ - مسند احمد ۲/۳۸۱-٤۰٤-۵۳٦]

ترجمه : ای الله ! چه رب د آسمانونو او رب د زمکې او رب د هر شي ئې، ځونکې د دانې او د هډوکې ئې، رالیږونکې د تورات او د انجیل او د قرآن ئې، پناهي غواړم پتا د شر د هر ضرري څیز نه چه ته نیونکې د هغه د تندې ئې، ته اول ئې پس نشته مخکښې ستا نه هیڅ څیز او وروسته ( هم ) ته ئې پس نشته روسته ستا نه هیڅ شې او ته ښکاره ئې، پس نشته ستا دپاسه هیڅ شې او ته پټ ئې پس نشته دوا ستا نه هیڅ شې، ادا کړه ما نه قرض او غنی کړه ما د فقر ( غریبئ) نه .

فائده : دا دعا هم یو ځل لوستل پکار دی . ډیره بهتره او جامعه دعا ده .

(۹) - قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ، قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او - قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاس .

[بخاری ج ۲/۹۳۵ - ابوداود - ۵۰۵٦]

فائده : حدیث شریف کښې راځی، رسول الله ﷺ به چه کله اوده کیدونو دا درې سورتونه به ئې یو ځل لوستل، بیا به ئې په دواړو لاسونو کښې چف کړل او درې ځله به ئې لاسونه مبارك پخپل ټول بدن راخکل، ددې سورتونو معنی زده کول پکار دی چه انسان په

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



توجه سره لوستلو والا جوړ شي.

(۱۰) — آمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ

نه تر آخر د سورت پورې ) حديث كښې راځي چه كوم انسان چه
د سورت بقرې دا دوه آخرى آيتونه په شپه كښې اولولی نو ده ته
كافي شي يعنى د شر د شيطان او د شر د انسانانو نه او بعض وائي
چه كافي به شي د قيام الليل (تهجّدو) نه. على رضى الله عنه
فرمائي: ځما ګمان نه دې په يو انسان چه هغه عقل والا وي او بيا
دې دا آيتونه د شپې د اُودهٔ كيدو په وخت كښې نهٔ وائي.

(۱۱) — سُوْرَةُ بَنِیْ اِسْرَائِيْل او سورة الزُّمَر.

[ترمذی رقم ٣٦٤٦ ـ وسنده صحيح]

(۱۲) — آلم تَنْزِيْلُ السَّجْدَةِ او تَبَارَكَ الَّذِیْ.

[ترمذی رقم ٣٦٤٥]

(۱۳) — سُوْرَةُ الْكَافِرُوْن.

[ابوداود رقم ٥٠٥٥، ترمذی ٣٦٤٣ ـ وسنده صحيح]

(١٤) — بِاسْمِ اللهِ وَضَعْتُ جَنْبِیْ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ وَاخْسَئْ شَيْطَانِیْ وَفُكَّ رِهَانِیْ، وَاجْعَلْنِیْ فِی النَّدِیِّ الْاَعْلٰی.

[ابوداود: ٥٠٥٤، حديث صحيح]

ترجمه: د الله په نوم سره ما خپل اړخ كيخودو، اې الله! ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ګناهونه وبخښه او زما شیطان ما نه وشړه، او زما څټ زما د هرې ذمه وارۍ نه د خپلې وعدې مطابق خلاص کړه او ما په اُوچت مجلس والو کښې شامل کړه.

**فائده** : د شیطان د تختولو، د مغفرت دپاره او د عذاب نه د بچ کیدو بهتره دعاء ده.

(۱۵) - اَللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ وَاِلٰهُ كُلِّ شَيْءٍ، اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ وَحْدَكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ وَالْمَلَائِكَةُ يَشْهَدُوْنَ، اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهٖ وَاَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَقْتَرِفَ عَلٰى نَفْسِيْ سُوْءًا اَوْ اَجُرَّهٗ عَلٰى مُسْلِمٍ.

[مسند احمد ٦٨٥١، ومجمع الزوائد : ١٠/١٢٢ باسناد حسن] -

**ترجمه** : اے الله ! د زمکے او د آسمان پیدا کونکیه ! په پټ او ښکاره پوهیدونکیه، د هر څیز پالونکیه او د هر څیز د بندګۍ حقداره، زهٔ ګواهي کوم چه تا نه سوئ بل هیڅوك حقدار د بندګۍ نشته، تهٔ په ذات او صفاتو کښې ایکی یواځے ئے او محمد ﷺ ستا بنده او ستا رسول دے او ملائك هم ګواهي کوي. اے الله ! زهٔ په تا پورے پناه غواړم د شیطان نه او د هغهٔ د شرك نه او ددے خبرے نه چه په خپل نفس باندے څه ګناه اوکړم یا هغه د یو مسلمان اړخ ته راکاږم. (یعنی غلط نسبت ورته وکړم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده :** نبی علیه السلام ددے دعاء دومره اهتمام کړے وو چه دا
ئے ابوبکر صدیق ﷺ ته خودلے وه چه دا سهار او مابنام او کله چه
اُودهٔ کیږے وایه او بیا عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما
په یو کاغذ باندے لیکلے وه. پدے کښے ډیرے زیاتے فائدے دی.

(۱۷) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَفَانِیْ وَآوَانِیْ وَاَطْعَمَنِیْ وَسَقَانِیْ وَالَّذِیْ مَنَّ عَلَیَّ فَاَفْضَلَ، وَالَّذِیْ اَعْطَانِیْ فَاَجْزَلَ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ، اَللّٰهُمَّ رَبَّ کُلِّ شَیْءٍ وَمَلِیْکَهٗ وَاِلٰهَ کُلِّ شَیْءٍ، اَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ .

[ابوداود رقم : ۵۰۵۸، وشرح السنه : ۵/۱۰۶ - والنسائی فی عمل اليوم والليلة :۷۹۸ حدیث صحیح، البانی]

**ترجمه :** صفتونه د کمال خاص الله لره دی هغه ذات چه زما (د تولو کارونو) کفایت ئے وکړو او ما ته ئے ځائے راکړو او ما ته ئے خوراك او سكال راکړو. او هغه ذات چه په ما باندے ئے احسان وکړو او بهترین (احسان ئے) وکړو، او هغه ذات چه ما ته ئے راکړه او زیات ئے راکړه، الله تعالیٰ لره شکر دے په هر حال کښے، اے الله ! چه ته رب د هر شی ئے او مالك د هغے ئے، او حقدار د بندګئ د هر شی ئے، زهٔ په تا سره پناه غواړم د اُور نه.

**فائده :** کله چه د اُودهٔ کیدو اراده ئے وی نو د اړخ لګولو په حالت کښے دے دا دعا ووائی.

(۱۸) - اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ رَبِّیْ وَضَعْتُ جَنْبِیْ فَاغْفِرْ لِیْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذَنْبِي .

[ابن السنی: ٧١٤ – والنسائی فی عمل الیوم واللیلة: ٧٧٥]

ترجمه: اے الله! زما ربه ستا نوم اخستو سره خپل اړخ مے کیخودو نو ته زما ګناه معاف کړه۔

فائده: رسول الله ﷺ به چه کله د خوب دپاره اړخ اُولګولو نو دا دعاء به ئے اُولوسته۔

(۱۹) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ رُؤْيَا صَالِحَةً، صَادِقَةً غَيْرَ كَاذِبَةٍ، نَافِعَةً غَيْرَ ضَارَّةٍ .

[ابن السنی: ٧٤٣ صحیح موقوف علی عائشة]

ترجمه: اے الله! زهٔ ستا نه د نیك او د رشتینی خوب سوال کوم چه دروغ نهٔ وی، نفع ورکونکے وی، ضرر ورکونکے نهٔ وی۔

(۲۰) – اَللّٰهُمَّ خَلَقْتَ نَفْسِيْ، وَاَنْتَ تَوَفَّاهَا لَكَ مَمَاتُهَا وَمَحْيَاهَا ، اِنْ اَحْيَيْتَهَا فَاحْفَظْهَا، وَاِنْ اَمَتَّهَا فَاغْفِرْلَهَا، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الْعَافِيَةَ .

[مسلم: ٢/٣٤٨ رقم: ٧٠٦٣]

ترجمه: اے الله! تا زما نفس پیدا کړیدے، هم ته به دهٔ له مرګ راولے، ستا دپاره د هغهٔ مرګ او ژوند دے، که چرے هغه ته ژوندے اُوساتے نو د هغهٔ حفاظت وکړه او که چرے ته هغهٔ ته مرګ راولے نو هغه اُوبخښه۔ اے الله! زهٔ ستا نه د عافیت سوال کوم۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوب نه را بیدار یدلو دعاګانے

(۱) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ

[بخاری ۲/۹۳٤، مسلم ۲/۳٤۸]

**ترجمه:** شکر دے هغه الله لره چه را ژوندی ئے کړو مونږه پس د مرګ (یعنی خوب) څمونږ نه او هغه طرفته زمونږ ورپورته کیدل دی.

(۲)- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَافَانِیْ فِیْ جَسَدِیْ وَرَدَّ عَلَیَّ رُوْحِیْ وَاَذِنَ لِیْ بِذِکْرِهٖ

[الترمذی : ۳٤۰۱، ابن السنی رقم ۹ـ بسند صحیح ـ الکلم الطیب (۳٤) ]

**ترجمه:** صفتونه دی هغه الله لره چه جوړے ئے کړو بدن څما او واپس ئے کړو روح ما ته او حکم ئے اوکړو ما ته د خپل ذکر.

**فائده:** کله چه انسان سحر راپاخیږی نو دا دا ګانے به وائی.

(۳)- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ رَدَّ اِلَیَّ نَفْسِیْ بَعْدَ مَوْتِهَا وَلَمْ یُمِتْهَا فِیْ مَنَامِهَا، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ یُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا وَلَئِنْ زَالَتَا اِنْ اَمْسَکَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِنْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَعْدِهٖ، اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ يُمْسِكُ السَّمَاءَ اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ.

[ابن السنی رقم ۱۲ الحاکم ۱/۵٤۸ المجمع ۱۰/۱۲۰ وسنده صحیح]

**ترجمه:** شکر دے هغه الله لره چه واپس ئے کړو ما ته روح خما پس د مرګ د هغه نه او وفات ئے نکړو په خوب کښې، ثنا ده هغه الله لره چه آسمانونه او زمکه ئے ټینګه کړیده د زائل کیدو نه او که د خپل ځائے نه زائل شي نو نه ئے شي راټینګولے هیڅوك پس د (زائل کولو) د الله نه، بیشکه الله دے صبرناك، بخښونکے. ثنا ده هغه الله لره چه آسمان ئے بند کړیدے ددے نه چه په زمکه راپریوځي مګر د الله په حکم، بیشکه الله دے په خلقو شفقت والا مهربان.

**فائده:** حدیث پاك کښې راځي چه کله انسان د خوب نه راپاځي نو ملائك او شیطان دواړه ورله په جلتئ سره راشي، شیطان ورته وائي ددے ورځے شروع په ګناه سره اوکړه ! او ملائك ورته وائي : په نیکئ سره شروع اوکړه نو که دا دعائے اولوستله او چرته د کټ نه پریوتو او مړ شو نو شهید به وی او که مونځ ته پاسیدو نو ددهٔ پاسیدل به فضیلت درفضیلت وی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شپې د بیداریدلو دعاګانې

(١) - لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ . اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ.

[بخاری ١/١٥٥ـ الترمذی ٣/١٤٦ـ ابوداود ٣/٩٦٤]

ددې الفاظو ترجمه تیره شویده

**فائده** :- حدیث کښې راځي څوك چه د شپې رابیدار شو او دا ذکر ئې اولوستلو او بیائې دعا اوکړه نو دعا به ئې خامخا قبلیږي او که اودس ئې اوکړو او بیائې ورسره مونځ اوکړو نو مونځ به ئې قبول شي، نو دا ډیره فائده منده دعا ده. یو بل حدیث کښې راځي: څوك چه په اوداسه کښې اوده شي او ذکر سره اوده شي نو د شپې هر وخت چه ده دعا اوکړه نو که د دنیا سوال وی او که د آخرت، الله پاك به ئې خامخا قبول کړي. (الترمذی بسند جیّد)

کله چه انسان تهجدو ته راپاسیږي نو د سوره العمران آخری آیتونه دِ اولولي د: اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ نه تر آخره پورې.

[بخاری ج ٢/٧ـ رقم: ٤٥٦٩، و ٦٢١٥، مشکاة ١/١٠٦]

(٢) - لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ، سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ ، وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ.

[بخاری رقم : ۱۱۵٤ ،مسند دارمی ۲/ ۲۰۲ رقم : ۲٦۹۰ الترمذی ج ۲/ ۱۷۸]

**فائده :** حدیث کښې راځي : څوك چه د شپې رابیدار شو او دا دعا ئې اولوستله او بیا ئې داسې اُوویل : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ (اې الله ﷺ ما ته بخنه اُوکړه) یا دعا وغواړي نو ددې انسان استجابت به اوشي یعنی ددهٔ دعاء به قبوله شي او که ادس او مونځ اُوکړي نو مونځ به ئې قبول شي۔ (بخاري)

**(۳) – لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ، رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَابَيْنَهُمَا الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ.**

[صحیح : السنن الکبری للنسائی رقم : ۱۰٦۳٤ ، ابن السنی:۷۵۷- النسائی فی عمل الیوم و اللیلة :۸٦٤ - صحیح الجامع :٤۵٦۹- کتاب الدعاء للطبرانی :۷٦٤]

**ترجمه :** نشته حقدار د بندګۍ سوئ د الله تعالیٰ نه، یواځې دې، زورور دې، رب د آسمانونو او د زمکې دې او د هغه څه چه د دوئ په مینځ کښې دي، غالب دې، بخښونکې دې۔

**فائده :** رسول الله ﷺ به چه کله د شپې راپاڅیدو نو دا دعا به ئې ولوسته۔ دا دعا د تهجدونه مخکښې لوستل پکار دي۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په خوب کښې د ېرېدلو دعا

(۱) - اَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهٖ وَعِقَابِهٖ وَمِنْ شَرِّ عِبَادِهٖ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَاَنْ يَّحْضُرُوْنِ.

[مسند احمد ۲/۱۸۱ـ ابوداود ۳۸۹۳ـ الترمذی رقم ۳۵۱۹ـ وسنده حسن لشواهده ۷۵۰ـ الصحيحة ۲٦٤]

**ترجمه:** پناه غواړم په کلمو د الله چه پوره دي د غضب د هغه نه او د عذاب د هغه نه او د شر د بندګانو د هغه نه او د وسوسو د شيطانانو نه او ددې نه چه راشي دوئ ما ته.

**فائده:** حديث شريف کښې راځي، يو سړے راغے او رسول الله ﷺ ته ئې شکايت اوکړو چه زه په خوب کښې ېرېږم نو هغوی ورته اوفرمائيل: کله چه ته خپلے بسترے ته راشے، نو دغه دعا وايه! هر کله چه دے سړی دغه دعا شروع کړه نو الله تعالی ترے هغه ېره ختمه کړه. (احمد) دغه شان يو بل سړی رسول اکرم ﷺ ته شکايت اوکړو چه زه په خوب کښې د ېرے ځيزونه وينم؟ نو نبی کريم ﷺ ورته دغه مذکوره دعا ارشاد اوفرمائيله. يو بل حديث کښې راځی چه کوم سړی له خوب نه ورځی نو دغه دعا دې لولی۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څوک چه د سرکش شیطانانو نه یریږي

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِىْ لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَبَرَأَ وَمِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيْهَا وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَأَ فِى الْأَرْضِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ إِلَّا طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ، يَا رَحْمٰنُ.

[ رواه احمد فی المسند :۴۱۹/۳ – المجمع: ۱۲۶/۱۰]

**ترجمه :** زۀ د الله په پوره کلمو سره پناه غواړم چه د هغې نه نۀ نیك تجاوز کولے شي او نۀ بد، د هغه څیزونو نه چه الله پیدا کړیدي او په زمکه کښې ئې خوارۀ کړیدي او د شر د هغه شي نه چه د آسمان نه نازلیږي او د شر د هغه څیزونو نه چه په زمکه کښې ئې پیدا کړیدي او د شر د هغه څه نه چه د زمکې نه راوځي او د شپې او د ورځې د فتنو د شر نه او د شر د هر راتلونکي نه سوئ د هغه راتلونکي نه چه په خیر سره راشي، اے بے حده رحم کونکیه !.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه انسان بد خوب أووینی

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ الشَّيْطَانِ

[البخاری ۲/۱۰٤۳ ـ ابوداود رقم ۵۰۲۰]

**ترجمه:** اے الله ! زه پناهی غواړم په تا د شر ددے خوب نه او د شر د شیطان نه او کله چه ته ښه خوب اووینے نو عالم یا خپل دوست ته ئے بیان کړه او د الله تعالی شکریه ادا کړه او بد خوب هیچا ته هم مه بیانوه !.

**فائده :** حدیث کښے راغی کچرته تا بد خوب اُولیدو نو کس طرفته درے ځله لاړے توکه او دغه دعا اُووایه ـ

## د جامو اغوستلو دعاګانے

(۱) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِهٖ وَخَيْرِ مَا هُوَ لَهٗ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهٖ وَشَرِّ مَا هُوَ لَهٗ .

[الترمذی رقم ۱۷٦۷ ـ مسند احمد ۳/۳۰ - ۵۰ وصححه ابن حبان رقم ۱٤٤۲ والحاکم ۱/۱۹۲ بسند صحیح]

**ترجمه:** اے الله ! زه تا نه غواړم خیر ددے جامے او هغه خیر چه دا جامه ورله جوړه ده او پناه غواړم پتا د شر د دے نه او د هغه شر نه چه دا جامه ورله جوړه ده .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فائده:** حدیث شریف کښې راځي رسول الله ﷺ به چه کله جامه اغوستله نو د هغې نوم به ئې واغسته چه مثلاً دا قمیص یا څادر یا پټکې دے، بیا به ئې دغه دعا اولوستله.

(۲) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ.

[ابو داود ۲/۴۰۲۳ - ابن ماجه ۳۲۸۵ - وسنده حسن]

**ترجمه:** صفتونه دی هغه الله لره چه واۓ غوسته ما ته دا جامه، او رائې کړه ما ته په غیر د طاقت ځما نه.

**فائده:** حدیث کښې راغلي دي چه کوم انسان جامه واغوستله او دا دعائې اولوستله نو الله تعالی به ئې ټول مخکني ګناهونه معاف کړي او یو روایت کښې ورسره دا هم شته چه روستني ګناهونه به ئې هم معاف شي، لیکن د هغې سند کمزورے دے.

(۳) - اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ کَسَوْتَنِیْهِ اَسْئَلُكَ مِنْ خَیْرِهٖ وَخَیْرِ مَا صُنِعَ لَهٗ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهٖ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهٗ.

[صحیح: ابو داود: ۴۰۲۰ - والترمذی: ۱۸۳۸ - المستدرك: ۷۴۸۵ - صحیح الجامع: ۴۵۴۰ - شعب الایمان: ۱۶۲۸۴ - الآداب للبیهقی: ۷۷۹، مسند ابی یعلی رقم: ۱۰۷۹ اسناده صحیح - حسین سلیم اسد]

**ترجمه:** اے الله! تا راته جامه واغوستوله پس تا لره شکر دے، زۀ تا نه د دے خیر غواړم او هغه خیر چه دا جامه ورله جوړه ده، او پناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـوارړم پـه تا سره د شر ددې نه او د هغه شر نه چه دا جامه ورله جوړه ده۔

**فائده :** د جامـو دا غـوسـتـو پـه وخت کښې ډیرې دعاګانې راغلې دي، هغه ټولې جمع کول افضل دي۔

## بل ته د جامو د مبارکۍ ورکولو دعا

(۱) - تُبْلِیْ وَ یُخْلِفُ اللّٰهُ تَعَالٰی .

[رواه ابوداود رقم - ٤٠٢٠ والترمذی رقم ١٨٣٨ - صحیح ]

**ترجمه:** زوړ که دا لباس او الله تعالی به بل (نوې) درکړي .

**فائده :** حدیث کښې راځي : کله به چه صحابه کرامو کښې چا نوې جامې واغوستې نو دا دعا به مونږ ورته کوله .

(۲) - اَبْلِ وَاَخْلِقْ .

[ابوداود ٤٠٢٤ ـ البخاری رقم ٥٨٢٣]

**ترجمه :** زوړه کړه، یا زړه ډې شي ( دا جامه ) پتا باندې .

**فائده :** حدیث کښې راغلي، رسول الله ﷺ یوې وړې جینۍ ته څـه جامـه ورکـړه او داسې الـفاظ ئې ورته اووئیل : [ اَبْلِیْ وَاَخْلِقِیْ ] لیکن د سړو دپاره دغه مذکور الفاظ دي .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) - اِلْبَسْ جَدِيْدًا وَعِشْ حَمِيْدًا وَمُتْ شَهِيْدًا .

[ابن ماجه رقم ۳۵۵۸ - ابن السنی رقم ۲٦۸ - احمد ۸۹/۲]

ترجمه: واغونده نوے او ژوند تیر کړه ستائیلے شوے او مړ شه شهید .

فائده: حدیث کښے راځی رسول الله ﷺ په عمر فاروق رضی الله عنه باندے سپین قمیص اولیدلو نو ورته ئے وفرمایل: جامه نوے ده که وینځل شوے ؟ هغهٔ اووئیل: وینځل شوے ده. په یو روایت کښے راځی: نوے ده، نو رسول الله ﷺ ورته دغه دعا اوفرمائیله. ددے نه معلومه شوه چه که چا نوے جامه یا وینځل شوے جامه اغوستے وه نو دغه مذکوره دعا باندے ورته مبارکی ورکول پکار دی.

## د جامے د ویستلو دعا

بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

[ابن السنی رقم ۲۷۳ - ارواء الغلیل ۵۰ صحیح لغیره]

ترجمه: په نوم د هغه الله چه د هغه نه سوا بل څوك د عبادت حقدار نشته .

فائده: حدیث کښے راځی: کله چه انسان د غسل دپاره جامه اوباسی نو دا دعا به وائی. لیکن علماء فرمائی: د خوب یا د متیازو کولو دپاره هم دا دعا لوستل شی ځکه په دے ټولو حالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کښې عورت ښکاره کيږي.

## بيت الخلاء ته د ننوتلو دعا

(۱) — بِسْمِ اللّٰهِ (ابن السنی رقم ۲۱، الارواء ۵۰)

ترجمه: (په نوم د الله تعالی شروع کوم)

فائده: حديث کښې راځی: د انسان د عورت او پيريانو د سترګو په مينځ کښې پرده بسم الله ده کله چه بيت الخلاء ته ننوځی.

(۲) — اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ.

[رواه البخاری ۱/۲۲٦ فی الوضوء باب مايقول عند الخلاء - ابوداود رقم ٤، ۵ - الترمذی رقم ۱۰۵]

ترجمه: زه پناه غواړم په تا د پليتئ او شيطانانو نه.

(۳) — اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ.

[ابوداود فی الطهارة رقم: ٤) مسند احمد ٤/۳٦۹، ۳۷۳ رقم: ۱۲۰۰۲) ابن ماجه رقم ۲۹۸]-

ترجمه: زه پناه غواړم په الله پورې د نارينه شيطانانو او د زنانه شيطانانو نه-

فائده: دا دعا لوستل هم جائز دی خو ړومبنئ غوره ده، ځکه چه هغه د صحيحينو په روايت کښې راغلې ده-

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بَيتُ الخَلاءِ نه د راوتو دعا

(۱) – غُفْرَانَكَ.

[احمد ٦/١٥٥ـ ابوداود رقم ٣٠ـ ابن ماجه رقم ٣٠٠ـ الحاكم ١/١٥٨]

**ترجمه :** (اے الله! زه تا نه د بخښنے سوال کوم).

**فائده :** دا حديث صحيح دے، رسول الله ﷺ به چه کله د بيت الخلاء نه راوتلو نو دغه دعا به ئے فرمائيله.

## د اوداسه دعاګانے

(۱) – بِسْمِ اللّٰهِ (شروع کوم په نامه د الله).

(ابن السنى ٢٧ـ البيهقى ١/٤٣ـ النسائى ١/٦١)

**فائده :** د اوداسه په شروع کښے صرف لفظ د بسم الله راغلے دے، پدے اکتفاء کول سنت دى، دلته خلقو نورے دعاګانے د ځان نه جوړے کړيدى چه د هغے نه ځان ساتل پکار دى.

(۲) – سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوبُ اِلَيْكَ.

[ابن السنى رقم ٣٠ـ الحاكم ١/٥٦٤]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه :** پاکی ده تا لره اے الله ! او صفتونه دی تا لره، زه گواهی کوم چه نشته سوا ستا نه بل څوك حقدار د عبادت، بخښنه غواړم ستا نه او توبه اوباسم تا ته.

**فائده :** دا دعا به د اودس نه فارغیدو په وخت وائی، حدیث کښې راځی : چا چه دا دعا اولوستله نو دا به په یو کاغذ کښې اولیکلے شی او هغه نه پرانستل کیږی مګر په ورځ د قیامت باندے یعنی ده لره به د هغے ثواب خامخا ورکیدے شی او پدے کښے اشاره ده دِے ته چه ددہ آخره خاتمه به ښه وی.

(٣) - اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِ يْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

[مسلم ١/١٢٢ ـ النسائی ١/٩٢ ـ الترمذی ١/٥٥]

**ترجمه :** زهٔ گواهی کوم چه د الله نه سِوا بل لائق دعبادت نشته او گواهی کوم د دے چه محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دے.

**فائده :** حدیث کښے راځی چا چه دا ذکر د اودس کولو نه پس اولوستو نو د جنت اته واړه دروازے به ورته پرانستل شی، په کومه دروازه چه دا غواړی داخل دِے شی. لیکن په روایت د ترمذی کښے ورسره دا الفاظ هم راغلی دی :

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ.

( ابن السنی رقم ٣٢)

**ترجمه :** اے الله مونږ اوگرځوے د توبه ویستونکو او پاکی خوښونکو نه.

او ددے سند هم صحیح دے، نو دا ورسره هم ملگرے کول پکار

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، البته بعض خلق دې روایت کښې د کوتې اوچتولو او آسمان ته د کتلو تذکره هم کوی، لیکن دغه چرته احادیثو کښې نشته دے، بلکه د کوتے اوچتول یو ضعیف روایت د ابوداؤد، ابن السنی او مسند احمد کښې راغلی دی، نو سنت ترے جوړول ندی پکار بلکه نۀ کول ئے غوره دی. په اوداسه کښې صرف دغه ذکرونه ثابت دی، باقی نور ټولے دعاګانے، ذکرونه او سورتو نه صحیح احادیثو کښې نشته، نو صرف دا لوستل پکار دی په نوروخان ستړے کول ندی پکار، البته یوه دعا بله ده:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ وَوَسِّعْ لِیْ فِیْ دَارِیْ وَبَارِكْ لِیْ فِیْ رِزْقِیْ.

(اے الله! ما ته زما ګناه معاف کړه او زما په کور کښې فراخی پیدا کړه او ما ته زما په رزق کښې برکت واچوه.

لیکن علماء وائی چه دا دعا صحیح ده خو د اودس نه ده بلکه عامه دعا ده. [ابن السنی رقم ۲۸ تمام المنة]

## کور ته د ننوتو دعا او ذکر

(۱) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَیْرَ الْمَوْلِجِ وَخَیْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَعَلَی اللهِ رَبَّنَا تَوَكَّلْنَا.

[ابوداود رقم: ۵۰۹۶، مشکوة: ۱/ ۲۱۵ وفیه انقطاع]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: اے الله ! زۀ تا نه بهترين ځائے د داخليدو غوارم او بهترين ځائے د وتلو۔ مونږ د الله په نوم سره ننوتو او د الله تعالیٰ په نوم سره بهر شو او مونږ په الله تعالیٰ باندے چه زمونږ رب دے توکل اُوکړو. (تول کارونه مو هغۀ ته وسپارل)

(۲) - حديث نبوی کښے راځی: اِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَذَكَرَ اللهَ عِنْدَ دُخُوْلِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ لَامَبِيْتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ وَاِنْ دَخَلَ وَلَمْ يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ دُخُوْلِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: اَدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ، فَاِنْ لَمْ يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ: اَدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ وَالْعَشَاءَ۔

[صحيح ابن ماجه :۳۸۸۷- الادب المفرد :۱۰۹۶]

ترجمه: کله چه انسان خپل کور ته د ننوتو په وخت ذکر اُوکړی او د خوراك په وخت هم د الله تعالیٰ ذکر وکړی نو شيطان خپلو ملګروته داسے وائی چه نۀ خو ستاسو دپاره دلته د شپے تيرولو ځائے شته او نۀ د شپے خوراك (مونډلے شئ) او که چرے کورته د ننوتو په وخت د الله تعالیٰ ذکر اُونکړی نو شيطان خپلو ملګروته وائی چه دلته تاسو ته د شپے د اُوسيدو موقع ملاؤ شوه او که چرے د خوراك په وخت (هم) د الله تعالیٰ ذکر اُونکړی نو شيطان خپلو ملګروته وائی چه دلته تاسو ته د شپے تيرولو سره خوراك هم ملاؤ شو۔

**فائده** :که چرے دا دعا : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا الخ اُولولی هم جائز ده ځکه چه په عموماتو کښے راغلے ده، اګرکه دا روايت سنداً د انقطاع د وجه نه ضعيف دے ليکن کورته د ننوتو په وخت کښے د الله تعالیٰ ذکر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول پکار دی که چرېے دغه دعا اُولولی هم صحیح ده۔

## کور نه د بهر وتلو دعا

(۱)- بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ .

[ابو داود رقم ٥٠٩٥ ۔ الترمذی رقم ٣٤٢٢ ۔ ابن حبان ٢٣٧٥ ۔ ابن السنی رقم ١٧٨ ۔ وسنده صحیح]۔

**ترجمه :** په نوم د الله شروع کوم او توکل مے کړے په الله تعالی باندے، نشته د گناه نه اوړیدل او نه د نیکئ توفیق ورکول مگر په الله تعالی .

**فائده :** حدیث کښے راځی : کله چه سړے د کور نه اوځی او دا دعا اووائی نو ده ته به اوویئیل شی چه ته د شیطان نه ستا حفاظت اوشو او هدایت درته اوشو او الله ستا دپاره کافی شو نو یو شیطان د بل شیطان سره ملاؤ شی او وائی چه ته به څنګه دا سړے گمراه کړے، چه دده الله پاك كافی شویدے او هدایت ورته شویدے او حفاظت ئے شویدے .

(۲) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَضِلَّ اَوْ اُضَلَّ اَوْ اَزِلَّ اَوْ اُزَلَّ اَوْ اَظْلِمَ اَوْ اُظْلَمَ اَوْ اَجْهَلَ اَوْ یُجْهَلَ عَلَیَّ .

[ابو داود رقم ٥٠٩٤ ۔ الترمذی ٣٤٢٣ ۔ وسنده صحیح]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: اے الله! زه پناه غواړم پتا ددے نه چه څوک ګمراه کړم یا ما ګمراه کړی یا زه اوخوئیږم یا بل خوے کړم یا ظلم اوکړم یا په ما ظلم اوشی. یا زه چا سره ناپوهی اوکړم یا ما سره ناپوهی اوشی.

## مسجد ته د داخلیدو او وتلو دعاګانے

(۱) - بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ.

[ابن السنی رقم/۸۸ ـ وسنده حسن ـ الکلم الطیب ٦٣]

ترجمه: په نوم د الله شروع کوم. اے الله! رحمت را اولیږے په محمد ﷺ باندے.

فائده: رسول الله ﷺ به چه کله مسجد ته داخلیدلو نو دا دعا به ئے لوستله، دارنګ کله به چه د مسجد نه بهر وتلو نو هم دا به ئے لوستله.

(۲) - رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ.

[ترمذی ج ١/ ٣٣٩ رقم ٣١٤، صحیح]

ترجمه: اے ربه څما! بخښنه اوکړه ما ته د ګناهونو څما او پرانزه ما ته دروازے د رحمت خپل.

فائده: رسول الله ﷺ به چه کله مسجد ته داخلیدو نو دا دعا به ئے لوستله او مخکښے به ئے ترے درود لوستلو، دارنګ کله به چه وتلو نو دا به ئے لوستله:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) - رَبِّ اغْفِرْلِیْ ذُنُوْبِیْ وَافْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ فَضْلِكَ . [الترمذی ج ۱/ ۳۳۹ رقم ۳۱٤]

ترجمه: اے ربه خما! ماته د خپلو گناهونو بخښنه اوکړے او پرانزه ماته دروازے د فضل (مهربانئ) خپل.

ددے دعا نه مخکښے هم رسول الله ﷺ درود لوستلے دے نو چه اوله دعا او دا دویمه دعا یوځائے کړے نو عمل به ستا پوره شی په سنت طریقه باندے.

(۴) یا - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ ـ

[رواه مسلم وابوداؤد والنسائی. ابن السنی رقم ۱۵٦]

ترجمه: اے الله! زه تا نه ستا د مهربانئ سوال کوم!. (دا هم د وتلو وخت کښے وئیلے شی)

(٤) - اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ .

[ابن السنی رقم ۸۷]

(معنی ئے مخکښے تیره شوه)

فائده: دا دعا هم رسول الله ﷺ لوستلے ده او ترغیب ئے ورکړیدے چه دا دعا لولئ او مخکښے ترے سلام په رسول الله ﷺ اچوئ او کله چه وتلئ نو داسے وایئ:

اَللّٰهُمَّ اَعِذْنِیْ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ

[حدیث ابن السنی رقم ۸٦ـ ابن ماجه رقم ۷۷۳]

په بل روایت کښے د - اَعِذْنِیْ په ځائے - اِعْصِمْنِیْ راغلے دے.

[ابن حبان رقم ۱۳۲۱ـ وسنده صحیح]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: اے الله! ما د شیطان رټلے شوی نه اوساته) ددے نه مخکښے هم سلام راغلے دے په رسول الله ﷺ باندے.

(۵) - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ.

[رواه ابوداود رقم ٤٦٦ وسنده صحيح]

ترجمه: پناه غواړم په لوئی الله او په مخ د الله تعالی چه عزتمند دے او په بادشاهئ د الله چه پخوانئ ده دشیطان رټلے شوی نه.

فائده: حدیث کښے راغلی دی، کله چه سړے مسجد ته ننوځی او دا دعا اووائی نو شیطان وائی: ځما نه تو له ورځ محفوظ شو.

**مسجد کښے اخستونکی، خرخونکی ته**

**دا دعا کول پکار دی**

لَا اَرْبَحَ اللّٰهُ تِجَارَتَكَ.

[اسناده صحیح: الترمذی: ١٣٤٤ - الدارمی: ١٤٠٨ - صحیح ابن خزیمه: ٣٠٥ - ابن السنی: ١٥٤]

ترجمه: الله دِے تا ته ستا په تجارت کښے فائده درنکړی.

فائده: کله نا کله په داسے موقع کښے بنیرے کول هم جائز وی ځکه چه مسجد د تجارت دپاره نهٔ دے جوړ شوے، هغه خو آخرت جوړولو دپاره جوړ دے، او دا انسان د هغے د جوړولو حقیقت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصد بدلوی، دنیا په کښې رادننه کوی.

## مسجد کې د ورک شوي شي تلاش کونکي ته داسې ښيره اوکړه

لَا رَدَّهَا اللّٰهُ عَلَيْكَ.

[مسلم ١/٢١٠- الدارمي :١٤٠٨)]

ترجمه : الله دِې ستا ورك شوې شې تا ته واپس نکړي.

## د اذان او اقامت دعاګانې

د اذان او اقامت جواب ورکول ډير فضيلت لري. حديث کښې راغلي : چا چه په يقين سره جواب ورکړو نو جنتي دے. د اذان جواب به داسې ورکوی څنګه چه مؤذن وائی ليکن - حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ - کښې به صرف : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ - وائی. مَا شَاءَ اللّٰهُ - ورسره نشته. دارنګ : اَلْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ - هم دلته ورسره وئيل نشته. د اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْم - په جواب کښې به هم - اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْم وائی. صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ وَبِالْحَقِّ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـطقت – بـه نـه وائی ځکـه دا صـحیح حدیث کښې ندی ثابت.
دارنـګه د : قَـدْ قَامَتِ الصَّلاَةُ –پـه جـواب کښې به هم – قَـدْ قَامَتِ الـصَّلاَةُ – وائی. اَقَـامَهَـا اللهُ وَاَدَامَهَا – ډیر ضعیف حدیث کښې راغـلی دی نو ځکه علماء وائی : دا به نه وائی د وجې د ډیرو دلائلو نه چـه دلتـه ئے ذکر نشی کیدے. دارنګ د اذان د اوریدو په وخت "جل جلاله" وئیل هم چرته حدیث کښې نشته.

دغه شان د اذان نه مخکښې : اَلصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَيَا حَبِيْبَ اللهِ – وئیل بدعت دے.

د اذان نـه پس درود وئیـل پـه صـحیـح احادیثو کښې راغلے دے، د درود نه پس به دا دعا وائی :

(۱) – اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَ الصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدَ نِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُوْدَ نِ الَّذِیْ وَعَدْتَّهٗ .

**ترجمه**: اے الله ! چه تـه مـالك د دے پوره دعـوت ئے او مالك د مـانځـه اودریدونکی ئے، ورکړه محمد ﷺ ته وسیله مقام او غوره والے او وے لیږه هغه مقامِ محمود ته چه تا ورسره وعده کړیده.

**فائده** : اول درود لوستل او بیا دا دعا لوستل پکار دی.

حدیث کښې دی : چا چـه ځـما دپاره دا دعـا اولوستلـه نو ځما شـفـاعت دده دپاره حلال شو. دا دعا هم پدے الفاظو صحیح ده، نور الفاظ پکښې چا د ځان نه زیاتی کړیدی لکه لفظ د : وَالدَّرَجَةَ الرَّفِيْعَةَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شو دا چا د خان نه ورسره زیاتی کړدے . او د بیهقی په روایت کښے ورسره - اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ - راغلے دے مګر هغه هم شاذ او ضعیف روایت دے .

[البخاری ۱/۸۶ ابوداود ۱/۱۰۶ ـ الترمذی رقم ۲۱۱ ـ النسائی رقم ۲۵۶ ـ ارواء الغلیل رقم ۲۴۳]

(۲) - وَاَنَا اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا .

[مسلم ۱/۱۶۷ رقم : ۸۷۷]

ترجمه : زه ګواهی کوم چه نشته سوا د الله نه بل حقدار د عبادت یو ذات دے، شریك ئے نشته او ګواهی کوم چه محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دے، زه راضی یم په الله چه څما رب دے او په اسلام چه څما دین دے او په محمد ﷺ چه څما رسول دے .

فائده : حدیث کښے راځی : کوم انسان چه دمؤذن اذان واوریدو او دا دعا ئے اولوستله نو الله پاك به دده ګناهونه معاف کړی . بعض علماء وائی دا دعا به د اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ - په وخت کښے ولی، لیکن ظاهره دا ده چه د اذان نه پس ئے لوستل پکار دی .

(۳) - اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُحَمَّدًا نِ الْوَسِيْلَةَ وَاجْعَلْ فِي الْعِلِّيِّيْنَ دَرَجَتَهٗ وَفِي الْمُصْطَفَيْنَ تَحِيَّتَهٗ وَفِي الْمُقَرَّبِيْنَ ذِكْرَهٗ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[اسناده جید : رواه الطبرانی فی الکبیر: ۹۷۹۰- ابن السنی:۹۹]

ترجمه : اے الله ! محمد ﷺ ته نزدیکت ورکړه او هغه په اُوچتو درجو والو کښې شامل کړه او په غوره خلقو کښې د هغه سلام اُوکړه او په هغه خلقو کښې د هغه ذکر اُوکړه چه تا ته نزدے وی۔

فائده : د اذان نه پس ټولے دعاګانے جمع کول افضل دی، البته د ټولو نه اعلیٰ اوله دعاء ده۔ یعنی اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ الخ .او پدے کښې رفع الیدین نشته۔

## د سحر د سنتو نه پس دعاګانے

(۱)- اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ وَرَبَّ اِسْرَافِيْلَ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ حَرِّ النَّارِ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ .

[ النسائی رقم: ۵۵۱۹، اسناده صحیح، سلسلة الاحادیث الصحیحة رقم: ۱۵٤٤]

ترجمه : اے الله ! چه رب د جبریل، میکائیل او رب د اسرافیل ئے . پناه غواړم په تا د ګرمائش د اُور نه او د قبر د عذاب نه .

فائده : دا دعا به رسول الله ﷺ د سحر د سنتو نه پس درے ځله لوستله .

(۲) - اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِیْ قَلْبِیْ نُوْرًا وَفِیْ بَصَرِیْ نُوْرًا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَفِیْ سَمْعِیْ نُوْرًا وَعَنْ یَمِیْنِیْ نُوْرًا وَعَنْ یَسَارِیْ نُوْرًا وَفَوْقِیْ نُوْرًا وَتَحْتِیْ نُوْرًا وَاَمَامِیْ نُوْرًا وَخَلْفِیْ نُوْرًا وَاجْعَلْ لِیْ نُوْرًا.

[بخاری ۲/ ۹۳۵ مسلم ۱/ ۲۲۶]

ترجمه: اے الله! ته اوګرځوه زما په زړه کښے رڼا او په سترګو کښے مے رڼا او په غوږ کښے مے رڼا او ښی طرف ته مے رڼا او ګس طرف ته مے رڼا او دپاسه مے رڼا او د لاندے مے رڼا او مخکښے مے رڼا او شاته مے رڼا، او اوګرځوے رڼا ځما دپاره.

فائده: دا دعا به رسول الله ﷺ د سحر د سنتو نه پس کوله، دارنګ په سجده کښے به ئے هم لوستله. ډیره بهترینه دعا ده.

## د مانځه د افتتاح ذکرونه او دعاګانے

علماء کرامؒ فرمائی: چه په مانځه کښے همیشه یو ذکر او یوه دعا لوستل زړه سختوی ځکه انسان ورسره عادت شی نو ځکه مختلف ذکرونه او دعاګانے کول پکار دی. د لته اوس بعض ضروری دعاګانے لیکلے شی.

(۱) - سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰی جَدُّكَ وَلَا اِلٰهَ غَیْرُكَ.

[صحیح: ابوداود: ۷۷۶ - نسائی: ۸۶۴/۸۶۵ - ترمذی: ۲۴۲ - ابن

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماجه :۸۰۳/۸۰٤ – مستدرك : ۸۹۲]

**(۲) – اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ .**

[صحيح : ابوداود :۷۶۳ – احمد : ۱۰۶/۳ – كتاب الدعاء للطبراني : ۵۰۲

– ابن السنی: ۱۰۸]

**ترجمه** : ټول صفتونه الله تعالی لره دی، صفتونه ډیر، پاك چه برکت پکښې اچول شوې وی.

**فائده** : دا دعا به د – اَللّٰهُ اَکْبَرُ – نه پس د – سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ – په ځائے لوستلے شی. حدیث کښې راځی چه دولس (۱۲) ملائکۍ په جلتئ سره اوچتوی. [مسلم ۲۱۹/۱]

**(۳) – اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَّ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. اَللّٰهُمَّ نَقِّنِيْ مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ اَللّٰهُمَّ اغْسِلْنِيْ مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ .**

[مسلم ۲۱۹/۱ – ابوداود:۷۸۱ – النسائی:۸۶۰ – ابن ماجه:۸۰۵ –

صحيح ابن خزيمة :۱۵۷۹]

**ترجمه** : اے الله ! جدا والے راولے په مینځ زما او زما د گناهونو کښې لکه څنګه چه تا جدائی راوستے په مینځ د مشرق او د مغرب کښې . اے الله ! ما د گناهونونه پاك کړه، لکه څرنګ چه سپینه جامه د خیری نه پاکیږی . اے الله ! ما د خپلو گناهونو نه اووینځه په واوره، اوبو او ګلئ سره.

**فائده** : دا دعا هم د – سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ – په ځائے لوستل شی .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) - وَجَّهۡتُ وَجۡهِیَ لِلَّذِیۡ فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالۡاَرۡضِ حَنِیۡفًا وَمَا اَنَا مِنَ الۡمُشۡرِکِیۡنَ اِنَّ صَلَاتِیۡ وَنُسُکِیۡ وَمَحۡیَایَ وَمَمَاتِیۡ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعَالَمِیۡنَ، لَاشَرِیۡکَ لَہٗ وَبِذٰلِکَ اُمِرۡتُ وَاَنَا مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ. اَللّٰهُمَّ اَنۡتَ الۡمَلِکُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنۡتَ، اَنۡتَ رَبِّیۡ وَاَنَا عَبۡدُکَ ظَلَمۡتُ نَفۡسِیۡ وَاعۡتَرَفۡتُ بِذَنۡبِیۡ، فَاغۡفِرۡلِیۡ ذُنُوۡبِیۡ جَمِیۡعًا، اِنَّہٗ لَا یَغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ اِلَّا اَنۡتَ، وَاهۡدِنِیۡ لِاَحۡسَنِ الۡاَخۡلَاقِ لَایَهۡدِیۡ لِاَحۡسَنِهَا اِلَّا اَنۡتَ، وَاصۡرِفۡ عَنِّیۡ سَیِّئَهَا لَایَصۡرِفُ عَنِّیۡ سَیِّئَهَا اِلَّا اَنۡتَ، لَبَّیۡکَ وَسَعۡدَیۡکَ، وَالۡخَیۡرُ کُلُّہٗ فِیۡ یَدَیۡکَ، وَالشَّرُّ لَیۡسَ اِلَیۡکَ، اَنَا بِکَ وَاِلَیۡکَ، تَبَارَکۡتَ وَتَعَالَیۡتَ، اَسۡتَغۡفِرُکَ وَاَتُوۡبُ اِلَیۡکَ.

[مسلم: ۱/۲۶۳ - ابوداود: ۷۶۰ - ترمذی: ۳۶۶۲ - ابن ماجه: ۸۶۲ - ابن حبان: ۱۷۷۱، ۱۷۷۲ - احمد: ۱/۹۵، ۱۰۲، ۱۹ - السنن الکبری: ۲۳۹۱]

ترجمه: ما متوجه کړو مخ خپل (ځان خپل) هغه ذات ته چه پیدا کړی ئې دی آسمانونه او زمکه، کلك یم په توحید باندے او نهٔ یم زهٔ د مشرکانو د ډلے نه، یقیناً مونځ زما او مالی عبادت زما او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند زما او مرګ زما خاص الله لره دی چه رب د ټول عالم دے. نشته هيڅ برخے والا د هغهٔ سره، او په دے سره ما ته حکم شويدے او زهٔ د توحيد والو نه يم، اے الله ! تهٔ بادشاه ئے ستا نه سوئ حقدار د بندګئ نشته، تهٔ زما رب ئے او زهٔ ستا بنده يم، ما په خپل ځان بانديے ظلم کړيدے او د خپلو ګناهونو اقرار کوم نو تهٔ زما ټول ګناهونه معاف کړه، بيشکه ګناهونه ستا نه سوئ هيڅوك نشي بخښلے او تهٔ ما ته د ټولو نه د ښه اخلاقو هدايت اُوکړه، ستا نه سوئ هيڅوك د ټولو نه د بهترينو اخلاقو هدايت نشي کولے او تهٔ ما نه بد اخلاق واړه وه، ستا نه بغير هيڅوك ما نه بد اخلاق نشي اړه ولے. زهٔ حاضر يم او حکم منلو دپاره تيار يم او پوره خير ستا په لاس کښے دے، او بدی تا ته منسوب نهٔ ده، زهٔ ستا د قدرت او طاقت د وجے نه موجود يم. تا ته متوجه کيږم، تهٔ برکت والا ئے او اُوچت ئے. زهٔ تا نه بخښنه غواړم او تا ته توبه اُوباسم.

**فائده :** دا دعا فرضو او نفلو دواړو کښے راغلے ده لکه په صحيح ابن حبان کښے راغلی دی.

(۵) – اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ نُوْرُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَمَنْ فِيْهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ قَيِّمُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَمَنْ فِيْهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ الْحَقُّ وَوَعْدُكَ الْحَقُّ وَقَوْلُكَ حَقٌّ وَلِقَائُكَ حَقٌّ وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ وَالنَّبِيُّوْنَ حَقٌّ وَمُحَمَّدٌ حَقٌّ، اَللّٰهُمَّ لَكَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَسْلَمْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَاِلَيْكَ اَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ وَاِلَيْكَ حَاكَمْتُ فَاغْفِرْلِيْ مَا قَدَّمْتُ وَمَا اَخَّرْتُ وَمَا اَسْرَرْتُ وَمَا اَعْلَنْتُ اَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ.

[بخاری :۲/ ۹۳۵- مسلم :۱/ ۲۶۲]

(ابوداود :۷۷۱ - الادب المفرد :۷۱۸- ابن ماجه : ۱۳۵۵- مسند دارمی:۱/ ۲۸۷،۲۸۸)- صحیح ابن خزیمة :۱۱۵۱]

ترجمه : اے الله ! تا دپاره ټول صفتونه د کمال دی، هم ته د آسمانونو او د زمکے او څه چه پدے کښے دی د ټولو روښانه کونکے ئے او تا دپاره ټول صفتونه دی، هم ته د آسمانونو او زمکے او څه چه پدے کښے دی د هغے سنبالونکے ئے او ټول صفتونه تا لره دی، ته حق ئے او ستا وعده حقه ده او ستا فرمان حق دے او تا سره ملاویدل حق دی او جنت حق دے او دوزخ حق دے او ټول پیغمبران حق دی او محمد ﷺ حق دے او قیامت حق دے، اے الله ! ما تا ته سر خکته کړو او په تا مے ایمان راوړو او په تا مے توکل اُوکړو او تا ته مے رجوع اُوکړه او ستا په مدد سره څه د کافرو سره جنګیږم او ته مے حاکم جوړ کړے ئے (په تا فیصله کوم کله چه اختلاف پیدا شی) پس اُوبخښه ما ته هغه څه چه ما مخکښے کړی وی او هغه څه چه ما روسته کړے وی او هغه څه چه ما پټ کړے وی او هغه څه چه ما ښکاره کړی وی، ته مخکښے کونکے ئے او ته روستو کونکے ئے، نشته حقدار د بندګی سوئ ستا نه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده :** پدې دعا کښې د مغفرت نه علاوه د الله تعالیٰ معرفت هم دے، دا ضرور یادول پکار دی۔

## د شپې د مونځ شروع کولو په وخت ذکر

اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ وَاِسْرَافِيْلَ، فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ، اِهْدِنِيْ لِمَا اخْتُلِفَ فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِكَ اِنَّكَ تَهْدِيْ مَنْ تَشَاءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ط

[مسلم :۱/۲٦۳ ابوداود: ۷٦۷- ابن ماجه:۱۳۵۷ - احمد :٦/۱۵٦- صحيح ابن خزيمة :۱۱۵۳]

**ترجمه :** اے الله ! د جبریل او میکائیل او اسرافیل علیهم السلام ربه ! د ټولو آسمانونو او زمکے ناشنا پیدا کونکیه، په هر غائب او حاضر پوهیدونکیه، ته په خپله د خپلو بندګانو ترمینځ د هغه څیز فیصله کوے په کوم کښې چه دوی اختلاف کوی۔ اے الله ! ته په خپل توفیق سره ما ته د حق اړخ ته هدایت اُوکړه په هغه څیز کښې چه خلق په هغې کښې اختلاف کوی ځکه چه ته چا ته اُوغواړے نو نیغې لارے ته ئے رهنمائی کوے۔

**فائده :** دا دعا به نبی علیه السلام په اول رکعت کښې د سُبْحَانَكَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللّٰهُمَّ په ځائے لوستله. پدے سره انسان ته هدایت ملاویږی.

## په مانځه کی د قراءت نه مخکی تعوذ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ السَّمِیْعِ الْعَلِیْمِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ مِنْ هَمْزِهٖ وَنَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ.

[ابوداود ٧٧٥، والترمذی رقم: ٢٤٢، ابن خزیمة: ٤٦٧ وهو صحیح لشواهده، البانی]

**ترجمه**: زهٔ په الله پورے پناه غواړم د شیطان رټلی شوی نه د هغهٔ د وسوسے او د هغهٔ د پوکی او د هغه تف نه.

**فائده**: د بعض سلفو نه د -مِنْ هَمْزِهٖ وَنَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ - ترجمه داسے نقل ده: د هغهٔ د لیونتوب نه، د هغهٔ د کبر (تکبر) نه، او د هغهٔ د شعرونو نه.

**فائده**: دا کامل تَعَوُّذ دے، دا د هر تلاوت او د فاتحے نه مخکښے لوستل پکار دی.

## د رکوع دعاګانے

(١) - سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ.

[مسلم: ١٨٥٠]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) - سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ.

[بخاری ۱/۱۱۳ـ رقم: ۷۹٤ مسلم ۱/۱۹۲ـ رقم: ۱۱۱۳]

ترجمه: پاکي ده تالره اے الله! چه ربّ زمونږ ئے، سره د صفتونو ستا نه اے الله! ماته بخښنه اوکړے.

فائده: دا دعا په رکوع او سجده دواړو کښے لوستلے شي.

(۳) - سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ رَبُّ الْمَلٰئِكَةِ وَالرُّوْحِ.

[مسلم ۱/۱۹۲]

ترجمه: پاك دے الله چه رب د ملائکو او د جبریل علیه السلام دے.

(٤) - سُبْحَانَ ذِی الْجَبَرُوْتِ وَالْمَلَكُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ.

[النسائی فی الافتتاح وابوداود ومسند احمد ج ٦/٣٥، ٩٤، ١١٥، ١٤٨، ١٤٩، ١٧٦، ١٩٣]-

ترجمه: پاکي ده هغه ذات لره چه د غلبے او حکومت او کبر (لویئ) او عظمت خاوند دے.

(۵) - اَللّٰهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ اَسْلَمْتُ خَشَعَ لَكَ سَمْعِیْ وَبَصَرِیْ وَمُخِّیْ وَعِظَامِیْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَعَصَبِيْ .

[مسلم :۱/۲٦۳– ابوداود: ۷٦۰ – النسائی: ۱۰۰۵– کتاب الدعاء للطبرانی : ٥۲٥– ابن حبان:۱۹٥۳– مسند احمد : ۱/۹٥،۱۰۲،۱۹۰ – السنن الکبری:۲۳۹۲]

**ترجمه :** اے الله ! ما تا دپاره رکوع اُوکړه او ما په تا باندے ایمان راوړو او زۀ ستا فرمانبردار شوم او ستا په وړاندے تیټ شویدی (عاجزی کړیده) زما غوږونه او زما سترگے او زما نلے او زما هډوکی او زما پلے۔

(٦) – سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ط

[مسلم :۱/۱۹۲– کتاب الدعاء للطبرانی:٦۰٥]

**ترجمه:** اے الله !تهٔ پاك ئے او ستا صفتونه بیانوم، تا نه سوئ بل هیڅوك حقدار د بندگئ نشته۔

**فائده٥:** دا دعا په رکوع او سجده دواړو کښے او په فرائضو او نوافلو کښے لوستلے شي۔

## دقومے دعاگانے

(۱) – سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ط

[ابوداود : ۸٤۸–نسائی:۱۰۱٤– ترمذی:۲٦۷– ابن ماجه :۸۷٥

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح]

ترجمه : الله تعالیٰ قبلوی صفت د هغه چا چه د هغهٔ صفتونه کوی.

(۲) - رَبَّنَا (وَ) لَكَ الْحَمْدُ ط

[ابو داود:۸٤۹- نسائی:۱۰۱٤- ترمذی:۲٦۷ - ابن ماجه:۸۷۵]

ترجمه: اے زمونږ ربه، او تا دپاره د کمال صفتونه دی.

(۳) - رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ

[بخاری ۱/۱۱۰، رقم: ۷۹۹، نسائی ۱/۱۲۰]

ترجمه : اے الله! تالره د کمال صفتونه دی، صفتونه ډیر او پاك، چه برکت پکښے اچول شوے وی.

فائده :حدیث کښے راځی : دا ذکر څه دپاسه دیرش (۳۰) ملائك د الله دربار ته اوړی. او ددے وئیل په فرض مانځه کښے هم حدیث پاك کښے راغلی دی.

(٤) - لِرَبِّيَ الْحَمْدُ لِرَبِّيَ الْحَمْدُ ط

[ابو داود : ۸۷٤ - نسائی : ۱۰۲٤، صحیح]

ترجمه : زما د رب دپاره حمدونه دی، زما د رب دپاره د کمال صفتونه دی.

(۵) - رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمٰوَاتِ وَمِلْءَ الْاَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ اَهْلُ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، اَحَقُّ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَا قَالَ الْعَبْدُ وَ كُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ ، اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ .

[مسلم ۱/۱۹۰ رقم: ۱۰۸٦]

**ترجمه :** اے الله ! چه ربّ څمونږ ئے، تالره صفتونه د کمال دی، په اندازه د ډکوالی د آسمانونو او ډکوالی د زمکے، او ډکوالی د هغه څه چه ستا خوښه وی پے له اسمانونو او زمکونو نه، ته لائق د صفتونو او د عزت ئے، او ته ډیرحقدار ئے د هغه صفتونو چه بنده ئے ستا دپاره بیانوی. او مونږ ټول ستا بندگان یو. اے الله ! نشته منع کونکے د هغه څه چه ته ئے ورکوے، او نشته ورکونکے د هغه څه چه ته ئے منع کړے، او فائده نه ورکوی د بخت خاوند ته، ستا نه بخت د هغه (یا - فائده نه ورکوی مالدار ته ستا د رانیولو په مقابله کښے مالداری د هغه)

**فائده :** دا دعا ډیره بهترینه دعا ده، نبی اکرم ﷺ په فرض مانځه کښے هم لوستلے ده، او دا دعا به د - سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ - نه روسته لوستلے شی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سجدے دعاګانے

(۱) – سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی

[ ابوداود :۸۷۱– ترمذی :۲٦۲– نسائی :۱۰۰۱– ابن ماجه : ۸۸۸]

**ترجمه :** پاکی ده زما اُوچت رب لره۔

(۲) – اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ کُلَّهٗ دِقَّهٗ وَجِلَّهٗ وَاَوَّلَهٗ وَآخِرَهٗ وَعَلَانِیَتَهٗ وَسِرَّهٗ .

[مسلم ۱/۱۹۱۔ رقم: ۱۱۱۲ ]

**ترجمه :** اے الله ! اوبخښه ما ته ګناهونه ټول، واړه او غټ او اوّل او آخر، ښکاره او پټ.

**فائده :** سجده کښے هر قسمه دعا کول جائز دی او ډیرے دعاګانے په یوځل باندے هم وئیلے شی، ځکه چه رسول الله ﷺ اجازت ورکړیدے او دائے فرمائیلے دی چه بنده الله تعالی ته د سجدے حالت کښے ډیر نزدے وی، نو تاسو دعاګانے ډیرے کوئ په سجده کښے ( الله به ستا سو دعاګانے قبلوی) .

لیکن په رکوع کښے یوه یوه دعا وئیل پکار دی، کله یوه کله بله، ځکه رسول اکرم ﷺ نه په دغه طریقه نقل شویدی .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٣) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ لَا اُحْصِیْ ثَنَاءً عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰی نَفْسِكَ .

[رواه مسلم فی ١٩٢/١ ـ المشكاة ٨٤/١ صحيح الجامع الصغير ٢٧٥/١ رقم ١٢٨٠]

ترجمه : اے الله ! زه پناه غواړم ستا په رضا ستا د غصے نه او ستا په روغتيا ستا د عذاب نه، او پناه غواړم پتا باندے ستا نه. زه ستا پوره صفت نشم بيانولے لکه څرنگ چه تا د خپل ځان بيان کړيدے.

(٤) - اَللّٰهُمَّ لَكَ سَجَدْتُّ ، وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ اَسْلَمْتُ سَجَدَ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ خَلَقَهٗ وَصَوَّرَهٗ وَشَقَّ سَمْعَهٗ وَبَصَرَهٗ تَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ ط

[مسلم رقم : ١٨٤٨، ابوداود: ٧٦٠ - ابن حبان :١٩٧٧- واحمد فی المسند :١/ ٩٥،١٠٢،١١٩]

ترجمه : اے الله ! ما تا دپاره سجده اُوکړه او ما په تا باندے ايمان راوړو او ما ستا تابعداری اُوکړه. زما مخ هغه ذات ته سجده اُوکړه چه دائے پيدا کړيدے او چا چه د هغهٔ شکل جوړ کړيدے، او په هغے کښے ئے غوږونه او سترگے خيرلی دی، برکت والا دے هغه الله چه د تولو پيدا کونکو نه ښائسته پيدا کونکے دے.

فائده : دا په فرض او نفل دواړو کښے راغلے ده او بهترينه دعا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٥) - سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِىْ.

[النسائی :٢ ١٠٠]

(٦) - اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِىْ قَلْبِىْ نُوْرًا وَفِىْ بَصَرِىْ نُوْرًا وَفِىْ سَمْعِىْ نُوْرًا وَعَنْ يَمِيْنِىْ نُوْرًا وَعَنْ يَسَارِىْ نُوْرًا وَفَوْقِىْ نُوْرًا وَتَحْتِىْ نُوْرًا وَاَمَامِىْ نُوْرًا وَخَلْفِىْ نُوْرًا وَاجْعَلْ لِىْ نُوْرًا.

[بخاری : ٢/ ٩٣٥-مسلم :١/ ٢٢٦]

(ترجمهٔ مخکنبی شویده)

(٧) - سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ، اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ ط

[الطبرانی فی الکبیر : ١٠٣٠٢ - الصحیحة:٣٠٣٢]

(ترجمهٔ مخکنبی شویده)

(٨) - سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ط

[ مسلم : ١/ ١٩٢ - کتاب الدعاء للطبرانی : ٦٠٥]

(ترجمهٔ مخکنبی شویده)

(٩) - سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِىْ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[بخاری : ۱۱۳/۱ – مسلم : ۱۹۲/۱ – ابوداود: ۸۷۷]

(ترجمه ئے مخکښې شویده)

(۱۰) – سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلٰئِكَةِ وَالرُّوحِ۔

[مسلم : ۱۹۲/۱ – ابوداود : ۸۷۲ – النسائی: ۱۰۰۳ – كتاب الدعاء للطبرانی: ۵٤٥] (ترجمه ئے مخکښې شویده)

(۱۱) – سُبْحَانَ ذِی الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ ط

[ابوداود : ۸۷۳ – النسائی : ۱۰۰٤]

ترجمه : پاکی ده هغه ذات لره چه د غلبې او د بادشاهئ او د کبر (لویئ) او عظمت خاوند دے۔

## د دوو (۲) سجدو په مینځ کښې دعا

(۱) – اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ وَارْحَمْنِیْ وَاهْدِنِیْ وَعَافِنِیْ وَارْزُقْنِیْ . [مسلم رقم الحدیث : ۷۰۲۵]

ترجمه : اے الله ! ما ته بخښنه اوکړے او په ما رحم اوکړے او ما جوړ کړے او ما ته هدایت وکړے او ماله روزی راکړے .

**فائده** : ددے دعا په فرض مانځه کښې لوستل هم په احادیثو کښې راغلے دی، بلکه امام احمدؒ فرمائی چه ددے دعا لوستل واجب دی په ټولو مونځونو کښې – او یا دا دعا :

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) - رَبِّ اغْفِرْلِیْ رَبِّ اغْفِرْلِیْ .

[النسائی ج ۱/ ۲٤۷ رقم ۱۰۹۷ ابوداود : ۸۷٤، صحیح]

ترجمه : اے ربه ! ما اوبخښه، اے ربه ! ما اوبخښه .

## د تشهد دعاګانے

(۱) - بِسْمِ اللّٰهِ، اَلتَّحِیَّاتُ لِلّٰهِ، اَلصَّلَوَاتُ لِلّٰهِ، اَلزَّاكِیَاتُ لِلّٰهِ ، اَلسَّلَامُ عَلَى النَّبِیِّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَیْنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِیْنَ. شَهِدْتُّ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، شَهِدْتُّ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ ط

[اخرجه مالك :۱/۷۳]

ترجمه :شروع کوم په نوم د الله تعالیٰ، قولی عبادتونه د الله دپاره دی، بدنی عبادتونه د الله دپاره دی، ټول ښه اخلاق او عملونه د الله دپاره دی، سلام دِے وی په نبی (ﷺ) باندے او د الله رحمتونه او برکتونه (دِے وی) سلام دِے وی په مونږ باندے او په بندګانو د الله باندے چه نیکان دی. ما ګواهی کړیده چه نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه، ما ګواهی کړیده چه نبی علیه السلام د الله رسول دے.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) - اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ، اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

[مسلم :۱/ ۷٤ - ابوداود :۹۷٤- الطبرانی فی الکبیر : ۱۰۹۹٦- السنن الکبریٰ : ۲۸۹۱- ابن ماجه : ۹۰۰]

**ترجمه** : د ټولې ټول مبارك عبادتونه او بدنی او مالی عبادتونه د الله دپاره دی. سلام دې وی په تا باندې اې نبی ! او د الله رحمتونه او برکتونه دې وی. سلام دې وی په مونږ باندې او د الله په نیکانو بندګانو باندې. ګواهی کوم چه نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغهٔ نه او محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله رسول دې.

(۳) - اَلتَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ، اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ط

[مسلم ۱/ ۱۷٤، ابوداود : ۹۷۲، النسائی :۱۱۲۲، الطبرانی فی الکبیر :۱۱٤۰٦]

**ترجمه** : د ټولې ټول پاك عبادتونه او بدنی عبادتونه الله دپاره دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام دې وي په تا باندې اې د الله نبي ! او د هغهٔ رحمت او د هغهٔ برکتونه دې وي۔ زهٔ ګواهي کوم چه د الله نه سوئ بل څوك حقدار د بندګۍ نشته او محمد (صلی الله علیه وسلم) د هغهٔ بنده او رسول دې۔

(۴) - اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ، اَلزَّاكِيَاتُ لِلّٰهِ، الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ الصَّلَوَاتُ لِلّٰهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ، اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

[اخرجه مالك : ۱/۹۰ - السنن الكبرئ : ۲۹۰۵]

ترجمه :ټول قولي عبادتونه الله دپاره دي، ټول ښه اخلاق او عملونه الله دپاره دي، پاك مالي عبادتونه او فعلي عبادتونه الله دپاره دي، سلام دې وي په تا باندې اې د الله نبي ! او د هغهٔ رحمتونه او د هغهٔ برکتونه دې وي۔ سلام دې وي په مونږ باندې او د الله په نيکانو بندګانو باندې۔ زهٔ ګواهي کوم چه نشته حقدار د بندګۍ سوئ د الله نه او ګواهي کوم چه محمد (صلی الله علیه وسلم) د هغهٔ بنده او د هغهٔ رسول دې۔

(۵) - اَلتَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ الزَّاكِيَاتُ لِلّٰهِ، اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ ؕ

[اخرجه مالك فى الموطأ : ۱/۹۱، سنن كبرىٰ : ۲۹۰۷]

ددے ترجمه هم د مخکښے په شان ده۔

(٦) – اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ، اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ؕ

[مسلم : ۱/۱۷۳– النسائى : ۱۱۱٤– ترمذى : ۲۸۹]

**ترجمه :** د ټولې عبادتونه (پيش کشيانے، تحفے) او مونځونه (يا رحمتونه يا دعاګانے او عاجزيانے) او ټول پاك كلمات خاص الله دپاره دى الخ۔

**فائده :** حديث کښے راغلى : کله چه يو تن په تاسو کښے دا درود اُووائى نو په آسمان او زمکه کښے ټول نيکانو بندګانو ته ددے اثر رسيږى او ديته تشهد د عبد الله بن مسعود رضى الله عنه وائى۔

**فائده :** د تشهد ډير الفاظ راغلى دى لکه څرنګه چه د حديثونو په کتابونو کښے دى، هر لفظ وئيل جائز دى، البته د ابن مسعود ﷺ تشهد کوم چه آخر (٦) نمبر کښے ذکر شو هغه د ټولو نه غوره دے، ځکه چه د صحيحينو په روايت کښے راغلے دے۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د التحیات او درود نه پس دعاګانې

**فائده :** حدیث کښې راغلي چه دې مقام کښې (یعنې د مانځه په آخر کښې) تاسو ته چه کومه دعا خوښه وي هغه کوئ! لیکن کومه دعا چه قرآن او حدیث کښې ذکر وي هغه وئیل ډېر غوره دي، ځکه دېکښې د وحې برکت وي. بعض د هغې نه دا دي :-

(۱) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِیْحِ الدَّجَّالِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْیَا وَالْمَمَاتِ .

[ابن ماجه ۲/ ۳۲٦ رقم ۳۸٤۰]

**ترجمه :** اے الله! زه پناه غواړم ستا د عذاب د جهنم نه او پناه غواړم ستا د عذاب د قبر نه او پناه غواړم ستا د فتنې د دجّال نه، او پناه غواړم ستا د فتنې د ژوند او د مرګ نه.

**فائده :** دا دعا به رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته پداسې اهتمام سره ورزده کوله لکه څرنګ چه به ئې د قرآن مجید یو سورت ورخودلو، او پدې دعا به ئې حکم کولو چه دا ضرور وایئ، دا وجه ده چه بعض علماء ددې دعا لوستل واجب ګڼړي لکه مسلم ۱/ ۲۱۸- کښې راغلي چه طاووس رحمه الله پخپل ځوی مونځ دوباره کړې وو ځکه چه هغه دا دعا پریخې وه، نو ددې دعا وئیل ضرور پکار دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا کَثِیْرًا وَّلَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ فَاغْفِرْ لِیْ مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِیْ اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ .

[بخاری ۱/۱۱۵ ـ مسلم ۱/۲۱۷]

ترجمه : اې الله ! ما ډير ظلم کړے پخپل ځان او نه بخښي ګناهونه (هيڅوك) مګر ته، نو ما ته بخښنه اوکړه، داسې بخښنه چه ستا د طرفه وي او رحم اوکړے په ما ځکه ته بخښونکے مهربان ئې .

فائده : ابوبکر صديق رضی الله عنه د رسول اکرم ﷺ نه مطالبه اوکړه چه ماته يوه دعا را اوښايه چه په مانځه کښې ئې وايم نو رسول الله ﷺ ورته دغه دعا اوخودله .

(۳) - اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ مَا قَدَّمْتُ وَمَا اَخَّرْتُ وَمَا اَسْرَرْتُ وَمَا اَعْلَنْتُ وَمَا اَسْرَفْتُ وَمَا اَنْتَ اَعْلَمُ بِهٖ مِنِّیْ اَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ .

[مسلم رقم : ۱۸٤۸، ابوداود رقم : ۷٦۰]

ترجمه : اې الله ! اوبخښه ماته ګناهونه ځما، هغه چه مخکښې مې کړيدي او هغه چه روسته مې کړيدي او هغه چه پټ مې کړيدي او هغه چه ښکاره مې کړي او هغه چه ما زياتې کړے او هغه چه ته پرے ځما نه ښه پوهيږې، ته مخکښې کونکے ئې او ته روسته کونکے ئې، نشته حقدار د بندګۍ سوا ستا نه .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ

[اخرجه ابوداود واحمد ج ٤٧٤/٣- وابن ماجة فی الاقامة وابن خزیمة ٥٢٥- وسنده صحیح]

**ترجمه :** اے الله! زه تا نه جنت غواړم او پناه غواړم پتا سره د اور نه.

**فائده :** یو بانډے والا سړی اووئیل : اے د الله رسوله ! زهٔ ستا اور معاذ بن جبل ﷺ په آواز نهٔ پو هیږم چه تاسو کومه دعا کوئ لیکن زه د جنت او د جهنم دعا کومه نو نبی علیه السلام اوفرمائیل: (حَوْلَهُمَا نُدَنْدِنُ) یعنی مونږ هم د جنت او دوزخ متعلق دعا کوو.

**فائده ۲:** د التحیات نه پس ډیرے دعا ګانے جمع کول جائز دی.

(۵) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَفِتْنَةِ الْمَمَاتِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ ط

[بخاری : ١١٥/١- مسلم : ٢١٧/١- ابوداود : ٨٨٠- والترمذی فی الدعوات والنسائی فی السهو واحمد فی المسند ٢٠٧،٨٩/٢]

**ترجمه :** اے الله! زهٔ پناه غواړم په تا سره د عذاب د قبر نه او پناه غواړم په تا سره د مسیح دجال د فتنے نه او پناه غواړم په تا سره د فتنے د ژوند او فتنے د مرګ نه۔ اے الله! د ګناه او د قرض نه په تا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورے پناه غواړم-

**فائده** : یو صحابی وویل : اے د الله رسوله ! تاسو د قرض نه ډیره پناه غواړئ ؟ هغوی وفرمایل : د قرض په وجه قرضدار چه کله خبره کوی نو دروغ وائی او چه کله وعده کوی نو خلاف کوی (په دے وجه زۀ دا دعا کوم)-

## د سلام اړولو نه روستو دعاګانے

(۱) – اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ

(د الله تعالی نه بخښنه غواړم)     درے (۳) ځله.

(مسلم ۱/ ۲۱۸]

(۲) – اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ .

**ترجمه** : اے الله ! ته سلام ئے، او ستا د طرف نه سلامتیا ده، برکت اچونکے ته ئے، اے خاوند د لویئ او دعزت.

**فائده** : دا حدیث مسلم ۲۱۸/۱ او مشکاة ۸۸/۱- ذکر کړیدے. پدے کښے بعض خلق دا الفاظ زیاتوی :

وَاِلَيْكَ يَرْجِعُ السَّلَامُ فَحَيِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ وَاَدْخِلْنَا دَارَكَ دَارَ السَّلَامِ .

دا الفاظ ندی وئیل پکار ځکه دا د ځان نه جوړ شویدی، احادیثو کښے دا ندی ثابت اُوګوره .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[مرقات ۲/۳۵۸]۔

(۳) – لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ. اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ

[بخاری ج ۱/۱۱۷ رقم: ۸۴۴]

(دا دعا مخکښې تیره شویده)

**فائده :** دا دعا هم د فرض مانځه نه روستو وئیل پکار دی، او په پټه ئې وئیل پکار دی، په کوم روایت د مشکوه کښې چه راځی چه رسول الله ﷺ به دا دعا په زوره وئیله نو دا جمله په دغه حدیث د مسلم ۱/۲۱۸ - کښې نشته دے او مشکاة ۱/۸۸ - نقل د مسلم نه کړیدے۔

(۴) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ اَنْ اُرَدَّ اِلٰى اَرْذَلِ الْعُمُرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ.

[بخاری: ۱/ ۱۱۵ رقم: ۶۳۷۴]

**ترجمه :** اے الله ! زه پناه غواړم پتا د بزدلئ نه، او پناه غواړم پتا د کنجوسئ نه ، او پناه غواړم پتا د ذلیل عمر ( بوډا والی ) نه، او پناه غواړم پتا د فتنے د دنیا، او د عذاب د قبر نه.

**فائده :** رسول اکرم ﷺ به د هر فرض مانځه نه پس دا دعاګانے

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستلے، نو سنت دا دی چه انسان دا د فرضونه پس لولی او د سنت مانځه نه پس ئے وئیل ندی پکار.

(۵) - آیةُ الکُرسِی د فرض مانځه نه پس ډیر فضیلت لری، چه انسان ئے اولولی، لکه مخکښے تیر شو.

(۶) - (۳۳) ځله - سُبْحَانَ اللّٰهِ.

(۳۳) - ځله - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ.

او (۳۴) ځله - اَللّٰهُ اَکْبَرُ.

فائده : (۳۳) - ځله - اللّٰهُ اَکْبَر - که چا اولوستلو او بیائے ورسره دا راتلونکے دعا اولوستله :

لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰـهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ.

(بخاری : ۱/۱۱۶ - مسلم ۱/۲۱۹ رقم : ۱۳۸۰]

نو الله پاك به دده ګناهونه معاف کړی، اګرکه د دریاب د زګ په اندازه وی. پدیکښے لس (۱۰) ځله سُبْحَانَ الله، لس (۱۰) ځله - اَلْحَمْدُ لله او لس (۱۰) ځله - اَللّٰهُ اَکْبَر - لوستل هم د بخاری مسلم په روایت کښے راغلی دی. پدے کښے که په هره یوه طریقه عمل کوے، نو په سنت طریقه عمل دے. دارنګ دا یولس، یولس ځله لوستل هم راغلے دی کما فی مسلم، لیکن هغه صرف په حدیث کښې د سهیل راوی اندراج دے او حدیث نبوی نهٔ دے.

حدیث کښے راځی چه پدے لس لس ځله وئیلو سره پس د هر مانځه نه یو نیم زر (۱۵۰۰) نیکئ ملاویږی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ ابو داود رقم : ۵۰۶۷ المشکوة ۱/ ۲۱۱ ]

(۷) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ ط [ نسائی، رقم ۵۰۴۸ ]

ترجمه : اې الله ! زۀ پناه غواړم په تا سره د کفر او فقر (غریبئ) او د قبر د عذاب نه .

(۸) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَیْرَاتِ وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَحُبَّ الْمَسَاكِیْنِ وَاَنْ تَغْفِرَ لِیْ وَتَرْحَمَنِیْ وَاِذَا اَرَدْتَّ فِتْنَةً فِیْ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِیْ غَیْرَ مَفْتُوْنٍ وَاَسْئَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ یُّحِبُّكَ وَحُبَّ عَمَلٍ یُقَرِّبُنِیْ اِلٰی حُبِّكَ

[ الترمذی رقم : ۳۲۳۵، وصحیح الجامع الصغیر ۱ /۷۲ والحدیث صحیح ]

ترجمه : اې الله ! زه غواړم ستا نه نیك کار کول او پریخودل د ګناهونو او مینه د مسکینانو سره، او غواړم ستا نه چه بخښنه اوکړه ما ته او رحم اوکړه په ما باندې . او کله چه ته په یو قوم باندې د امتحان اراده اوکړې نو ما واخله، پداسې حال کښې چه په ما باندې امتحان رانشي، او غواړم ستا نه ستا مینه او مینه د هغه چا چه تاسره مینه کوي او مینه د هغه عمل چه ستا مینې ته مې نزدې کړي .

فائده : حدیث کښې راځي : الله تعالی نبی اکرم ﷺ ته براهِ راست (بلا واسطه) فرمائیلي وو چه کله مونځ اوکړې نو دغه دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه او رسول الله ﷺ خپل امت ته فرمائی : [إِنَّهَا حَقٌّ فَادْرُسُوْهَا ثُمَّ تَعَلَّمُوْهَا] چه دا حق روایت دے نو دا لولئ او خامخائے زده کړئ !۔

(۹) – سُوْرَةُ الْإِخْلَاص او سُوْرَةُ الْفَلَق او سُوْرَةُ النَّاس. [ترمذی رقم ۳۰۷۹]

(۱۰) – لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ج لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ ط لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُوْنَ .

[رواه مسلم : ۱/۲۱۸ رقم : ۱۳۷۱ – ابوداود : ۱۵۰۶ – النسائی : ۱۲۷۱ – واحمد فی المسند : ۴/۴،۵ –صحیح ابن حبان : ۲۰۰۸/۲۰۰۹]

**ترجمه** : نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه، هغه ایکی یواځے دے، د هغهٔ هیڅوك برخه دار نشته، هغهٔ دپاره بادشاهی ده او هغهٔ دپاره ټول د کمال صفتونه دی او هغه په هر څیز باندے قادر دے، نشته د ګناه نه بچ کیدل او نشته په نیکئ باندے طاقت مګر په الله سره دے، نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه او مونږ د هغهٔ نه سوئ د بل دچا بندګی نهٔ کوو، د هغهٔ دپاره ټول نعمتونه دی او د هغهٔ دپاره ټوله مهربانی ده او د هغهٔ دپاره ټول ښه صفتونه دی۔ د الله نه سوئ بل حقدار د بندګئ نشته، خالص کونکی یو هغهٔ دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلنه اګرچه بدئ ګڼړي کافران۔

**فائده:** دا دعا په اوچت آواز سره لوستل سنت دي، لکه څرنګ چه په حديث د مسلم کښې دي يُهَلِّلُ بِهِنَّ۔ يعنی آواز به ئے پرے پورته کولو۔

(۱۱) – اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِی مَا قَدَّمْتُ وَمَا اَخَّرْتُ وَمَا اَسْرَرْتُ وَمَا اَعْلَنْتُ، وَمَا اَسْرَفْتُ وَمَا اَنْتَ اَعْلَمُ بِهٖ مِنِّی اَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ط

[مسلم رقم: ۱۸٤۸، و ابوداود: ۱۵۰۹]

(ترجمه ئے مخکښې ذکر شويده)

(۱۲) – اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ ط

[صحيح: ابوداود: ۱۵۲۲]

**ترجمه:** اے الله! ما سره ستا په ذکر او ستا په شکر او ستا په ښائسته عبادت باندے مدد وکړه۔

(۱۳) – رَبِّ قِنِیْ عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ ط

[مسلم رقم: ۱٦۷٦ – ابوداود رقم: ۵۰٤۷، والترغيب والترهيب: ٤۹۷]

**ترجمه:** اے ربه! ما د خپل عذاب نه بچ وساته په هغه ورځ چه ته به خپل بندګان راپورته کوے۔

(۱٤) – اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ، وَتُبْ عَلَیَّ، اِنَّكَ اَنْتَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اَلتَّوَّابُ الْغَفُوْرُ ط

[السنن الكبرى للنسائى رقم : ۹۸۵۱) مسند ابن ابى شيبة ۱/۷۱/۲، الصحيحة برقم : ۲۶۰۳]

**ترجمه** : اے الله ! ما ته بخنه وکړه او ما باندے رحم وکړه یقیناً ته توبه قبلونکے ډیره بخنه کونکے ئے۔

**فائده** : رسول الله ﷺ دا ذکر د فرض مانځه نه روستو سل کرته کړیدے۔ او په روایت د الادب المفرد (۶۱۹) د بخاری کښے دی چه د صلاۃ الضحیٰ نه روستوئے سل کرته ولوستلو۔ (واسناده صحیح)

**(۱۵) – اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ فِتْنَةِ الْاَعْوَرِ الْكَذَّابِ ط**

[صحيح : مسند احمد رقم : ۲۶۶۷، طبرانى فى الكبير : ۱۲۷۷۹]

**ترجمه** : په الله پورے پناه غواړم د عذاب د قبر نه او په الله پورے پناه غواړم د عذاب د اُور نه او په الله پورے پناه غواړم د فتنو نه، ښکاره وی او که پټے، او په الله پورے پناه غواړم د فتنے د کاڼړی دروغجن نه (یعنی دجال نه)۔

**فائده** : دا دعاء د مانځه په آخر کښے لوستلے شی او د مانځه نه روستو هم۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وترو دعاءِ قنوت

(۱) – اَللّٰهُمَّ اهْدِنِیْ فِیْمَنْ هَدَیْتَ وَعَافِنِیْ فِیْمَنْ عَافَیْتَ وَتَوَلَّنِیْ فِیْمَنْ تَوَلَّیْتَ وَبَارِكْ لِیْ فِیْمَا اَعْطَیْتَ وَقِنِیْ شَرَّ مَا قَضَیْتَ فَاِنَّكَ تَقْضِیْ وَلَا یُقْضٰی عَلَیْكَ اِنَّهٗ لَا یَذِلُّ مَنْ وَّالَیْتَ وَلَا یَعِزُّ مَنْ عَادَیْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَیْتَ .

[ النسائی رقم : ۱۷۲۵و ابوداود رقم : ۱٤۲۷، صحیح]

ترجمه : اے الله ! هدایت اوکړه ما ته په هغه چاکښے چه تا ورته هدایت کړیدے او جوړ اوساته ما (په دنیا او آخرت کښے) په هغه خلقو کښے چه تا روغ ساتلی دی، او دوستی اوکړه ما سره په هغه خلقو کښے چه تاورسره دوستی کړیده – او برکت واچوه ما دپاره په هغه څه کښے چه تا راکړیدی او اوساته مالره د شر د فیصلے ستا نه، یقینا ته فیصله کوے او ستا په مقابله کښے څوك فیصله نشی کولے، یقینا نه ذلیل کیږی هغه څوك چه ته ورسره مینه اوکړے او نه عزتمن کیږی هغه څوك چه ته ورسره دشمنی اوکړے، برکت اچونکے ته ئے اے ربه زمونږ او اوچت ئے ته .

(۲) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ لَا اُحْصِیْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ .

[صحيح : ابوداود رقم ۱٤۲۹ ـ الترمذی رقم : ۳٥٦٦]

**ترجمه** : اے الله ! زه پناه غواړم ستا په رضا، ستا د غصے نه او ستا په عافیت، ستا د عذاب نه. او پناه غواړم پتا ستا د عذاب نه، زه ستا پوره صفت نشم کولے، ته هم هغسے ئے څنګه چه تا د خپل ځان صفت کړیدے .

**فائده** : د رسول الله ﷺ نه دغه مذکوره دعا په صحیح سنده سره په وترو کښے هم ثابته ده لکه په روایت د ابوداود کښے (فِيْ آخِرِ وِتْرِهِ) الفاظ دی. او د وترو د سلام ګرځولو نه پس هم ثابته ده . د نسائی په بعض روایاتو کښے دی : اِذَا فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهٖ، وَتَبَوَّأَ مَضْجَعَهٗ. یعنی کله چه به د وترو نه فارغ شو او په بستره به ئے ډډه اولګوله . (علی القاریؒ)

(مرعاة المفاتيح ٤/۲۸۹ - باب الوتر).

## د وتر مانځه نه پس دعا

(۱) - سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ

**ترجمه** : پاکی ده الله لره چه ډیر زیات پاك بادشاه دے .

**فائده** : حدیث کښے راځی رسول الله ﷺ به چه کله د وترو نه فارغ شو نو درے ځله به ئے دغه دعا لوستله او په دریم ځل به ئے د مذکوره دعا سره -رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوْحِ - یوځائے کړو او لړ په اوچت آواز به ئے وئیله .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ابو داود رقم ۱۱۳۰ ـ النسائی رقم ۱٦۵۲ ـ وهو حديث صحيح]

## قنوت نازله

کله چه په مسلمانانو څه حادثه د دښمن د طرف نه راشی (نعوذ بالله منها) نو په مانځه کښې به د رکوع نه پس دعا (ښیرے) کوی، او په دے مقام کښې هره دعا لوستلے شی او احادیثو کښې د قنوت نازله دا لاندینی الفاظ راغلی دی:

(۱) - اَللّٰهُمَّ الْعَنْ عَلٰی فُلَانٍ.

ترجمه: اے الله! په فلانی لعنت اوکړه (نوم به ئے واخلی)

(۲) - اَللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِفُلَانٍ.

ترجمه: اے الله! فلانے را اونیسه (نوم به ئے واخلی)

(۳) - اَللّٰهُمَّ اَنْجِ فُلَانًا وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ.

ترجمه: اے الله! فلانے، او کمزوری مومنان د ظالمانو د لاسه خلاص کړه!.

(۴) - اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْاَتَكَ عَلٰی فُلَانٍ وَاجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ.

ترجمه: اے الله! فلانے (قوم) سخت را اونیسه او په دوئ د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قحط کلونه راوله، لکه د یوسف علیه السلام زمانه کښې چه څرنګ قحط راغلې وو.

(۵) - اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيْعَ الْحِسَابِ، اَللّٰهُمَّ اهْزِمِ الْاَحْزَابَ اَللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ.

ترجمه: اے الله! نازلونکے د کتاب ئے جلد حساب کونکے ئے. اے الله! شکست ورکړه ډلو د کافرانو ته. اے الله! شکست ورکړه او پریشانه ئے کړه او زلزله پرے راوله.

(۶) - اَللّٰهُمَّ مَزِّقْهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ.

ترجمه: اے الله! ذره ذره کړه دوئ په پوره ذره کولو سره.

(۷) - اَللّٰهُمَّ اَحْصِهِمْ عَدَدًا وَاقْتُلْهُمْ بَدَدًا وَلَا تُبْقِ مِنْهُمْ اَحَدًا.

ترجمه: اے الله! ته یو یو هلاك کړه دوئ - او اووژنه دوئ لره ټکړے ټکړے، او یو کس ترے (هم ژوندے) مه پریږده.

فائده: دا تمام روایات بخاری ۴۱۱/۱ - او ۵۶۹/۲ - راوړیدی.

(۸) - اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَخْلَعُ مَنْ يَّفْجُرُكَ. اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ، وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ، نَرْجُوْا رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ، اِنَّ عَذَابَكَ الْجِدَّ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ج،

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللّٰهُمَّ عَذِّبِ الْكَفَرَةَ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِكَ وَيُكَذِّبُوْنَ رُسُلَكَ وَيَقْتُلُوْنَ اَوْلِيَائَكَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ، وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ، وَأَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِهِمْ وَاَلِّفْ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَاجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَالْحِكْمَةَ وَثَبِّتْهُمْ عَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَوْزِعْهُمْ اَنْ يُوْفُوْا بِعَهْدِكَ الَّذِيْ عَاهَدْتَّهُمْ عَلَيْهِ، وَانْصُرْهُمْ عَلٰى عَدُوِّكَ وَعَدُوِّهِمْ، اِلٰهَ الْحَقِّ ! وَاجْعَلْنَا مِنْهُمْ.

[مصنف عبد الرزاق رقم : ۴۹۸۲، الاذکار المنتخبة من کلام سید الابرار (ﷺ) : ص۵۸ - والبیهقی فی السنن الکبری : ۲/ ۲۱۰]

**ترجمه** : اے الله ! مونږ ستا نه مدد غواړو او ستا نه بخښنه غواړو او ستا ناشکرئ نه ځان ساتو او په تا ایمان لرو او جدا کیږو د هغه چا نه چه ستا نافرمانی کوی۔ اے الله ! خاص مونږ ستا بندګی کوو او خاص تا دپاره مونځ او سجده کوو او ستا اړخ ته رازغلو او خدمت دپاره حاضریږو۔ ستا د رحمت امید واریو او ستا د عذاب نه یریږو۔ بیشکه ستا یقینی عذاب کافرانو ته رسیدونکے دے، اے الله ! هغه کافرانو ته عذاب ورکړه چه ستا د لارے نه منع کول کوی او ستا د رسولانو تکذیب کوی او ستا دوستان وژنی۔ اے الله ! نارینه او زنانه مؤمنانو ته بخښنه اُوکړه او د دوئ ترمینځ اصلاح اُوکړه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوئ د زړونو ترمینځ محبت پیدا کړه او د دوئ په زړونو کښې ایمان او حکمت پیدا کړه او دوئ په دین د رسول الله ﷺ باندې مضبوطه کړه او دوئ ته توفیق ورکړه چه ستا لوظونه پوره کړي کوم چه تا دوئ سره کړیدی او دوئ سره ستا د دشمنانو او د دوئ د دشمنانو په مقابله کښې مدد اُوکړه. اے حق معبوده ! او مونږ د دوئ نه اوګرځوه.

**فائده** : د قنوتِ نازله الفاظ هر مانځه کښې وئیل جائز دی، د جمع تخصیص پکښې نشته بلکه یواځې مونځ کونکے ئے هم وئیلے شي. مصنف عبد الرزاق کښې اُوګوره.

## د سحر مانځه نه پس اذکار

(۱) - لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط (سل (۱۰۰) کرته)

[المعجم الكبير : ۷۰۷۵ وابن السنى رقم ۱۴۲ - الصحيحة : ۲۶۶۴]

**ترجمه** : نشته حقدار د بندګۍ سوئ د الله نه، یواځے دے، هیڅ شریك ورله نشته، خاص د هغهٔ دپاره بادشاهی ده او خاص د هغهٔ دپاره حمدونه دی، هغه ژوندی کول او مړهٔ کول کوی، خاص د هغهٔ په لاس کښې ټول خیرونه دی، او هغه په هر شی باندے قدرت

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکے دے۔

**فائده** : حدیث کښے راغلی دی چا چه د سهار مانځه نه پس دا ذکر سل (۱۰۰) کرته اُولوستو په داسے حال کښے چه په خپل ځائے ناست وی او خپل هیئت د ناستے ئے نۀ وی بدل کړے، نو په دغه ورځ به ددۀ نه بهتر عمل والا هیڅوك نۀ وی مګر هغه څوك چه ددۀ په شان عمل وکړی یا ددے نه زیات وکړی۔

(۲) - سُبْحَانَ اللهِ سل (۱۰۰) کرته۔

لاَ اِلٰـهَ اِلاَّ اللهُ سل (۱۰۰) کرته۔

[ النسائی : ۱۲۸۲ صحیح الاسناد، البانی]

**فائده** : حدیث کښے دی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د سهار مانځه نه روستو دا مخکنی اذکار وکړل نو د هغۀ ګناهونه به معاف شی اګرکه د سمندر د زګ برابر وی۔

(۳) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسْئَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا طَيِّبًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا ط

[ابن ماجه :۹۲۵- ابن السنی:۵٤- احمد : (۲٦۷۳۰) (۲۷۲٦٦) صحیح

**ترجمه** : اے الله ! زۀ تا نه فائده من علم او مزیدار (حلال) رزق او قبول شوے عمل غواړم۔

**فائده** : حدیث کښے دی چه رسول الله ﷺ به دا دعاء د سهار مانځه د سلام ګرځولو نه پس لوستله۔ (نفس المصدر)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) - اَللّٰهُمَّ بِكَ اُحَاوِلُ وَبِكَ اُصَاوِلُ وَبِكَ اُقَاتِلُ .

[صحيح : ابن السنى : ۱۱۷ - واحمد : ۴/۳۳۲، ۳۳۳ ۶/۱۶ - والدارمى ۲/۲۱۶ - وابن حبان : ۱۹۷۵/۲۰۲۷ - والطبرانى فى الكبير : ۷۳۱۸]

**ترجمه :** اے الله ! زۀ تا نه د خپلو مقصدونو کاميابى غواړم او هم ستا په مدد سره په دشمنانو باندے حمله کوم او هم ستا په مدد سره جهاد کوم۔

**فائده :** بعض علماء وائى چه دا دعا د چاشت مانځه نه روستو لوستل پکار دى ليکن صحيح دا ده چه د سهار فرض مانځه نه روستو لوستلے شى لکه چه په ابن السنى : رقم (۱۱۷) کښے دى۔

## د سهار او ماښام مانځه نه پس (۱۰) کرته لوستلو ذکر

لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَـهٗ، لَـهُ الْمُلْكُ وَلَـهُ الْحَمْدُ يُحْيِ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ .

[صحيح الترغيب والترهيب : ۴۷۲ و ۴۷۷ حسن لغيره]

**فائده :** حديث کښے راغلى دى : چا چه د سهار او ماښام مانځه نه روستو (۱۰) کرته دا ذکر وکړو نو د هغۀ دپاره به لس (۱۰)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکۍ ولیکلې شي، او لس (۱۰) گناهونه به ئې معاف شي او د هغهٔ
دپاره به د هرې سختۍ او مصیبت نه پرده او بچاؤ جوړ شي او د
شیطانِ مردود نه به هم ورته بچاؤ حاصل شي او د شرك نه سوی
هیڅ گناه به دهٔ لره راونهٔ نیسي او په عمل کښې به ددهٔ نه هیڅوك
بهتر نهٔ وی مگر هغه چه ددهٔ په شان عمل وکړي یائې ددهٔ نه زیات
وکړي۔

## په سفر کښې د صبا صادق لیدو وخت کښې دعا

سَمِعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللهِ وَنِعْمَتِهٖ وَحُسْنِ بَلَائِهٖ عَلَيْنَا،
رَبَّنَا صَاحِبْنَا فَأَفْضِلْ عَلَيْنَا عَائِذًا بِاللهِ مِنَ النَّارِ ط

[مسلم رقم: ۷۰۷۵، المستدرك رقم: ۱۶۷۸۔ ابوداود رقم (۵۰۸۸)]

**ترجمه:** گواهي اُوکړه گواهي کونکی د الله د صفت او د هغهٔ د
نعمت او په مونږ باندې د هغهٔ د ښائسته احسان۔ اې ربه زمونږ!
تهٔ زمونږ سره ملگرې شه او په مونږ باندې فضل اُوکړه، پدې دا
کولو سره زهٔ د دوزخ نه په الله سره پناه غواړم۔

**فائده:** بهترینه دعا ده، په سفر کښې لوستلې شي، په روایت د
ابوداود کښې د (رَبَّنَا) په ځائې (اَللّٰهُمَّ) لفظ راغلې دې، ددې نه علاوه
د (صحیح ابن خزیمة :: ۲۵۷۱) په روایت کښې د (عَائِذًا) په ځائې د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ستُرًا) لفظ راغلے دے او پدے کښے د درے کرته په اُوچت آواز سره لوستلو ذکر راغلے دے۔

## کله چه سپوږمئ راخيژي

اَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شَرِّ هٰذَا الْغَاسِقِ اِذَا وَقَبَ .

[صحيح : ابو داود : ۳۳۶۶ ابن السنى : ٦٤٨ - احمد : ٦١/٦، ٢٠٦،
٢٣٧]

ترجمه : زهٔ په الله پورے ددے راخوريدونکے شپے د شر نه پناه غواړم۔

فائده : رسول الله ﷺ عائشے رضى الله عنها ته وفرمايل : تَعَوَّذِىْ بِاللهِ مِنْ شَرِّ غَاسِقٍ يَعْنِى الْقَمَرَ. يعنى الله پورے پناهى طلب کړه ددے راخوريدونکے شپے د شر نه۔ (يعنى د سپوږمئ نه چه دا د شپے د راتللو نښه ده) [ صحيح الكلم الطيب : ١٥٨]

## د نوے مياشتے د ليدلو دعاګانے

کله چه سپوږمئ اُووينى نو اَللّٰهُ اَكْبَرُ - وئيل پکار دى او بيا دا دعا لوستل پکار دى :

اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْاِيْمَانِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللّٰهُ

ترجمه :اے الله ! را اوخیژه وه (دا میاشت) په مونږه باندے په برکت او په ایمان او په سلامتیا او اسلام کښیے، رب زما او رب ستا الله تعالیٰ دے۔

[الترمذی : ٣٦٩٥- الحاکم : ٢٨٥/٤- احمد : ١٦٢/١- ابن السنی : ٦٤١- الصحیحة : ١٨١٦، فیه سلیمان بن سفیان ضعیف ولکن الحدیث صحیح لکثرة شواهده، البانی]

نوټ : د ابن السنی په روایت کښیے د (بِالْيُمْنِ) په ځائے (بِالْأَمْنِ) لفظ راغلے دے۔

## د نمر او سپوږمۍ د تندر په وخت دعا

عائشه رضی الله عنها نه په یو اُوږد حدیث کښیے د نبی کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغۀ وفرمایل :

اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ مِنْ آيَاتِ اللّٰهِ وَإِنَّهُمَا لَا يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهٖ، فَإِذَا رَأَيْتُمُوْهَا فَكَبِّرُوْا، وَادْعُوا اللّٰهَ وَصَلُّوْا وَتَصَدَّقُوْا.

[بخاری : ١٤٢/١_ مسلم ٢٩٥/١- ٢٩٦_جامع الاصول : ٦ /١٥٦ ٢٦٤]

ترجمه : یقیناً نمر او سپوږمۍ د الله د قدرت نښے دی، او دا دواړه د چا د مرګ او د چا د ژوندی کیدو په وجه تندر نۀ نیسی (لکه څنګه چه د عربو عقیده وه، بلکه دا د الله د قدرت یوه نښه ده چه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندګانو ته ئے د عبرت په طور ښائی) نو کله چې تاسو دا اُووینئ نو تکبیر وایئ او د الله نــه دعـاء غـواړئ او مونځونـه کوئ او صدقـه ورکوئ۔

**فائده ۵:** د هر آفت او مصیبت په وخت کښې که کسوف وی یا زلزله وی یا اچانك تیارهٔ راشی نو راتلونکی کارونه کول پکار دی:

۱۔ صدقـه کـول۔ (یـا د صدقـې نیت کول، او پـه ځان باندې د مصیبت پـه وخت کښې نذر کول چه زهٔ به دومره دومره مال صدقه کوم) ځکه چه صدقه هر مصیبت دفع کوی۔

۲۔ دعـا غـوښتـل۔ ۳۔ د خپلـو ګـنـا هونو نـه توبـه ویستل او استغفار طلب کول۔ ٤۔ لا حول ولا قوة الا بالله وئیل۔

۵۔ غلامان آزادول۔ (مصیبت زده نه تکلیف لرې کول)۔

٦۔ ډیر مـونـځـونه کول۔ (رسول الله ﷺ باندې به چه کله څه غم او پریشانی راغله مانځه ته به ئے پنا هی وړه)۔

۷۔ الله اکبر وئیـل۔ ۸۔ سبحان الله وئیـل۔ ۹۔ الحمد لله وئیل۔

۱۰۔ لا اله الا الله وئیـل۔

۱۱۔ صبر کول۔ یعنی جزع فزع او فریاد او چغې نهٔ وهل۔

[البخاری ۱/۱٤۵ - ابوداود: ۱۱۷۷،۱۱۹۲،۱۱۹۵]

دا کارونه د هر مصیبت په وخت کښې ډیر کار ورکوی۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوراک، څښاک دعاګانې

## (۱) – بِسْمِ اللّٰهِ .

[بخاری ۲/ ۲۰۹_مسلم ۲/ ۱۷۲_ الصحیحة ۱/ ۶۱۱]

( د الله تعالی په نوم شروع کوم)

**فائده** : د خوراك شروع کولو په وخت کښې په ذخیره د احادیثو کښې صرف دا الفاظ ثابت دی، پوره بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ د خوراك دپاره چرته هیڅ حدیث کښې نشته، ومن ادعی فعلیه البیان .

بلکه روایت د طبرانی (۳/ ۲۱۲)کښې راځی چه :

يَا غُلَامُ اِذَا اَكَلْتَ فَقُلْ بِسْمِ اللّٰهِ وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ .

[الصحیحة ۱/ ۶۱۱و ۶۱۴_ ۱۱۱_ مسند احمد ۴/ ۶۲/ ۵/ ۵۷۵]

دارنګ - بِسْـمِ الـلّٰهِ وَعَلٰى بَرَكَةِ اللّٰهِ – هم چرته حدیث کښې ندی راغلی،

یو روایت د مستدرك (۴/ ۱۰۷) کښې راغلی دی او هغه هم داسې الفاظ ندی، بلکه داسې دی : كُلُوْا بِسْمِ اللّٰهِ وَبَرَكَةِ اللّٰهِ .

(یعنی د الله په نوم او د الله په برکت خوراك شروع کړئ) نو علماء وائی چه د هغه حدیث په سند کښې عبد الله بن کیسان ابو مجاهد راوی دے او هغه منکر الحدیث دے : واحادیثه غیر محفوظة کما فی الکامل ۴/ ۱۵۴۷_ میزان الاعتدال ۲/ ۴۷۵_ تقریب ۱۸۶)_

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځکه چې پدې کښې دا هم نشته چه تاسو بسم الله وعلی برکة الله
ووایی، بلکه مطلب دا دے چه تاسو خوراك د الله په نوم سره شروع
کړئ نو الله به پکښې برکت اچوی.

**که بسم الله په اوله کې هیره شی او د خوراک د شروع نه پس ورته یاده شی نو دا دعا به وائی**

بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهُ وَآخِرَهُ .

[ابو داود رقم ۷٦۷ ـ الترمذی رقم ۱۸۵۸ ـ ابن السنی رقم ٤۵۹ ]

ترجمه : شروع کوم په نوم د الله تعالی په اوّل او آخر ددے
خوراك کښې.

**د خوراک نه روستو دعا**

(۱) – اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنِیْ هٰذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِیْهِ
مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ .

[ابو داود رقم : ٤٠۲۳ وسنده صحیح]

ترجمه : صفتونه د کمال هغه الله لره دی چه رائے کړو ما ته دا
طعام، او روزی ئے کړو ځما، په غیر د طاقت زما نه.

فائده : چا چه دا دعا اولوستله نو مخکنی تهول ګناهونه به ئے
معاف شی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْراً طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا.

[رواه البخاری فی الاطعمة ۲/۸۲۰ رقم: ۵۴۵۸]

ترجمه: صفتونه د کمال الله تعالی لره دی، ډیر، مزیدار، برکت والا. اې الله! نه دې کافی زمونږ دا طعام، او نه دې رخصت کړې شوې، او نه ترې بې پرواهي ده ربه زمونږ!.

فائده: کله به چه دسترخوان اوچت کړې شو نو رسول الله ﷺ به دغه دعا لوستله.

(۳) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ (صفتونه د کمال خاص الله لره دی)

[مسلم رقم: ۷۱۰۸]

فائده.: د مسلم شریف په حدیث کښې راځی، الله تعالی د هغه بنده نه خوشحالیږی چه څه خوراك يا څكاك اوكړی او د الله حمد او ثنا پرې اووائی.

(۴) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ اَطْعَمَ وَسَقٰى وَسَوَّغَهٗ وَجَعَلَ لَهٗ مَخْرَجًا.

[ابو داود رقم ۳۸۵۱ـ ابن حبان ۱۳۵۱ ـ ابن السنّی رقم ۴۷۰، صحیح]۔

ترجمه: صفتونه د کمال خاص الله لره دی چه خوراك، څكاك ئې راكړو، او تيرئې كړو څما، او لاره د وتلو ئې ورله اوګرځوله.

فائده: دا دعا به دخوراك او د اوبو څكلو نه پس وئيلې شی. او دا دعا د هغه مشهورې دعا نه بهتره ده چه:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ .

ځکه دغه حدیث ضعیف دی د ابو سعید مولیٰ پکښې مجهول دی او لفظ د (مِنْ) هم پکښې نشته او حدیث مضطرب هم دی.

(۵) — اَللّٰهُمَّ اَطْعَمْتَ وَاَسْقَیْتَ، وَاَغْنَیْتَ وَاَقْنَیْتَ وَهَدَیْتَ وَاَحْیَیْتَ فَلَكَ الْحَمْدُ عَلٰی مَا اَعْطَیْتَ .

[احمد : ۱٦٦٤٦، ابن السنی رقم ٤٦٥ ـ الصحیحة رقم ۷۱ ـ وسنده صحیح]

ترجمه : اې الله ! تا خوراك او څكاك راكړو او تازه بې پرواه كړم، او تا قناعت (صبر) راكړو، او هدايت دې اوكړو، او ژوندی كول ته كوئې، پس تا لره صفتو نه دی په هغه څه چه تا راكړيدی.

## د اوبو څکلو مستقله دعا

(۱) — اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ .

صرف وئيل دی، او مخکښې ځلورم نمبر دعا تيره شوه هغه وئيل پكار دی)-

## میلمه به کور والا ته دا عا کوی

(۱) — اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِیْمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَارْحَمْهُمْ

[مسلم ۲/۱۸۰ په روایت کښې - فَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ راغلي دي ،

ابن السني رقم ٤٧٦، روایت کښې وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ راغلي دي)

**ترجمه** : اے الله ! برکت واچوے دوئ دپاره په هغه څه کښې چه تا ورکړيدی دوئ ته، او بخښنه ورته اوکړه او رحم پرے اوکړه.

**(۲) - اَكَلَ طَعَامَكُمُ الْاَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ وَاَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُوْنَ .**

[ابو داود رقم ۳۸۵٤ـ ابن السنی ٤٨٢ـ احمد۳/۱۳۸ رقم: ۱۲٤۲۹، صحیح]

**ترجمه** : اُوڊِے خوری طعام ستاسو نیکان خلق، او بخښنه دِے اوغواړی تاسو دپاره ملائك، او روژه دِے ماته کړی تاسو کره روژه دار.

**فائده** : دا دعا به میلمه کور والو ته کوی، برابره ده چه میلمه روژه دار وی او که نه.

**(۳) - اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِیْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِیْ.**

[مسلم۲/۱۸٤ رقم: ۵٤۸۳، مسند احمد: ۲۳۸٦۰]

**ترجمه** : اے الله ! خوراك ورکړے هغه چا ته چه ماته ئے خوراك راکړو، او څکاك ورکړے هغه چا ته چه ماته ئے څکاك راکړو.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیو (شودو) څکلو دعا

(۱) - اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ .

[ابو داود رقم : ۳۷۳۲، احمد : ۱۹۷۸، (ابن السنی رقم ٤٧٤) اسناد حسن، البانی وشعیب]

**ترجمه** : اے الله ! برکت واچوے مونږ ته پدے کښے او د دے نه زیات راکړے مونږ ته .

**فائده** : حدیث کښے راځی : کله چه یو انسان ته الله تعالی خوراك ورکړی نو داسے دعا دِے اوکړی :

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَاَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ

او کله چه پئ اوڅکی نو دغه مذکوره دعا دِ اووائی . (نفس المصدر)

## د نوے میوے د خوراک په وخت دعا

(۱) - اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ ثِمَارِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِيْ مَدِيْنَتِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِيْ صَاعِنَا وَمُدِّنَا .

[ترمذی رقم (۳٤٥٤) ابن ماجه رقم ۳۳۲۹، صحیح]

**ترجمه** : اے الله ! برکت واچوه په میوو زمونږ کښے او برکت واچوه مونږ له په ښار زمونږ کښے او برکت واچوه مونږ له په دړئ،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په سير زمونږ کښې.

**فائده :** کله به چه نوې ميوه رسول الله ﷺ ته راوړې شوه نو هغوی به لاس کښې واخسته او دغه دعا به ئې اولوستله، بيا به ئې حاضر خلقو کښې يو وړوکی ماشوم ته ورکړه.

## د روژه ماتی (افطار) دعا

(۱) - ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى.

[ابوداود رقم ۲۳۵۱ ـ وسنده حسن]

**ترجمه :** تنده ختمه شوه او لامده شو رګونه، او ثابت شو ثواب ان شاء الله.

**فائده :** د روژه ماتی په وخت کښې دعا بنه قبليږی، ډيرے دعاګانے کول پکار دی، رسول الله ﷺ فرمائی : د روژه دار دپاره د روژِه ماتی په وخت کښې دعاء نۀ رد کيږی. ددے وجه نه عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما به خپل اهل او اولاد راوغوښتل او دعاء به ئې کوله.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بازار کښې د داخليدو دعا

(۱) - لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ .

ترجمه : نشته دے حقدار د بندګۍ سِوا د الله نه، يو دے، شريك ئے نشته، خاص هغه لره بادشاهي ده او خاص هغه لره صفتونه د كمال دي، او هغه ژوندے دے، نه مري، او په لاس د هغه كښې خير دے او هغه په هر څه قدرت والا دے.

فائده : دا حديث حسن دے ترمذي رقم ۳۶۶۸، الحاكم ۱/ ۵۳۸، ابن السني ۱۲۸، الزهد لاحمد ۲۱٤، صحيح الكلم الطيب ص ۲۲۹) راوړيدے او ډيره لويه فائده لري، حديث كښې راځي : چا چه دغه دعا اولوستله نو الله پاك به هغه لره لس لاكهه نيكۍ اوليكي او لس لاكهه ګناهونه به ئے معاف شي او لس لاكهه درجے به ئے اوچتے شي، او په جنت كښې به ورله يو كور آباد شي. كما في ابن ماجه رقم (۲۲۳۵).

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استخارے دعا

د استخارے دعا به رسول اکرم ﷺ خپلو صحابو ته په ډیر اهتمام سره خودله لکه څرنګه چه د قرآن کریم یو سورت به ئے دوئ ته خودلو، او دا به ئے فرمائیل: کله چه یو کس په تاسو کښې د یو کار اراده اوکړی، که هغه د دنیا کار وی او که ددین وی، نو دوه رکعته مونځ دې اوکړی او بیا دې دا دعا اووائی:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِیْرُكَ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَاَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِیْمِ فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَیْرٌ لِیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ وَعَاجِلِهٖ وَآجِلِهٖ فَاقْدُرْهُ لِیْ وَیَسِّرْهُ لِیْ ثُمَّ بَارِكْ لِیْ فِیْهِ وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ وَعَاجِلِهٖ وَآجِلِهٖ فَاصْرِفْهُ عَنِّیْ وَاصْرِفْنِیْ عَنْهُ وَاقْدُرْ لِیَ الْخَیْرَ حَیْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِیْ بِهٖ .

[البخاری ۱/ ۱۵٦ رقم: ۱۱٦٦]

ترجمه: اے الله! زهٔ طلب د خیر کوم ستا نه، ستا په علم باندے، او قدرت طلب کوم، تا نه ستا په قدرت، او غواړم ستا لویه مهربانی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ته طاقت والائے او زهٔ طاقت والا نه یم او ته پو هیږے او زه نه پو هیږم او ته پو هه ئے په پټو ځیزونو . اے الله ! کچرته تا ته معلومه وی چه دا کار ځما دپاره غوره دے په دین او دنیا ځما کښے او د انجام په لحاظ او فی الحال او په روسته زمانه کښے، پس مقرر ئے کړه ما لره او بیا برکت واچوے ماله پدے کښے، او کچرته تا ته پته وی چه دا کار شر دے ما لره په دین او دنیا ځما کښے او په انجام د کار ځما کښے که فی الحال وی او که روسته زمانه کښے، نو دا کار واړه وے ځما نه، او ما واړوے د هغے نه، او مقرر کړه ما لره خیر چرته چه وی، بیا مے پدے خوشحاله کړه.

**فائده :** ددے دعا دپاره خوب لیدل شرط نهٔ دے او نهٔ د شپے وئیل ددے دعا شرط دے، بلکه څه وخت چه د انسان یو کار ته اراده اوشی نو استخاره دِے اوکړی . بعضِ روایاتو کښے استخاره اوه (۷) ځله راغلی ده، لیکن هغه ډیر زیات ضعیف دی . په استخاره کښے ډیرے فائدے دی نو په هر کار کښے مؤمن له استخاره کول پکار دی .

## د غم، خفګان
## او پریشانئ په وخت دعاګانے

(۱) – لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيْمُ الْحَلِيْمُ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَرَبُّ الْاَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمُ

[بخاری ۲/ ۹۳۹ ـ مسلم ۲/ ۳۵۱]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه :** نشته حقدار د بندگئ سِوا د الله نه، چه مالك د لوئی عرش دے او نشته حقدار د بندگئ سوا د الله نه، چه رب د آسمانونو او رب د زمکے دے او د عرش عزتمند دے.

**فائده :** رسول الله ﷺ به دا دعا د پریشانئ په وخت غوختله.

**(۲) – يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِيْثُ .**

[الترمذی رقم (۳٤۳۲)- ابن السنی رقم (۳۳۷) - الحاکم ۱/۵۰۹- حدیث حسن]

**ترجمه :** اے ژوندے ذاته ! اے تدبیر کونکیه ! ستا په رحمت زه امداد طلب کوم.

**فائده :** رسول الله ﷺ به چه څه کار پریشانه کړونو دا دعا به ئے فرمائیله.

**(۳) – اَللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ اَرْجُوْ فَلَا تَكِلْنِیْ اِلٰی نَفْسِیْ طَرْفَةَ عَیْنٍ، وَاَصْلِحْ لِیْ شَاْنِیْ کُلَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ .**

[ابو داود رقم ۵۰۹۰- ابن حبان رقم ۲۳۷۰- وسنده حسن]

**ترجمه :** اے الله ! ستا د رحمت امید ساتم، پس ما مه سپاره خپل نفس ته په اندازه د رَف د سترگے، او اصلاح د ټولو کارونو ځما اوکړے، نشته حقدار د عبادت سوا ستا نه. دا هم د غمزده او پریشان حالی دعا ده.

**(۴) – اَللّٰهُ، اَللّٰهُ رَبِّیْ لَا اُشْرِكُ بِهٖ شَیْئًا .**

[ابوداود رقم ۵۲۵- ابن حبان ۲۳۶۹- ابن ماجه رقم ۳۸۸۲- احمد ۶/۳۶۹- وسنده حسن]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : الله، الله زما رب دے، زه د هغه سره هیڅ شے نه شریک کوم. دا دعا د غم په وقت درے ځله وئیل پکار دی - او په بل روایت کښے د - شیئا - په ځائے - احدا - راغلے دے.

(۵)- لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّی کُنْتُ مِنَ الظَّالِمِیْنَ.

[صحیح : احمد ۱/۱۷۰ - حاکم ۲/۳۸۳ - ترمذی رقم ۳۷۵۲]

ترجمه : نشته حقدار د عبادت سوا ستا نه، پاکی ده تا لره، بیشکه زه د ظالمانو نه یم.

فائده : حدیث کښے راځی : دا دعا یو مسلمان مصیبت زده سړے نه وائی په یو کار کښے مګر الله تعالی به ورله خامخا دعا قبلوی. (وسنده صحیح)

(۶) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ اَمَتِكَ نَاصِیَتِیْ بِیَدِكَ، مَاضٍ فِیَّ حُکْمُكَ، عَدْلٌ فِیَّ قَضَاءُكَ، اَسْئَلُكَ بِکُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّیْتَ بِهٖ نَفْسَكَ، اَوْ عَلَّمْتَهٗ اَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، اَوْ اَنْزَلْتَهٗ فِیْ کِتَابِكَ اَوِ اسْتَاْثَرْتَ بِهٖ فِیْ عِلْمِ الْغَیْبِ عِنْدَكَ اَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِیْعَ قَلْبِیْ وَنُوْرَ صَدْرِیْ وَجَلَاءَ حُزْنِیْ وَذَهَابَ هَمِّیْ.

[صحیح : ابن حبان ۲۳۷۲ - الحاکم ۱/۵۰۹ - احمد رقم: ۳۷۱۲ - سلسلة الاحادیث الصحیحة ۱/۳۳۷، رقم ۱۹۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : اے الله ! زه ستا بنده يم او ځوی د بنده ستا يم او ځوی د وينځې ستا يم، زما سر ستا لاس کښې دے، جاری ده په ما کښې فيصله ستا، د انصاف ده په ما کښې فيصله ستا، غوارم ستا نه په هر هغه نوم چه تا ځان له ايخودے دے، او يا تا يو کس ته ورخودلے وی د خپل بندګانو نه، او يا تا نازل کړے وی په يو کتاب ستا کښې، يا دِے ځان سره په علم غيب کښې ساتلے وی - چه ته اوګرځوے قرآن مجيد سپرلے د زړه زما، او رنړا د سينے زما، او ختمول د خفګان زما او بوتلل د فکر او غم زما.

فائده : حديث کښې راځی، کله چه يو انسان ته څه غم يا پريشانی اورسيږی او دا دعا اووائی نو غمونه او پريشانی به ورله الله تعالی لرے کړی او ددے پځائے به ورته الله تعالی خوشحالی ورنصيب کړی.

## د تمامو مصيبتونو علاج

اَللّٰهُمَّ اَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِي الْاُمُوْرِ كُلِّهَا وَاَجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْاٰخِرَةِ .

ترجمه : اے الله ! زمونږ انجام ښه کړه په ټولو کارونو کښې او مونږ او ساته د دنيا د شرم او د آخرت د عذاب نه.

فائده : حديث کښې راځی چه څوك دا دعا اووائی نو مړ به شی خو مصيبت به ورته اونه رسيږی يعنی تر مرګه به د بلا ګانو نه خلاص وی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد ۴/۱۸۱، مستدرك ۳/۵۹۱، مجمع الزوائد ۱۰/۱۷۸ وقال رجاله ثقات، ابن حبان فی صحیحه ۲/۱۵۰]

او په بل روایت کښې :

"اَللّٰهُمَّ اَحْسِنْ عَاقِبَتِیْ فِی الْاُمُوْرِ كُلِّهَا وَاَجِرْنِیْ مِنْ خِزْیِ الدُّنْیَا وَعَذَابِ الْاٰخِرَةِ" راغلې دي.

## د تکلیف په وخت دعا

حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا.

ترجمه : کافي دې زمونږ دپاره الله تعالی او ډیر ښه ذمه وار دې. او خاص په الله مونږ ځان سپارلې دې.

فائده :حدیث کښې راځي چه نبي علیه السلام د اسرافیل علیه السلام د شپیلئ تذکره اوفرمائیله، نو صحابه کرامو عرض اوکړو چه مونږ به څه وایو ؟ نو نبي علیه السلام ورته دغه دعا ور اُوخودله.

[صحیح : الترمذی رقم : ۲۴۳۱، و ۳۲۴۳، احمد : ۳۰۱۰، ابن حبان ۲/۹۵ـ صحیح الجامع الصغیر رقم : ۴۵۹۲]

دارنګه صحیح بخاري کښې راځي چه دا کلمه ابراهیم علیه السلام وئیلې وه اور ته د غورځیدلو په موقعه کښې او نبي علیه السلام وئیلې وه د مشرکینو سره د جنګ په موقعه کښې.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دښمن یا د ظالم بادشاه نه د یرے په وخت دعاګانے

(۱) - اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَجعَلُكَ فِىْ نُحُوْرِهِمْ وَنَعُوْذُ بِكَ مِنْ شُرُوْرِهِمْ .

[ابوداود ۱/ ۱۵۳۷ـ النسائی ـ احمد ٤/٤١٤ـ الحاکم ۲/۱٤۲]

**ترجمه :** اے الله ! مونږ تا ګرځوو د دوئ په سینو کښے او پناه غواړو پتا د شرونو د دوئ نه .

**فائده :** رسول الله ﷺ به چه کله د چا د شر نه یریدو، نو دا دعا به ئے فرمائیله .

(۲) - اَللّٰهُمَّ اَنْتَ عَضُدِىْ وَنَصِيْرِىْ بِكَ اَحُوْلُ وَبِكَ اَصُوْلُ وَبِكَ اُقَاتِلُ .

[صحیح : ابوداود رقم ۲٦۳۲ـ ترمذی رقم ۳۵۸۸ـ احمد ۳/۱۸٤]

**ترجمه :** اے الله ! ته څما مټ ئے او څما مدد ګارئے، په تا طاقت نیسم او ستا په مدد سره حمله کوم او ستا په مدد سره جنګ کوم.

(۳) - حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ .

[بخاری ۲/٦۵۵]

**ترجمه :** کافی دے مونږ لره الله تعالی او ډیر ښه کارساز دے .
(فائده ئے مخکښ تیره شوه)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نوی نعمت ملاویدو په وخت دعاګانې

(۱) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ بِنِعْمَتِهٖ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ .

[ابن ماجه رقم ۳۸۰۳ـ الحاکم ۴۹۹/۱ـ ابن السنی رقم ۳۷۸ اسناد حسن]ـ

ترجمه : صفتونه د کمال هغه الله لره دی، چه پوره کیږی د هغه په نعمت سره ښه حالتونه .

فائده : رسول اکرم ﷺ به چه کله یو شے د خوشحالیدو اولیدو نو دا دعا به ئے فرمائیله، او کله به چه هغوی د څه خفګان شے اولیدو نو داسے به ئے وئیل : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی كُلِّ حَالٍ

(۲) - مَاشَاءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ .

ترجمه : څه چه الله اوغواړی (کوی) او طاقت نشته مګر په الله دے.

فائده : حدیث کښے راځی : کوم انسان باندے چه الله تعالی احسان اوکړی د ښځے یا د مال یا د اولاد، ا دا دعا اووائی نو په هغے کښے به هیڅ آفت اُونه وینی، بغیر د مرګ نه .

(ابن السنی رقم : ۳۵۷ـ الطبرانی فی الصغیر ۱۲۲ـ سند لړ ضعیف دے لیکن ددے تائید د قرآن نه معلومیږی (سورة الکهف آیت ۳۹ وَلَوْ لَا اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَاءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ] (ولے تا داسے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ وئیل کله چه تهٔ خپل باغ ته داخل شوے چه څه چه الله وغواړی هغه کیږی نشته طاقت مگر په الله دے).

(۳) - **سجدهٔ شکر** کول پکار دی، کله چه څه نوے نعمت انسان ته ملاؤ شی، او دا سجده د شکر په یولس (۱۱) احادیثو کښې راغلې ده.

## د مصیبت په وخت ذکرونه

(۱) - اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ. اَللّٰهُمَّ أْجُرْنِىْ فِىْ مُصِيْبَتِىْ وَاَخْلِفْ لِىْ خَيْرًا مِنْهَا .

[مسلم ۱/ ۳۰۰ رقم: ۲۱٦٥]

ترجمه : مونږ د الله تعالی یو او مونږه هغه ته ورگرځیدونکی یو . اے الله ! ثواب راکړے ما ته په مصیبت څما کښې او بدل کښې راکړے غوره د دے نه

**فائده** : رسول الله ﷺ فرمائی : نشته یو بنده چه هغه ته څه مصیبت ورسیږی او دا دعا اووائی، مگر الله به دهٔ لره ثواب ورکړی پدے مصیبت کښې . او غوره شے به ددے په عوض کښې ورکړی. ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : هرکله چه ابوسلمه وفات شو نو ما دا دعا ووئیله ځنگه چه ما ته نبی علیه السلام حکم کړے وو نو ما ته الله تعالیٰ د ابوسلمه نه غوره شخص رسول الله ﷺ په بدله کښې راکړو. (ددے دعا په وجه ام سلمه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ په نکاح کښې راغله)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) – قَدَّرَ اللّٰهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ .

[مسلم ۲/ ۳۳۸ رقم: ٦٩٤٥]

ترجمه : (هر شے) الله په اندازه کړیدے او څه چه اوغواړي، کوی ئې.

تنبیه : دے لفظ کښے ((قَدَرُ اللّٰهِ)) لوستل هم جائز دی، او معنی دا ده : دا شے د الله په تقدیر سره وشو. او دا قراءت د مقام د مصیبت سره ډیر مناسب دے.

فائده : حدیث کښے راځی چه اسباب استعمال کړه او د الله تعالی نه مدد غواړه، که بیا هم څه تکلیف در ورسیږی نو دغه مذکوره دعا وایه !.

(۳) – لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَتَبَارَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ .

[صحیح : مسند احمد رقم : ۷۰۱، الدعاء للطبرانی ۱۰۱۱، المستدرك ۱۸۷۳]

ترجمه : نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه چه صبرناك او عزتمند دے، پاکی ده الله لره، او برکت ورکونکے دے الله تعالیٰ چه مالك د لوی عرش دے، او ټول د کمال صفتونه الله لره دی چه پالونکے د مخلوقاتو دے.

فائده : علی رضی الله عنه فرمائی : ما ته رسول الله ﷺ دا دعاء وغوښتله چه زۀ دا د مصیبت او پریشانئ په وخت وایم.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ماشومانو د دمولو دعا

(١) – أُعِيذُ كُمَا بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ

[بخاری ١/٤٧٧ رقم: ٣٣٧١ ابوداود رقم: ٤٧٣٩ والترمذی رقم: ٢٠٦٠ واللفظ لهما]

**ترجمه**: پناه غواړم تاسو دواړو لره په کلماتو د الله تعالی باندې چه پوره دی، د هر شیطان نه او د هر ضرري حیوان نه، او د هرې سترګې نه چه راجمع کونکې ده شر لره.

**فائده**: رسول الله ﷺ به حَسَن او حُسَین رضی الله عنهما پدې دعا سره دمول، او دا به ئې فرمایل چه ستا پلار به پدې سره اسماعیل او اسحاق علیهما السلام دمول. او دا دعا یو دپاره هم بغیر د تبدیلۍ نه لوستل بهتر دی، پیغمبری الفاظ دی.

## د بیمار پرسۍ وخت کبنې دعا

(١) – "لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ".

[بخاری ٢/٨٤٥ رقم: ٣٦١٦، ٥٦٥٦، ٥٦٦٢]

**ترجمه**: باك نشته، دا بیماری پاکونکې ده ستا ګناهونو لره ان شاء الله.

**فائده**: نبی علیه السلام به د بیمار تپوس په وخت کبنې دا دعا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمائیله.

(۲) - اَسْئَلُ اللّٰہَ الْعَظِیْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ اَنْ یَّشْفِیَكَ.

[ترمذی رقم ۲۱۸۰ـ وسنده صحیح]

**ترجمه:** زه د لوئی الله نه غواړم، چه مالك د لوئی عرش دے چه تا له شِفا درکړی!.

**فائده:** رسول الله ﷺ فرمائی: نشته یو بنده مسلمان چه تپوس وکړی د یو بیمار، چه اجل (نیتهه) ئے لا نه وی حاضره شوی او دا دعا اووه (۷) ځله اووائی مګر بیمار به الله خامخا رغوی.

(۳) - اَذْهِبِ الْبَاْسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ وَاَنْتَ الشَّافِیْ لَا شِفَاءَ اِلَّا شِفَاءُكَ شِفَاءً لَایُغَادِرُ سَقَمًا.

[بخاری ۸٤٧/۲، رقم: ٥٦٧٥ مسلم رقم: ٥٨٣٦]

**ترجمه:** ختمه کړه بیماری اے د خلقو ربه! او شفا ورکړه ده ته، او ته شفا ورکونکے ئے، نشته شِفا مګر ستا شفا ده، داسے شفا ورکړه چه بیماری پرے نږدی.

(۴) - سُوْرَةُ الْفَلَق، سُوْرَةُ الناسِ.

[بخاری رقم: ٥٨٤٣]

(۵) - سُوْرَةُ الفاتِحَة.

[بخاری رقم: ۲۲۷٦، مسلم: ٥٨٦٣]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داتهول په صحیح احادیثو کښې راغلې دي چه د شفا دپاره ئې لوستلې شي.

(٦) - بِسْمِ اللهِ اَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللهِ وَقُدْرَتِهٖ مِنْ شَرِّ مَا اَجِدُ وَاُحَاذِرُ

[مسلم ۲/۲۲٤ رقم: ٥٨٦٧، ابو داود رقم: ۳۸۹۳، الترمذی: ۳٥۸۸]

ترجمه: په نوم د الله تعالی، پناه غواړم په عزت او قدرت د الله تعالی باندې، د شر د تکلیف هغه نه چه زه ئې مومم او ترې یریږم.

فائده: حدیث کښې راځي د چا چه کوم ځائې درد کوی نو درې ځله دې - بِسْمِ اللهِ بِسْمِ اللهِ بِسْمِ اللهِ - اووائی، او اُوه (۷) ځله دې دا دعا: اَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللهِ وَقُدْرَتِهٖ مِنْ شَرِّ مَا اَجِدُ وَاُحَاذِرُ: اووائی او په هغه درد مند ځائې دې لاس کیدی نو الله تعالی به ئې روغ کړي.

عثمان بن ابی العاص ﷺ فرمائی: ما باندې درد وو نزدې وه چه زه ئې هلاك کړې وې نو رسول الله ﷺ راته دا دعاء او دغه طریقه وخودله نو ما دا کار وکړو نو الله تعالیٰ زما درد ختم کړو، نو زهٔ اُوس همیشه یم چه پدې دعا سره خپل اهل او نورو خلکو ته حکم کوم. (ابوداود، ترمذی)

(۷) - بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيْكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ اَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اَللّٰهُ يَشْفِيْكَ بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ.

[مسلم: ۲/۲۱۹، رقم: ٥٨٢٩ الترمذی: رقم ۹۷۲]

ترجمه: په نوم د الله دې دموم، د هر هغه شی نه چه تاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکلیف درکوی، د هر نفس د شر نه، یا د حسد کر د سترګو لګولو نه، الله دِې شفا درکړی، په نوم د الله دِې دموم۔

**فائده** : رسول الله ﷺ بیمار وو، جبریل علیه السلام راغلو ورته ئې وفرمایل : اې محمد (ﷺ) ! بیمارئې ؟ هغهٔ وفرمایل : آؤ، نو جبریل علیه السلام پرې دا دم واچولو۔ (نو دا د جبریل علیه السلام د خولې دم دې)۔

## (۸) — اَللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا اَوْ يَمْشِىْ لَكَ اِلٰى صَلَاةٍ .

[صحیح : ابو داود : ۳۱۰۷ – ابن السنی : ٥٤٧ – ابن حبان : ۲۹۷٤ – والطبرانی فی الدعاء : ۱۱۲٤ – احمد : ۲ /۱۷۲]

**ترجمه** : اې الله ! خپل بنده ته شفا ورکړه چه ستا کوم دشمن ته به تکلیف اُورسوی، یا به ستا دپاره مانځهٔ ته لاړ شی۔

**فائده** : په بعض روایتونو کښې دا لفظ دې : (اَوْ يَمْشِىْ لَكَ اِلٰى جَنَازَةٍ) ۔ لیکن عام لفظ اولیٰ دې۔

## (۹) — بِسْمِ اللهِ يُبْرِيْكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَشْفِيْكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ وَشَرِّ كُلِّ ذِىْ عَيْنٍ .

[مسلم : ۲ /۲۱۹ رقم : ۵۸۲۸]

**ترجمه** : په مدد د نوم د الله سره، الله دِې جوړ کړه، او د هرې بیمارئ نه دِې شفا درکړی۔ او د حسدګر د شر نه کله چه حسد وکړی او د ضرر د هر سترګې لګونکی نه۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰) - اِمْسَحِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ بِيَدِكَ الشِّفَاءُ لَا يَكْشِفُ الْكَرْبَ اِلَّا اَنْتَ .

[صحيح على شرط الشيخين : مسند احمد : ۲٤۲۸۰، الصحيحة : ۱۵۲٦]

**ترجمه :** اے د انسانانو ربه ! دا تکلیف لرے کړه، خاص ستا په لاس کښې شفا ده، ستا نه سوئ هیڅوك تکلیف نشي لرے کولے.

**فائده :** په روایت د بخاری (۵۷٤٤) کښې د (لَا يَكْشِفُ الْكَرْبَ) په ځائے (لَا كَاشِفَ لَهٗ اِلَّا اَنْتَ لفظ دے)

## مریض دے ځان دپاره داسے دعا کوی

(۱) - اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ .

[مسلم : ۲/۳٤۳- رقم : ۷۰۱۱، كتاب الدعاء للطبرانی : ۲۰۱٦]

**ترجمه :** اے الله ! مونږ ته په دنیا کښې ښائسته ژوند راکړه او په آخرت کښې هم ښائسته ژوند او اُوساته مونږ د عذاب د اُور نه.

**فائده :** په هر کار کښې بهترینه دعا ده، حدیث کښې راځی، یو صحابی داسے ووئیل : اے الله ! که ما ته کوم عذاب په آخرت کښې راکوے نو هغه راته په دنیا کښې راکړه نو هغه ډیر زیات خوار شوے وو، رسول الله ﷺ چه پوښتنے ته ورغلو نو تپوس ئے وکړو چه تا خو کومه دعا نهٔ وه کړے هغهٔ ووئیل : ما دغه دعا کړیده. نبی علیه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلام ورته وویل : سبحان الله، ته خو د الله د عذابونو طاقت نهٔ لرې، بلکه داسې وایه، بیا ئې ورته دغه مذکوره دعا وخودله. (مسلم)

(۲) - لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِيْ، اَللّٰهُمَّ تَجَاوَزْ عَنِّيْ، اَللّٰهُمَّ اعْفُ عَنِّيْ فَإِنَّكَ غَفُوْرٌ رَحِيْمٌ.

[صحیح رجاله ثقات : النسائی فی عمل الیوم واللیلة : ٦٥٠ - ابن السنی : ٥٥٢]

ترجمه : نشته لائق د عبادت سوی د الله نه چه صبرناك او عزتمن دے، پاکی ده الله لره چه رب د لوی عرش دے، اے الله! ما ته بخنه وکړه، اے الله! په ما باندے رحم وکړه، اے الله! ما زما د گناهونو نه تیر شه، اے الله! زما د گناهونو اثر زائل کړه ځکه چه ته ډیره بخنه کونکے زیات رحم کونکے ئے.

**که چرے چا ته د تبے وغیره تکلیف وی نو هغهٔ ته داسے دعا وکړه**

(۱) - اِكْشِفِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ، إِلٰهَ النَّاسِ!.

[ابن ماجه : ٣٤٧٣ - صحیح الجامع : ٣١٨٦]

ترجمه : اے الله! د انسانانو ربه! او د انسانانو معبوده! دا تکلیف (ددے بنده نه) لرے کړه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده :** دا دعا د تبې نه علاوه نورو بیماریانو کښې هم وئیلې شی۔

## دانه یا زخم باندې دم اچول یا چیچلې شوې دمول

(۱) – بِسْمِ اللّٰهِ تُرْبَةُ اَرْضِنَا، بِرِيْقَةِ بَعْضِنَا يُشْفٰى سَقِيْمُنَا، بِاِذْنِ رَبِّنَا .

[صحیح بخاری رقم : ۵۷۴۵، ابو داود رقم : ۳۸۹۷، احمد : ۹۳/۶]

**ترجمه :** د الله د نوم په برکت سره (دِے دموم) دا زمونږ د زمکې خاوره ده چه زمونږ نه د بعضې کسانو د لاړو سره یو ځائې شویده، شفاء به ورکولې شی زمونږ بیمار ته په حکم د رب زمونږ سره۔

**فائده ۱ :** عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی علیه السلام ته به چه کله یو انسان د یو څیز شکایت اُوکړو یا به په هغهٔ باندې دانه یا زخم وو نو نبی علیه السلام به په ګوته باندې داسې اشاره اُوکړه. او سفیان بن عیینهؒ (راوی د حدیث) ګوته په زمکه باندې کیخوده او بیائې پورته کړه او (مذکوره دعائې) وفرمایله۔

**فائده ۲ :** هغه خاوره چه په ګوته پورې انښتې وی هغه به په دغه زخم، دانه، یا چیچلې شوی ځائې باندې راخکاړی دا هم سنت دی۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیونے دمول

لیونے درے ورځے صبا او درے ورځے بیګاه په سورتِ فاتحه سره دمول او سورتِ فاتحه اُووه (۷) لوستل پکار دی۔

[اخرجه ابو داود واحمد (۵/۲۱۰- النسائی فی الکبریٰ ۸/۲۴۹ وابن حبان: ۷/۶۳۶،۶۳۷- والمزی فی تهذیب الکمال: ۸/۱۴]

**فائده:** خارجه بن الصلت د خپل ترهٔ نه روایت کوی چه دے نبی علیه السلام خواته د اسلام راوړو دپاره حاضر شو، بیرته کورته واپس تللو کښے په یو داسے قوم ورتیر شو چه هغوی سره یو لیونے سړے په زنځیرونو تړل شوے وو، د لیونے کور والو ددهٔ نه مطالبه اُوکړه چه مونږ خبر شوی یو چه ستاسو ملګری (نبی علیه السلام) خیر راوړیدے نو آیا تاسو سره څه شته چه ددے لیونی علاج پرے اُوکړئ؟ دے وائی چه ما په سورتِ فاتحه باندے دم کړو، نو هغه (سمدست) روغ شو، هغوی ما ته سل ګډے راکړے، زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم، خبر مے ورکړو، هغهٔ راته وویل د سورتِ فاتحے نه ماسوئ دِے نور څهٔ وئیلی وو؟ ما ورته وویل: نهٔ! نبی علیه السلام اُوفرمایل: دا قبولے کړه، یقیناً څوك چه په باطل دم خوراك کوی نو تا په حق دم باندے خوراك اُوکړو۔

[وصححه الالبانی فی صحیح ابی داود رقم ۱۹ والنووی فی الاذکار (۸۷)

الصارم البتار]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اهل کتابو د عیادت په وخت دعا

د ترغیب دپاره يَافُلَان : ورته ووایه او بیا ورته په راتلونکې دعا حکم وکړه : چه داسې ووایه :

اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ.

که هغه ایمان راوړی نو بیا دا دعا وکړه :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْقَذَهٗ مِنَ النَّارِ .

[بخاری : ۱۳۵٦، ابوداد : ۳۰۹۵- صحیح الادب المفرد : ۵۲٤- ابن السنی : ۵۵٤]

ترجمه : اے فلانیه ! دا اُووایه ! چه زهٔ ګواهی ورکوم چه د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوك حقدار د بندګئ نشته او بیشکه محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے۔

د کمال صفتونه خاص الله لره دی، هغه ذات چه دا انسان ئے د اُور نه خلاص کړو۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه بیمار د خپل ژوند نه نا اُمیده شی

(۱) - اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ وَارْحَمْنِیْ وَاَلْحِقْنِیْ بِالرَّفِیْقِ الْاَعْلٰی.

ترجمه : اے الله ! ما ته بخښنه اوکړے او په ما رحم اوکړے او ما د اوچتو (درجاتو والا) ملګرو سره یو ځائے کړے.

فائده : د مرګ په وخت کښے د رسول الله ﷺ دا دعا وه.

[بخاری ۲/ ۸٤۷ـ (٥٦٧٤)، الترمذی : ۳٤۹٦ ]

(۲) - لَا اِلٰــهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ، لَا اِلٰــهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ ط لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ لَهُ الْـمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ .

[ترمذی رقم : ۳٦٧٠ـ ابن ماجه ۳۷۹٤ـ حدیث صحیح]

فائده : رسول الله ﷺ فرمائی : چا چه دا دعا په بیماریٔ کښے اولوستله او بیا مړ شو نو اُور به ده لره نه سوزوی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه انسان د خپل ژوند نه تنګ شی

(۱) - حدیث کښې دی : کله چه مومن ته تکلیف اُورسیږی نو د ځان دپاره دِې د مرګ دعا هرګز نهٔ کوی، که خامخا دعا کوی نو (ټیا دِې) داسې دعا وغواړی :

اَللّٰهُمَّ اَحْیِنِیْ مَا كَانَتِ الْحَیٰوةُ خَیْرًا لِّیْ وَتَوَفَّنِیْ اِذَا كَانَتِ الْوَفَاتُ خَیْرًا لِّیْ .

[بخاری : ۲/ ۸٤۷ - ابوداود : ۳۱۰۸ - النسائی : ۱۷۱٦ - الترمذی : ۹۸٤ - ابن ماجه : ٤۲٦٥]

ترجمه : اے الله ! تـه ما ژوندې اُوساته که ژوند زما دپاره بهتر وی او وفات کړه ما کله چه وفات زما دپاره بهتر وی۔

## مدینه طیّبه کښې د مرګ د نصیب کیدو دعا

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِیَ الشَّهَادَةَ فِیْ سَبِیْلِكَ، وَاجْعَلْ مَوْتِیْ فِیْ بَلَدِ رَسُوْلِكَ (صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ).

[بخاری : ۱/ ۲۵۳ رقم : ۱۸۹۰ ]

ترجمه : اے الله ! مـا تـه ستا پـه لاره کښې شهادت راکړه او زما مرګ ستا د رسول ﷺ په ښار (مدینه) کښې مقرر کړه۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فائده : دا د عمر فاروق رضی الله عنه دعا ده چه هغهٔ به داسے دعا کوله او قبوله شوه۔ او مدینه کښے د مړ کیدو فضیلت په ډیرو صحیحو احادیثو کښے راغلے دے، یو د هغے نه دا دے : نبی علیه السلام فرمائی :

مَنِ اسْتَطَاعَ اَنْ يَّمُوْتَ بِالْمَدِيْنَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا، فَاِنِّیْ اَشْفَعُ لِمَنْ يَّمُوْتُ بِهَا. [صحیح : الترمذی : ۳۹۱۷، جامع الصغیر : ۶۰۱۵]

ترجمه : چا نه چه کیدے شی چه په مدینه کښے پرے مرګ راشی نو هلته دِے مړ شی، ځکه چه زهٔ به هغه چا دپاره سفارش کوم چه په مدینه کښے وفات شی۔

## د مړی د سترګے پټولو په وخت دعا

(۱) – اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِفُلَانٍ وَّارْفَعْ دَرَجَتَهٗ فِی الْمَهْدِيِّيْنَ وَاخْلُفْهُ فِیْ عَقِبِهٖ فِی الْغَابِرِيْنَ وَاغْفِرْلَنَا وَلَهٗ يَارَبَّ الْعٰلَمِيْنَ وَافْسَحْ لَهٗ فِیْ قَبْرِهٖ وَنَوِّرْ لَهٗ فِيْهِ .

[مسلم ۱/۳۱۱، رقم : ۲۱۶۰]

ترجمه : اے الله ! فلانی ته بخښنه اوکړه، او اوچته کړه مرتبه دهغه په هدایت والو کښے – او روسته پاتے شه په اولادو د هغه کښے په روستو پاتے کیدونکو کښے او بخښنه اوکړه مونږ ته او هغه ته. اے مالك د مخلوقاتو ! او فراخی راوله په قبر د هغه کښے او رڼړا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورله پکښې واچوه.

**فائده :** "اِغْفِرْلِفُلَانٍ" کښې د "فلان" په ځائے د مړي نوم اخستل پکار دی.

## د جنازے د مانځه دعا ګانے

د جنازے د مونځ نه مقصد مړی ته دعا کول دی، دا وجه ده چه هره دعا د جنازے په مانځه کښې لوستل جائز دی، لکه حديث کښې راځی : فاخلصوا له فی الدعاء - (کله چه د جنازے مونځ کوئ نو مړی ته په اخلاص سره دعا کوئ) ليکن بهتره هغه دعا ده، کومه چه احاديثو کښې راغلے وی، چه بعضے د هغے نه دا دی :

(۱) - اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَعَافِهٖ وَاعْفُ عَنْهُ وَاَكْرِمْ نُزُلَهٗ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْاَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهٖ وَاَهْلًا خَيْرًا مِنْ اَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهٖ، وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ . [مسلم ١/٣١١ رقم : ٢٢٧٦]-

ترجمه : اے الله ! بخښنه اوکړه ده ته، او رحم پرے اوکړه او معافی اوکړه ده ته او ښه کړه ميلمستيا د ده، او فراخه کړه ځائے دده او اووينځه دا په اوبو او په واوره او په ګلئ باندے او پاك کړه دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



گناهونو نه لکه ځرنګ چه تا سپینه جامه د خیرې نه پاکه کړېده او په بدل کښې ورکړه کور غوره د کور دده نه او اهل غوره د اهل دده نه او ښځه غوره د ښځې دده نه او جنت ته ئې داخل کړه او اوساته ده لره د عذاب د قبر نه او د عذاب د اور نه.

(۲) - اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا، اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْاِيْمَانِ، اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهُ وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ.

[ابو داود رقم: ۳۲۰۳، ابن ماجه ۱/ ۲۵۱ رقم ۱٤۹۸]

ترجمه: اے الله! بخښنه اوکړه ژوندو زمونږ ته او مړو زمونږ ته، حاضرینو او غائبینو زمونږ ته، او وړو او غټو زمونږ ته، نارینه او زنانو زمونږ ته. اے الله! څوك چه ته ژوندی ساتے زمونږ نه نو ژوندی ئے اوساته په اسلام باندې، او څوك چه ته زمونږ نه وژنے نو وې وژنه په ایمان سره. اے الله! ته مونږ مه محروموه دده د اجر نه او مونږ دده نه روستو مه ګمراه کوه.

(۳) - اَللّٰهُمَّ عَبْدُكَ وَابْنُ اَمَتِكَ اِحْتَاجَ اِلٰى رَحْمَتِكَ وَاَنْتَ غَنِيٌّ عَنْ عَذَابِهٖ اِنْ كَانَ مُحْسِنًا فَزِدْ فِيْ حَسَنَاتِهٖ وَاِنْ كَانَ مُسِيْئًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ.

[رواه الحاكم فى المستدرك رقم: ۱۳۲۸، اسناد صحيح]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : اے الله ! دا ستا بنده دے او ستا د وینزے څوی دے، ستا رحمت ته محتاج شویدے ـ او ته دده د عذاب ورکولو نه بے پرواه ئے

که دا نیک عمل وی نو دده په نیکیانو کښې زیادت پیدا کړه او که دا ګناهګار وی نو دا معاف کړه ـ

(٤) ـ اَللّٰهُمَّ اِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِیْ ذِمَّتِكَ وَحَبْلِ جِوَارِكَ فَقِهٖ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ وَاَنْتَ اَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ فَاغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ .

[مسند احمد : ١٦٠٦١ اسناد حسن]

اے الله ! دا فلانے څوی د فلانی ستا په ذمه او ستا د رحمت په سوری کښې دے ، دا د قبر ( د عذاب ) د فتنے نه او د عذاب د اور نه بچ کړه ، او ته د وفاء او صفت لائق ئے ـ دا اوبخښه او په ده باندے رحم اوکړه، یقینا ته بخښونکے مهربان ئے ـ

(٥) ـ اَللّٰهُمَّ اِنَّهٗ عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ كَانَ یَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ وَاَنْتَ اَعْلَمُ بِهٖ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ مُحْسِنًا فَزِدْ فِیْ حَسَنَاتِهٖ وَاِنْ كَانَ مُسِیْئًا فَتَجَاوَزْ عَنْ سَیِّئَاتِهٖ، اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهٗ وَلَا تَفْتِنَّا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَعْدَهُ .

[موطأ امام مالك : ۱/ ۲۰۹ ، صحيح ابن حبان : ۳۰۷۳]

ترجمه : اے الله ! یقینا دا ستا بنده دے او ستا د بنده ځوی دے او ستا د وینځے ځوی دے ده به دا ګواهی ورکوله چه ستا نه سوا هیڅوك حقدار د بندګئ نشته او یقینا محمد ﷺ ستا بنده او رسول دے، او ته په ده بنه پو هیږے ـ اے الله ! که دا نیك وی نو دده په نیکیانو کښے زیادت اوکړه او که دا ګناهګار وی نو دده ګناهونه معاف کړه ـ اے الله ! مونږ دده د اجر نه مه محروم کوه او دده نه پس مونږ په فتنه کښ مه اخته کوه ـ

(٦) : اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبُّهَا وَاَنْتَ خَلَقْتَهَا وَاَنْتَ هَدَيْتَهَا لِلْاِسْلَامِ وَاَنْتَ قَبَضْتَ رُوْحَهَا وَاَنْتَ اَعْلَمُ بِسِرِّهَا وَعَلَانِيَتِهَا جِئْنَا شُفَعَاءَ فَاغْفِرْ لَهَا .

[ابوداود رقم : ۳۲۰۲، مسند احمد : ۲/۳٤٥/۳٦۳ ـ والطبرانی فی الدعاء وحسنه الحافظ فی تخریج الاذکار کما قال ابن غیلان ٤/۱۷٦]

ترجمه : اے الله ! ته دده رب ئے او تا هغه لره پیدا کړیدے او تا هغه ته هدایت کړیدے اسلام طرفته، او ته ډیر پو هه ئے دده پټ او ښکاره ، مونږ سفارشیان راغلی یو، لهذا دا معاف کړه ـ (ابوداود)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸) - اَللّٰهُمَّ اَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.

(كتاب الدعاء للطبرانى : ۱۲۰٤ - مصنف عبدالرزاق : ٦١١٠)

ترجمه : اے الله ! دهٔ ته د عذاب قبر نه پناه ورکړه۔

(۹) - اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَأَلِّفْ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَاجْعَلْ قُلُوْبَهُمْ عَلٰى قُلُوْبِ خِيَارِهِمْ، اَللّٰهُمَّ ارْفَعْ دَرَجَتَهٗ فِي الْمَهْدِيِّيْنَ وَاخْلُفْهُ فِيْ تَرِكَتِهٖ فِي الْغَابِرِيْنَ، اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهٗ وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهٗ.

[كتاب الدعاء للطبرانى : ۱۲۰۲ - مصنف عبدالرزاق : ٦٤٣٢، ابن ابى شيبة : ۱۱٤۸۰)

ترجمه : اے الله ! مومنو سړو او مومنو ښځو ته او مسلمانان سړو او مسلمانانو ښځو ته بخنه وکړه، او د دوئ د زړونو ترمينځ الفت او محبت پيدا کړه او د دوئ زړونه د غوره خلکو زړونه وګرځوه۔ اے الله ! په هدايت موندونکو کښې ددے مړی درجه پورته کړه، او په پاتے خلکو کښې تهٔ ددهٔ جانشين شه، اے الله ! مونږ ددهٔ د اجر نه نهٔ محرومو‌ه او ددهٔ نه روستو مونږ مهٔ ګمراه کوه۔

**فائده :** دا د مشهور تابعی محمد بن سيرين رحمه الله دعا ده چه هغهٔ به په مړو باندے وئيله۔ رسول الله ﷺ چونکه د جنازے په دعا کښې اجازه ورکړیده پدے وجه هر قسم دعا لوستلے شی اګرکه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منقول نهٔ وی۔

(۱۰) - اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبُّنَا وَرَبُّهٗ، خَلَقْتَهٗ وَرَزَقْتَهٗ وَاَحْيَيْتَهٗ وَكَفَلْتَهٗ فَاغْفِرْ لَنَا وَلَهٗ وَلَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهٗ، وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهٗ.

[كشف الاستار : ۸۱۸ - مصنف ابن ابی شيبة : ۳/ ۲۹۳ - رقم : ۱۱٤۸۱، المجمع : ۳/ ۳۳ وفی اسناده زيد العمی ضعيف]

**ترجمه :** اے الله ! تهٔ زمونږ رب ئے او دهٔ رب هم ئے، تا دے پيدا کړو او دهٔ ته دِے رزق ورکړو او دے دِے ژوندے وساتلو او دهٔ کفالت (ذمه واری او پرورش) دِے وکړو۔ نو مونږ ته بخنه وکړه او دهٔ ته (هم) او مونږ دهٔ د اجر نه مهٔ محرومووه او دهٔ نه روستو مو مهٔ گمراه کوه۔

**فائده :** ابو سعيد خدری رضی الله عنه فرمائی : مونږ به په جنازه د مړو باندے داسے دعا کوله۔

(۱۱) - اَللّٰهُمَّ اَصْبَحَ عَبْدُكَ قَدْ تَخَلّٰى مِنَ الدُّنْيَا وَتَرَكَهَا لِاَهْلِهَا وَافْتَقَرَ اِلَيْكَ وَاسْتَغْنَيْتَ عَنْهُ، كَانَ يَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ، فَاغْفِرْ لَهٗ وَتَجَاوَزْ عَنْهُ.

[كتاب الدعاء للطبرانی : ۱۱۹۳، عبد الرزاق : ٦٤۲۱، ابن ابی شيبة رقم : ۳۰٤۰۰)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه :** ای الله ! ستا بنده داسې وګرځېدو چه دنیا نه وزګار شو او دائې دنیا والو ته پرېخوده، او تا ته محتاج شو او ته ددهٔ نه مستغنی (بې حاجته) ئې، دهٔ به دا ګواهی ورکوله چه نشته حقدار د بندګئ سوئ ستا نه، او محمد ﷺ ستا بنده او ستا رسول دې، نو دهٔ ته بخنه وکړه او ددهٔ د ګناهونه نه تیر شه۔

**فائده :** دا د عمر فاروق رضی الله عنه دعا ده چه په یو تن باندې به ئې په جنازه کښې وئیله۔

**(۱۲) - اَللّٰهُمَّ عَبْدُكَ اَسْلَمَهُ الْاَهْلُ وَالْمَالُ وَالْعَشِيْرَةُ وَالذَّنْبُ عَظِيْمٌ وَاَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ۔**

[ابن ابی شیبة رقم : ۱۱٤۷۵]

**ترجمه :** ای الله ! ستا بنده خپل اهل او مال او قبیلې وسپارلو، او ګناه ئې ډیره لویه ده، او تهٔ ډیره بخنه کونکې او رحم کونکې ئې (یعنی دهٔ ته ګناه معاف کړه او په دهٔ باندې رحم وکړه)

**فائده :** ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه به کله په یو مړی باندې جنازه کوله نو دا دعا به ئې لوستله۔

**فائده ۲ :** دا دعاګانې د سړو او زنانو او د ماشومانو تولو دپاره لوستلې شی، د جنازې سنت طریقه دا ده چه اول کښې به په زړهٔ کښې نیت وکړی - په خوله باندې نیت وئیل د ۔ **نَوَيْتُ اَنْ اُوَدِّيَ لِلّٰهِ تَعَالٰى اَرْبَعَ تَكْبِيْرَاتِ الْجَنَازَةِ** - الی آخره نشته دې۔ (دا وجه ده چه ډیر خلك د جنازې سره راشی مګر مونځ نکوی ځکه چه نیت ورته نهٔ وی یاد، د بعض دعاګانو نه دا نیت ګران دې)۔

بیا به **اَللّٰهُ اَكْبَرُ** ووائی۔ او - **اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ** نه تر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولا الضالين - پورے به ووائی، بیا به تکبیر وکړی او درود ابراهیمی کوم چه په پنځه وخته مانځه کښې لولی هغه به ولولی۔ یعنی:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ.

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ.

دا به ووائی بیا به تکبیر وکړی او دغه مذکوره دعاګانے به شروع کړی۔ د دعاګانو نه پس به الله اکبر ووائی بیا به سلام اُوګرځوی۔

او بیا به د جنازے د مانځه نه روستو دعا نکوی ځکه چه دا کار بدعت دے۔ (ځکه چه جنازه کښې دعا وشوه، رسول الله ﷺ روستو دعا نۀ ده کړے)

بلکه دا چه د جنازے په مانځۀ کښې - سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ - وئیل په هیڅ صحیح حدیث کښې نۀ دی راغلی، او د سورة الفاتحے لوستل په څوارلسو (۱٤) احادیثو کښې راغلی دی۔

[الترمذی ۲/٤۳، النسائی ۱/٤۲۸، الحاکم ۱/۳۵۸، الطحاوی ۱/۲۸۸، مجمع الزوائد۳/۳۲، نصب الرایة: ۲/۲۷۰ البخاری]۔

د جنازے مسائل او مکمل طریقه او دعاګانے زده کولو دپاره زمونږ رساله ((د جنازے د مانځۀ مسنون طریقه، دعاګانے او مسائل)) ته رجوع پکار ده۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تعزیت دعاګانې

د تعزیت معنی ده چا ته د صبر تلقین کول، په دعا د تعزیت کښې لاس اوچتول حدیثونو کښې چرته ندی ثابت، صرف یو روایت د بخاری ۶۱۹/۲ - کښې راغی چه رسول الله ﷺ یو مړی ته دعا اوکړه او لاس ئې پکښې اوچت کړو، لیکن په هغې کښې دا نشته چه دا دعا د تعزیت وه، بلکه هغه مړی وصیت کړے وو چه رسول الله ﷺ دِے ما ته دعا اوکړی، دا وجه ده نبی علیه السلام به په نورو ځایونو کښې په دعا د تعزیت کښې لاس مبارك نه اوچتولو.

(۱) - اِنَّ لِلّٰهِ مَا اَخَذَ وَلَهٗ مَا اَعْطٰى وَ كُلُّ شَیْءٍ عِنْدَهٗ بِاَجَلٍ مُسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ .

[رواه البخاری ۱/۱۷۱ـ ومسلم ۱/۳۰۱]

ترجمه : د الله تعالی دپاره دی هغه څه چه وائے خستو او د هغه دی هغه څه چه ورکوی ئے او هر څیز د هغه سره په یوه نیټه مقرر دے، پس صبر دِے کوی او ثواب دِے ګڼړی دا مصیبت.

(۲) - اَعْظَمَ اللّٰهُ اَجْرَكَ وَاَحْسَنَ عَزَائَكَ وَغَفَرَ لِمَيِّتِكَ.

[الاذکار للنووی ۱۳٦]

ترجمه : الله دِے ستا اجر لوئی کړی او ښه دِے کړی صبر ستا، او بخښنه دِے اوکړی مړی ستا ته.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده :** دا نبوي ذکر نهٔ دے لیکن د تعزیه او تسلئ دپاره علماؤ استعمال کړیدے، او د تعزیه مقصد هم دا دے چه یو مصیبت زده انسان ته تسلي ورکړے شي که دا په هر لفظ سره وي، او په هره ژبه کښے وي، البته اولنے ذکر پیغمبري دے نو هغه بهتر دے.

## د مړي د سپارلو دعا

(۱) — بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ .

(۲) — بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ .

[ صحیح : ابن ماجه رقم ۱۵۵۰ ـ الحاکم ۱/۳٦٦ ـ احمد ۲/۲۷ ـ رقم : ٤۸۱۲، ابو داود ۲/۳۲۱۳]

**ترجمه :** په نوم د الله تعالی دِے اړدم — او په سنت یا دین د رسول الله ﷺ باندے.

**فائده :** پدے سپارلو وخت کښے نورے دعاګانے وئیل نشته سوا د دغه مذکورے دعا نه، دے وخت کښے آیتونه لوستل یا اذانونه کول بدعت کار دے.

## د دفن کولو نه پس د قبر دپاسه دعا

د خخولو نه پس د مړي دپاره د قبر دپاسه دعا غوښتل په حدیثونو کښے شته دے، لکه حدیث د ابو عوانه او ابوداؤد کښے

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي چه پدې وخت کښې د مړي دپاره استغفار غواړئ او د (تثبيت) ټينګيدو) دعا ورته کوئ. (پدې دعا کښې به لاس اوچتوي)

[ابو داود رقم ۳۲۲۱ـ الحاکم ۱/ ۳۷۰، فتح الباري ۱۱/ ۱۲۰]

**فائده:** بعض خلق د قبر دپاسه سر او خپو ته دسورت بقرې اول او آخري آيتونه لولي، دا چرته صحيح حديث کښې نه دی ثابت بلکه دا يو بدعت عمل دے او کوم روايات چه د ابن عمر رضي الله عنهما نه راغلي، هغه سندًا نهٔ دي ثابت، لکه ددے مکمل تفصيل مونږ پخپله فتاوی الدين الخالص کښې کړيدے، اوګوره:

[السنن والمبتدعات ۱۰٦ـ واحکام الجنائز للالباني]

## د زيارة القبور دعاګانے

(۱) – اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ اَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ.

[مسلم ۱/ ۳۱٤ رقم: ۲۳۰۲]

**ترجمه:** سلامتيا دے وي پتاسو اے د کورونو والا مومنانو، او مسلمانانو! – او مونږ که د الله تعالی اراده اوشي تاسو پورے پيوسته کيدونکي يو، د الله تعالی نه ځان دپاره اوتاسو دپاره جوړوالے غواړو.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فائده: کله چه سړی مقبري ته لاړ شي او يا په مقبره ورتيرېږي، نو دغه مذکوره دعا به وائی.

(۲) - اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ . [مسلم رقم: ۶۰۸، ابو داود: ۳۲۳۹، صحيح]

ترجمه: اې ددې ځائې وسيدونکو مومنانو! په تاسو دې سلامتيا وي. او يقيناً مونږ که الله وغواړي ستاسو سره پيوسته کيدونکي يو.

(۳) - اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الدَّارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ، اَنْتُمْ لَنَا فَرَطٌ وَنَحْنُ لَكُمْ تَبَعٌ أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ .

[صحيح: النسائی: ۲۰۴۰، صحيح الادب المفرد: ۵۱۲ - احمد: ۳۵۳/۵، ۳۵۹، ۳۶۰- ارواء الغليل: ۷۷۶]

ترجمه: سلامتيا دې په تاسو اې ددې ځائې اُوسيدونکو مومنانو مسلمانانو! او يقيناً ان شاء الله مونږ تاسو سره ملاويدونکي يو، تاسو مونږ نه مخکښې تلي يئ او مونږ تاسو پسې درتلونکي يو، الله تعالىٰ نه تاسو دپاره او ځان دپاره د عافيت سوال کوم.

(۴) - اَلسَّلَامُ عَلٰى اَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَيَرْحَمُ اللهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ .

[مسلم : ۱/۳۱٤ رقم : ۲۳۰۱، النسائی : ۱۹۲٦، الآداب للبیهقی ۳۷۹]

**ترجمه** : سلام دې وی ددې کورونو په وسیدونکو مؤمنانو او مسلمانانو باندې، الله دې رحم وکړی په مخکښې تلونکو او روستو تلونکو زمونږ باندې، او یقیناً مونږ ان شاء الله تاسو سره ضرور ملاویدونکی یو۔

**فائده** : په زیارة القبور کښې درې فائدې دی : ۱- مړو دپاره استغفار او بخنه طلب کول۔ ۲- او تزهید فی الدنیا (یعنی دنیا کښې بې رغبته کیدل)۔ ۳- آخرت سره رغبت، شوق او محبت پیدا کیدل۔

باقی هلته د قبرونو والو نه دعاګانې غوښتل او د قبرونو نه مدد غوښتل هغوی ته د رامدد شه آوازونه کول دا ټول شرك او بدعت دې۔

## د کافرو په قبرونو د ورتیریدو وخت کښې دعا

اَبْشِرُوْا يَا كُفَّارُ بِالنَّارِ .

[ابن السنی رقم ٥۹٤ ۔ مجمع الزوائد ۱/۱۱۷ ۔ الصحیحة رقم ۱۸]

**ترجمه** : خوشحاله شئ اې کافرانو ! په اور (دجهنم) باندې۔

**فائده** : نبی علیه السلام فرمائی : هرکله چه ته د یو کافر په قبر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې ور تیرېږي نو هغهٔ ته په اُور سره زیرې ورکړه. (الصحیحه)

## د قرض نه د خلاصیدو دعا

(۱) — اَللّٰهُمَّ اكْفِنِیْ بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَاَغْنِنِیْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ.

[الترمذی رقم ۳۸۱۶ ـ الکلم الطیب رقم: ۱۱۶ ـ الحاکم ۵۳۸/۱]

ترجمه: اے الله! کافی شې څما په حلالو ستا د حرامو ستا نه او بے پرواه کړې ما په خپله مهربانئ سره د هغه چا نه چه ستا نه سِوا دی.

فائده: چا باندے چه قرض وی او دا دعا د قرض نه د خلاصیدو دپاره اووائی نو الله تعالی به د هغهٔ قرض خلاص کړی، اګرچه دا قرض د غره په اندازه ډیر هم وی.

(۲) — اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّیْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ.

[ابو داود رقم ۱۵۵۵ ـ والحدیث صحیح]

ترجمه: اے الله! زه پناه غواړم پتا د پریشانئ او د غم نه، او پناه غواړم پتا د کمزورئ او د سُستئ نه، او پناه غواړم پتا پورے د بزدلئ او د بخل نه او پناه غواړم پتا د غلبے د قرض او د زورَتیا د سړو نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده :** ابو امامه انصاری رضی الله عنه د مانځهٔ د وخت نه په غیر په مسجد کښې ناست وو، رسول الله ﷺ ولیدو وې فرمایل: څه وجه ده چه زهٔ تا په مسجد کښې په غیر د وخت د مانځه نه وینم ؟ وې فرمایل : [هُمُوْمٌ لَزِمَتْنِیْ وَدُیُوْنٌ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ] غمونه (سوچونه) او قرضونه راسره انښتی دی اې د الله رسوله! نبی علیه السلام ورته وفرمایل : آیا زهٔ تا ته داسې خبره نهٔ ښایم چه کله تهٔ هغه ولولې نو الله تعالیٰ به تا نه غمونه (سوچونه) ختم کړی او قرض به درنه ادا کړی. ما ورته وویل : ولې نهٔ اې د الله رسوله! نو دغه دعائې ورته وخودله چه دا صبا او بیګاه وایه. ابو امامه رضی الله عنه فرمائی : ما ددې وئیل شروع کړل نو الله تعالیٰ زمانه غمونه ختم کړل او زما قرضونه ئې ادا کړل.

(۳) - قُلِ اللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِی الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ج تُوْلِجُ اللَّيْلَ فِی النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِی اللَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَیِّ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ، رَحْمٰنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَرَحِيْمَهُمَا! تُعْطِیْ مِنْهُمَا مَنْ تَشَاءُ وَتَمْنَعُ مَنْ تَشَاءُ اِرْحَمْنِیْ رَحْمَةً تُغْنِيْنِیْ بِهَا عَنْ رَحْمَةِ مَنْ سِوَاكَ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[حسن: المعجم الكبير للطبراني رقم: ١٦٧٣٩، مجمع الزوائد: ١٨٦/١٨٥/١٠، صحيح الترغيب والترهيب رقم: ١٨٢١ للالباني، قال المنذري اسناده جيد]

**ترجمه:** اے نبی ووایه! اے الله! تهٔ مالك د بادشاهئ ئے، تهٔ ورکوے بادشاهی چا ته چه اوغواړے او تهٔ راخکاړے بادشاهی د چا نه چه اُوغواړے، تهٔ عزت ورکوے چا ته چه اُوغواړے او تهٔ ذلیل کوے چا له چه اُوغواړے، ستا په لاس کښې (هر قسمه) خیر دے، بیشکه تهٔ په هر څیز باندے قدرت لرے، ننباسے شپه په ورځ کښې او ننباسے ورځ په شپه کښې او را اُوباسے ژوندے د مړی نه او را اُوباسے مړے د ژوندی نه، او رزق ورکوے چا ته چه اُوغواړے بے حسابه.

اے د دنیا او د آخرت بے حده مهربانه! او د دواړو همیشه رحم کونکیه! تهٔ ددے دواړو نه ورکوے چا ته چه اُوغواړے. او تهٔ منع کوے چا نه چه اُوغواړے، په ما باندے رحم اُوکړه داسے رحمت چه تهٔ ما پدے سره بے پرواه کړے ستا نه سوا د بل چا د رحمت نه.

**فائده:** حدیث کښې راځی چه یوه ورځ معاذ رضی الله عنه د جُمعے مانځه ته نهٔ وو راغلے، نبی علیه السلام ورغلو ورته ئے ووئیل: نن ولے نهٔ وے راغلے؟ هغهٔ عرض اُوکړو: اے د الله رسوله! د یو یهودی په ما باندے یو اوقیه (څلوېښت درهم) سپین زر قرض وو، نو زهٔ تا طرف ته راروان شوم نو هغهٔ زهٔ تا نه ایسار کړم. نبی علیه السلام اُوفرمایل: اے معاذ! آیا زهٔ تا ته داسے دعا نهٔ ښایم چه تهٔ هغه ووائے؟ نو که په تا باندے د صَبِر غر په مقدار قرض وی نو الله تعالیٰ به ئے تا نه ادا کوی. (صَبِر په یمن کښې یو غر دے) دا ډیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفیده دعا ده۔

## د قرض د واپس کولو دعا

بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِيْ اَهْلِكَ وَمَالِكَ .

[صحيح : ابن ماجه ٢٤٢٤ ـ احمد ٣٦/٤، ابن السنی رقم ٢٧٧]

ترجمه : الله تعالی دې ستا په اهل او مال کښې برکت واچوی.

فائده : رسول الله ﷺ یو شخص نه قرض اخستې وو نو د واپس کولو په وخت کښې ئې هغه ته دا دعا اوکړه، او دا ئې هم اوفرمائیل چه د قرض بدله تعریف کول او اداء کول دی، یعنی چا چه قرض درکړې وی د هغه صفت کول او هغه ته بیرته قرض ادا کول.

## د مصیبت زده شخص لیدو په وخت دعا

(١) – اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَافَانِیْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِیْ عَلٰی كَثِیْرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِیْلًا ط

[الترمذی – رقم ٣٦٧٢ ـ ابن ماجه ٣٨٩٢ ـ وهو حديث صحيح].

ترجمه : شکر دې هغه الله لره، چه بچ کړې یم زه د هغه مصیبت نه چه ته ئې پرې اخته کړې ئې – او غوره کړې ئې یم په ډیرو خلقو په غوره والی سره.

فائده : رسول الله ﷺ فرمائی : چا چه یو مصیبت والا اولیدو او دا دعائې اولوستله نو هیچرې به دغه مصیبت ده ته اونه رسی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کفر د وسوسے د دفع کولو دعا

(۱) - هُوَ الْاَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ .

[ابوداود رقم ۵۱۱۰ - الكلم الطيب ۱۳۵ - وسنده حسن]

**ترجمه :** دغه ( الله ) اول (هم) دے او آخر ( هم ) دے ښکاره (هم) دے، او پټ (هم) دے او هغه په هر څه پوهه ( هم ) دے.

**فائده :** ابن عباس ؓ ته يو سړی اووئيل : چه زما په زړه کښے د کفر وسوسے راځی ؟ نو هغه ورته اوفرمائيل : چه دغه آيت تلاوت کړه.

(۲) - آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ .

[بخاری رقم : ۳۰۵۵ ابوداود : ٤۳۳۱]

**ترجمه :** ما ايمان راوړيدے په الله تعالی او د هغه په رسولانو باندے.

(۳) - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ .

[بخاری : ٦۱۱٦، مسلم رقم : ٦۸۱۲]

**فائده :** کله چه انسان ته وسوسه راشی نو اعوذ بالله دِے اووائی او کس اړخ ته دِے درے ځله لاړے توکړی او سورتِ اخلاص دِ تلاوت کړی - او فکر دِ بند کړی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د باران د غوختلو دعا

د باران غوښتلو په اسلام کښې ښائسته طریقه ده او هغه دا چه خلق به عیدګاه یا صحراء ته اوځی په عاجزئ سره - او امام به راشی اول به خطبه اووائی، په هغې کښې به د الله تعالی د حمد او ثنا نه پس خلقو ته د استغفار غوښتلو تلقین اوکړی او بیا به دا دعا اولولی:

(١) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ، اَللّٰهُمَّ اَنْتَ اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ، اَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ وَاجْعَلْ مَا اَنْزَلْتَ لَنَا قُوَّةً وَبَلَاغاً اِلٰى حِيْنٍ .

[حسن : ابوداود رقم ١٦٩ - الحاکم ١/٣٢٧]

ترجمه : صفتونه د کمال الله لره دی چه مالك د مخلوقاتو دے، عام مهربان او همیشه رحم کونکے دے، اختیار مند دے د ورځې د جزاء. نشته د الله نه سوا حقدار د عبادت، کوی هغه څه چه اوغواړی. اے الله ! ته الله ئے، نشته حقدار د عبادت سوا ستا نه. ته غنی ئے او مونږ فقیران یو . نازل کړه په مونږ باران. او اوګرځوه هغه څه چه تا نازل کړو په مونږ قوت او رسونکی مونږ لره یو (مقرر) وخت پورے.

بیا به لاسونه ښه اوچت کړی او خلقو ته به شا کړی او څادر به

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړوي، بیا به خلقو ته مخ کړي. او دوه رکعته مونځ به اوکړي په جمعې سره.

(۲) – اَللّٰهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ وَ بَهَائِمَكَ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ وَاَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ .

[حسن: ابوداود رقم ۱۱۷٦]

ترجمه : اے الله! خړوبه کړه بنده ګان خپل او چارپایان خپل او خور کړه رحمت خپل او ژوندے کړه خپل اوچ ښار .

(۳) – اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا، اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا، اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا .

[بخاری: ۱/۱۳۷ رقم: ۱۰۱۳]

ترجمه : اے الله! مونږ خړوبه کړه! اے الله! مونږ خړوبه کړه! اے الله! مونږ باندے باران وکړه.

(٤) – اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيْثًا، مَرِيْئًا، (مَرِيْعًا)، نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلًا غَيْرَ آجِلٍ .

[صحیح: ابوداود: ۱۱٦۹ – ابن ماجه ۱۲۷۰، صحیح ابن خزیمة: ۱٤۱٦]

ترجمه : اے الله! مونږ خړوبه کړه په داسے باران چه مدد کونکے وي، مبارك وي، سبب د شینکئ پیدا کولو وي، فائده مند وي، ضرر ورکونکے نۀ وي، په جلتئ سره کیدونکے وي، روسته کیدونکے نۀ وي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٥) - اَللّٰهُمَّ اَغِثْنَا، اَللّٰهُمَّ اَغِثْنَا، اَللّٰهُمَّ اَغِثْنَا .

[بخاری : ١/١٣٨رقم : ١٠١٤]

ترجمه : اے الله ! په مونږ باران اُوکړه !، اے الله ! په مونږ باران اُوکړه ! اے الله ! په مونږ باندے باران اُوکړه !۔

## د وریځ د مخامخ لیدو دعا

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اُرْسِلَ بِهٖ .

[صحیح : ابن ماجة رقم الحدیث : ٣٨٨٩ ]

ترجمه : اے الله ! مونږ په تا پورے پناه غواړو د ضرر د هغه څه نه چه دا وریځ ورله رالیږلے شویده۔

## د تیزے هوا چلیدو په وخت دعا

(١) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَیْرَهَا وَخَیْرَ مَا فِیْهَا وَخَیْرَ مَا اُرْسِلَتْ بِهٖ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِیْهَا وَشَرِّ مَا اُرْسِلَتْ بِهٖ .

[مسلم ١/ ٢٩٤ رقم : ٢١٢٢ ]

ترجمه : اے الله ! زه سوال کوم ستا نه د خیر ددے هوا، او هغه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خير چه ډې هوا کښې دے او هغه خير چه دا هوا پرے رالیږلے شویده - او پناه غواړم پتا د شر د دے، او د هغه شر نه چه پدے کښې دے او د هغه شر نه چه دا پرے رالیږلے شویده .

**فائده :** کله به چه هوا سخته شوه، نو نبی علیه السلام به دغه دعا لوستله .

**(۲) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَهَا وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا .**

دا الفاظ هم لوستلے شی لکه ابن ماجه رقم (۳۷۲۷) کښې مطلقاً راغلی دی : [وَلٰكِنْ سَلُوا اللّٰهَ مِنْ خَيْرِهَا وَتَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّهَا] یعنی کله چه هوا راوالوزی نو تاسو د الله نه د هغے خير غواړئ او په الله پورے د هغے د شر نه پناه وغواړئ- نو د هغے نه دغه دعاء جوړیدے شی-

**(۳) – اَللّٰهُمَّ لَقِحًا لَا عَقِيْمًا .**

[ابن ماجه تخريج الاذكار : ٢٩٥/٤- صحيح الادب المفرد : ٧١٨- ابن حبان : ١٠٠٨- الحاكم : ٧٨٤٠- صحيح الجامع : ٤٥٤٦- وفی رواية البخاری : لَاقِحًا].

**ترجمه :** اے الله ! دا د خير نه ډکه اُوګرځوه، شنډه ئے مۀ ګرځوه-

**فائده :** کله به چه هوا سخته شوه، نبی علیه السلام به دغه دعا لوستله .

**(۴) – اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هٰذِهِ الرِّيْحِ وَخَيْرِ**

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا اُمِرَتْ بِهٖ وَنَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هٰذِهِ الرِّيْحِ وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا اُمِرَتْ بِهٖ .

[صحيح : الترمذي : ٢٣٦٧ - احمد : ١٢٣/٥ - صحيح الجامع : ٧١٩٢ - النسائی فی عمل اليوم والليلة : ٩٣٣ والكبرىٰ رقم : ١٠٧٠٤].

ترجمه : اے الله ! يقيناً مونږ تا نه ددے هوا د خير سوال کوو او د خير د هغه څه نه چه پدے کښے دی او د خير د هغه څيز چه دے ته پرے حکم شويدے، او مونږ پناه غواړو په تا سره د شر ددے هوا نه او د شر د هغه څه نه چه پدے کښے دی او د شر د هغه څه نه چه دے ته پرے حکم شويدے۔

## کله چه باران شروع شی :

(١) - اَللّٰهُمَّ صَيِّباً نَافِعًا .

[بخاری ١٤٠/١ رقم : ١٠٣٢، النسائی : ١٥٢٣ احمد : ٣٤١٩٠]

ترجمه : اے الله ! ډير باران اوکړے او فائده مندئ اوګرځوے !

فائده : رسول الله ﷺ به چه کله باران اوليدو چه شروع به شو، نو دغه دعا به ئے فرمائيله .

(٢) - اَللّٰهُمَّ صَيِّباً هَنِيْئاً .

[ابوداود : ٥٠٩٩ - مسند احمد : ١٩٠/٦ - رقم : ٢٥٠١٧، النسائی فی عمل اليوم والليلة : ٩١٧ - مصنف عبد الرزاق : ١٩٩٩٩]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : اے الله ! پـه مـونږ بـانـدے ډير باران اُوکړه او ښه انجام والا ئې اُوګرځوه۔

## د باران نه پس دا الفاظ اُووايئ

مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ

[بخاری ۱/۱۴۱ ـ رقم : ۸۴۶، مسلم ۱/۸۳ رقم : ۲۴۰]

ترجمه : پـه مـونږ بـانـدے بـاران اوشو د الله تعالی په فضل او د هغه په رحمت سره .

فائده : پدے وئيـلـو سـره انسـان د مـومنانو په جماعت کښے داخليږی .

## د باران د اُودريدو دعا

(۱) - اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا. اَللّٰهُمَّ عَلَى الْاٰكَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُوْنِ الْاَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ .

[بخاری ۱/۱۳۸، رقم : ۱۰۱۳ مسلم ۱/۲۹۴ رقم : ۲۱۱۶]

ترجمه : اے الله ! زمـونږ نه اخوا ديخوائے اوکړه او په مونږ ئے مه کوه. اے الله ! پـه ډيرکـو او په کندو - او په ځايونو د رازرغونيدو د ونو او بوټو کښے ئے اوکړه .

فائده : کله به چه باران ډير شو او خلق به ئے تنګ کړل نو رسول الله ﷺ به دغه مذکوره دعا فرمائيله .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د آسمان د غړارۍ په وخت دعا

(۱) – سُبْحَانَ الَّذِىْ يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ.

[ صحيح: البيهقى ۳/۳٦۲ـموطا مالك۳/۱۵٤ رقم: ۱۸۰۱ الادب المفرد رقم: ۷۲۳ ]

**ترجمه**: پاكى ده هغه الله لره چه تسبيح وائى رعد ملائك سره د صفتونو د هغه نه – او نور ملائك (ئے هم وائى) د هغه د يرے د وجے نه

**فائده**: عبد الله بن زبير رضى الله عنه به چه كله د آسمان غړارے واوريدو، نو خبرے به ئے پريخودے او دغه دعا به ئے وئيله. نو دا موقوف روايت دے.

(۲) – اَللّٰهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذٰلِكَ.

[الترمذى ۲/۱۸۳ رقم: ۳٤٤۸، احمد: ۵۷٦۳]

**ترجمه**: اے الله! مونږ مه وژنه په غضب خپل او مونږ مه هلاك كوه په عذاب خپل، او عافيّت راكړے مخكښے د هغينه.

**فائده**: بعضِ علماؤ دا روايت سنداً كمزورے گرځولے دے لكه شيخ البانى او شعيب ارناووط وغيره او بعض نورو صحيح لكه امام حاكمؒ او ذهبىؒ، نو ظاهره دا ده چه اوّله دعا بهتره ده ددے دعا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه.

## سفر ته رخصتولو وخت کښې دعا

اَسْتَوْدِعُكَ اللهَ الَّذِىْ لَا تَضِيْعُ وَدَائِعُهٗ .

[ابن ماجه رقم: ۲۸۲۵، السنن الكبرى للبيهقى: ۱۰۳٤۲، سلسلة الاحاديث الصحيحة ۱/ ۲۲ رقم ۱٦ و۲٥٤۷]

ترجمه: سپارم تاسو هغه الله ته چه نۀ ضائع کيږی امانتونه د هغۀ.

فائده: کله چه يو انسان په سفر ځی نو پاتے کيدونکو ته دِے دغه دعا کوی.

(۲) – اَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ وَاَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ.

[صحيح: الترمذى رقم۳٦۸٥، ابو داود ۲٦۰۰، الصحيحة رقم ۱٤، ابن السنى رقم ٥۰٤]

**ترجمه**: زه سپارم الله ته دين ستا او امانت ستا او آخری عملو نه ستا.

**فائده**: رسول الله ﷺ به چه کله څوك رخصتولو نو د هغه يو لاس به ئے اونيولو، مصافحه به ئے ورسره اوکړه او دغه دعا به ئے ورته اوکړه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه څوک په سفر ځي او تا نه دعا طلب کړي، نو داسې به ورته وائې:

(۱) - زَوَّدَكَ اللهُ التَّقوٰى وَغَفَرَ ذَنبَكَ وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيرَ حَيثُ مَا كُنتَ .

[حديث حسن: الترمذى رقم ۳٦۸۷، الحاكم ۹۷/۲ ـ ابن خزيمة: ۲۵۳۲، الصحيحة: رقم ١٤]

**ترجمه**: الله تعالى دې تا ته د تقوىٰ توښه در کړي او ستا ګناه دې معاف کړي او آسان دې کړي تا ته خير چرته چه ته ئې.

(۲)- اَللّٰهُمَّ اطْوِ لَهُ الْبُعْدَ وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ.

[صحيح الترمذى رقم ۳٦۸۸ ـ حسن، البانى]

**ترجمه**: اې الله! لنډه کړه ده ته اوږدوالې د سفر او آسان کړه ده ته سفر.

**فائده**: رسول اکرم ﷺ ته يو سړې راغې، عرض ئې اوکړو، ما ته څه وصيت اوکړه؟ نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل: تقوىٰ اختيار کړه او په هر اوچت ځائې چه خيژې نو - الله اکبر وايه - کله چه دا سړې روان شو، نو رسول الله ﷺ ورته دغه دعا اوکړه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سورلۍ دعا

(۱) - اول - بِسْمِ اللّٰهِ بیا - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ بیا :

"سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ وَاِنَّا اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ".

بیا - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ - درې (۳) ځله

بیا - اَللّٰهُ اَكْبَرُ - (۳) درې ځله.

بیا - سُبْحَانَكَ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَاِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ.

[صحیح : الترمذی رقم ۳۶۹۱ - ابوداود رقم ۲۳۴۲]

ترجمه : پاکی ده تا لره، یقینا ما په خپل ځان باندې ظلم کړیدې پس ما ته بخښنه اوکړه یقینا هیڅوک ګناهونه نشي معاف کولې سوا ستا نه.

فائده : حدیث کښې راځي : رسول اکرم ﷺ به چه کله په رکاب کښې خپه کیخوده نو - بسم الله - به ئې اووئیله، کله به چه په سورلۍ برابر کیناستو، نو - الحمد لله - به ئې اووئیله، بیا به ئې : سبحان الذی سخرلنا هذا وما کنا له مقرنین - تر آخره اولوستله، بیا به ئې درې ځله : الحمد لله، الحمد لله، الحمد لله اولوستله، بیا به ئې درې ځله : الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر - اووئیلو - بیا به ئې - سُبْحَانَكَ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ - تر آخره دا دعا اوفرمائیله، بیا به ئې لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُوخندل. چاترے تپوس اوکړو؟ ولے دِ اُوخندل اے د الله رسوله! ورته فرمائیل: الله تعالی تعجب کوی د خپل بنده نه کله چه اووائی: رَبِّ اغْفِرْلِیْ ذُنُوْبِیْ الخ.

(اے الله! ماته خپل گناهونه اوبخښه، ستا نه سِوا بل څوك گناهونه نشی معاف کولے).

## کله چه سورلئ اوخوئیږی

(١) - بِسْمِ اللهِ - دِ اووائی.

حدیث کښے راځی چه سورلئ کله اوخوئیږی نو داسے مه وایئ چه هلاك دِ شی شیطان، ځکه شیطان پدے خبره غټیږی او وائی چه ما پخپل زور را اوخوئیوله، بلکه - بِسْمِ الله - وایئ! دے وئیلو سره به شیطان وړوکے (ذلیل) شی، تر دے چه د مچ پشان به شی.

[صحیح: احمد ٥/٥٩_ابوداود رقم ٤٩٨٢_ابن السنی رقم ٥٠٩]

## د خکته کوزیدلو او پورته ختلو دعا

صحابه کرامؓ فرمائی: مونږ به چه د رسول الله ﷺ سره په یوځائے خکته کوزیدلو نو - سُبْحَانَ اللهِ - به مو وئیله، او چه په اوچت ځائے به ختلو، نو - اَللّٰهُ اَکْبَرُ - به مو وئیلو.

[بخاری ١/٤٢٠_ ابن السنی رقم ٥١٦]

(٢) - لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ.

[بخاری ٢/٩٤٤ ومسلم ٢/٣٤٦]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : د ګناه نه بچ کونکے او په نیك باندے طاقت ورکونکے نشته مګر صرف الله تعالی دے .

فائده : دا عامه دعا ده، یواځے د سفر پورے خاص نهٔ ده، په لاره باندے په روانه باندے هم لوستلے شی۔ د جنت د خزانو نه یوه خزانه ده۔

(۳) - لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ .

[مسلم : ۷۰۳۹، باب استحباب خفض الصوت بالذکر، وابوداود : ۱۵۲۷]

ترجمه : نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله تعالیٰ نه، او الله د هر څه ډیر لوی دے۔

فائده : دا دعا به صحابه کرامو - رضوان الله علیهم اجمعین- صرف د پورته ختلو په وخت لوستله۔

## سفر ته د روانیدو دعاګانے

(۱) - سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ وَاِنَّا اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ .

[مسلم ۱/۴۳۴]

ترجمه : پاکی ده هغه ذات لره چه تابع ئے کړه دا سورلئ مونږ دپاره او نه یو مونږ دے لره تابع کونکے او بیشکه مونږ خپل رب ته واپس کیدونکے یو .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) - اَللّٰهُمَّ نَسْئَلُكَ فِیْ سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوٰی وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضٰی، اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هٰذَا وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهٗ، اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الصَّاحِبُ فِی السَّفَرِ وَالْخَلِيْفَةُ فِی الْاَهْلِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِی الْمَالِ وَالْاَهْلِ.

[مسلم ۱/٤۳٤ رقم : ۳۳۳۹]

ترجمه : اے الله ! مونږ غواړو ستا نه په سفر زمونږ کښې چه دا دے نیکی او تقویٰ او هغه عمل چه ته پرے راضی کیږے. اے الله! آسان کړے مونږ ته دا سفر او لنډ کړے مونږ ته د دے لرے والے. اے الله ! ته ملګرے زمونږ ئے په سفر کښې او پاتے کیدونکے ئے زمونږ په اهل (کور) کښې. اے الله ! زه پناه غواړم پتا د تکلیف د سفر نه - او د خفګان د شکل نه او د بد راواپس کیدونه، په مال او اهل کښې.

فائده : رسول الله ﷺ به چه کله په سورلئ برابر کیناستو او د سفر اراده به ئے وه، نو درے ځله به ئے - اَللّٰهُ اَكْبَرُ - اولوستلو، بیا به ئے دا دعا اوفرمائیله.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سفر نه د واپس کیدو دعا

رسول الله ﷺ به چه کله مدینے طیبے ته رانژدے شو، نو په اوچت ځائے باندے به ئے درے ځله - اَللّٰهُ اَکْبَر - اولوستلو او دا دعا به ئے ارشاد اوفرمائیله :

لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْـدَهٗ لَا شَـرِيْكَ لَـهٗ، لَـهُ الْمُلْكُ وَلَـهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ، آئِبُوْنَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ سَاجِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ، صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَنَصَرَ عَبْدَهٗ وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهٗ .

[بخاری رقم : ۲۹۹۵، مسلم ۱/۴۳۵ رقم : ۳۳۴۳]

ترجمه : واپس کیدونکی یو مونږ، توبه ویستونکی یو مونږ، عبادت کونکی یو مونږ، سجده کونکی یو خپل رب ته، حمدونه ویونکی یو د هغه. رشتینے کړه الله وعده خپله او مددئے اوکړو د بنده خپل - اوشکست ئے ورکړو ډلو ته یواځے.

فائده : دا دعا به رسول الله ﷺ بار بار لوستله تر دے چه مدینے طیبے ته به داخل شو -

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سفر نه واپس کیدو کښ به چه کورته داخلیدو

نو نبی علیه السلام به دا دعا ارشاد فرمائیله :

(۱) – تَوْبًا تَوْبًا لِرَبِّنَا أَوْبًا لَا يُغَادِرُ عَلَيْنَا حُوْبًا

[حسن : مسند احمد ۲۵۶/۱ ـ رقم : ۲۳۱۱، صحیح ابی داود رقم : ۲۳۳۸، ابن السنی رقم ۵۳۱، قال الحافظ ابن حجر فی تخریج الاذکار اسناد حسن]

ترجمه : مونږ توبه اوباسو خپل رب ته او راګرځو هغه طرف ته چه پرېے نږدی په مونږ باندې ګناه .

## کله چه یو کلی ته ورننوزی

اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوَاتِ السَّبْعِ وَمَا اَظْلَلْنَ وَرَبَّ الْاَرْضِيْنَ السَّبْعِ وَمَا اَقْلَلْنَ وَرَبَّ الشَّيَاطِيْنِ وَمَا اَضْلَلْنَ وَرَبَّ الرِّيَاحِ وَمَا ذَرَيْنَ اَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ وَخَيْرَ اَهْلِهَا وَخَيْرَ مَا فِيْهَا ٥ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ اَهْلِهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا .

[وسنده حسن : النسائی فی عمل الیوم واللیلة رقم ۵۴۳ ـ صحیح ابن حبان

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[۲۳۷۷_ الحاکم ۱/۱۰۰_ ابن السنی رقم ۵۲٤]

ترجمه : ای الله ! چه رب د اووه آسمانونو او رب د هغه څه چه دا پرې سورې کوي، او رب د اووه زمکو او د هغه څه چه اوچتوي ئې دا زمکې او رب د شیطانانو او د هغه څه چه دوئ ئې ګمراه کوي او رب د هواګانو او د هغه څه چه دوئ ئې الوزوي، زه غوارم ستا نه خیر ددې کلي، او خیر د اهل ددې ، او هغه خیر چه پدې کښې دې، او پناه غوارم پتا د شر د دې ( کلي) نه او د شر د اهل ددې نه او د هغه شر نه چه پدې کښې دې .

فائده : رسول الله ﷺ به چه کله یو کلي اولیدو او ورتلو به، نو دغه مذکوره دعا به ئې وئیله .

## کله چه انسان یوځائې کښې پړاو واچوي (دمه أوکړي)

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ .

[مسلم ۲/۳٤۷_ ترمذی ۳٤۳۳_احمد ٦/۳۷۷]

ترجمه : پناه غوارم په خبرو د الله چه پوره دي د شر د مخلوق د هغه نه .

فائده : رسول اکرم ﷺ فرمائي : چا چه یوځائې کښې دمه اوکړه او دغه دعائې اولوستله نو هیڅ څیز به ده ته ضرر ورنکړي، تر دې چه ددغه ځائې نه لاړ شي .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پرنجی په وخت دعا او د هغې جواب

(۱) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ.

(صفتونه د کمال خاص الله لره دی)

**فائده :** رسول الله ﷺ فرمائی : کله چه یو کس پرنجې اوکړی نو - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ - دِ اووائی او اوریدونکے دِ ورته : يَرْحَمُكَ اللهُ - (الله دِ پتا رحم اوکړی) اووائی نو پرنجې کونکے دِے ورته اووائی : يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ - (الله دِے هدايت اوکړی تاسو ته او ښه دی کړی حال ستاسو)

[بخاری ۹۱۹/۲ - ابوداود ۵۰۳۳]

(۲) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی كُلِّ حَالٍ.

(الله دپاره صفتونه د کمال دی په هر حال کښې) - پرنجې کونکے دا هم لوستے شی.

[اسناده حسن : ابوداود رقم : ۵۰۳۵) الترمذی رقم : ۲۷۳۸، احمد : ۹۹۵]

(۳) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ وَمُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضٰى.

[اسناد حسن : ابوداود رقم : ۷۷۳، الترمذی : ٤٠٤، النسائی : ۹۳۱]

**ترجمه :** صفتونه د کمال خاص الله لره دی ډیر زیات صفتونه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاك او بركت والا ځنګه ئې چه زمونږ رب خوښوي.
دا هم پرنجې كونكے وئيلے شي.
فائده : حديث كښې دي : رفاعه بن رافع رضى الله عنه په مانځه كښې پرنجې اُوكړو بيا ئې دغه كلمات ولوستل، د مانځه نه روستو ترې رسول الله صلى الله عليه وسلم تپوس اُوكړو چه دا كلمات چا اُووئيل ؟ هغهٔ عرض وكړو ما اے د الله رسوله ! ارشاد ئې وفرمايۀ : قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغهٔ په لاس كښې دے، [لَقَدِ ابْتَدَرَهَا بِضْعَةٌ وَثَلَاثُونَ مَلَكًا أَيُّهُمْ يَصْعَدُ بِهَا] دے ته څه دپاسه ديرش ملائك په منډه راغلل چه كوم يو به ئې الله ته پورته كوي.

## د كافر د پرنجې په وخت دعا

يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ

ترجمه : الله دِ تاسو ته هدايت اوكړى او ستاسو حال دِے برابر كړى، (يا ستاسو زړونه دِے جوړ كړى).
فائده : كافر چه كله پرنجې اوكړى او - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ - اووائى، نو هغهٔ ته به : يَرْحَمُكَ اللهُ - نشى وئيل كيدے، بلكه دغه دعا به ورته وئيلے شى، ابو موسى اشعرى رضى الله عنه فرمائى : يهوديانو به د نبى عليه السلام په خوا كښې پرنجې كولو بيا به ئې الله الحمد ووئيله پدے اميد چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به هغوى ته (يرحمكم الله) ووائى (يعنى الله دِے په تاسو رحم وكړى) نو نبى عليه السلام به ورته (صرف) [يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ] وئيل-
[صحيح : ابو داود رقم ۵۰۳۸- ترمذى ۲۸۹۵]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نکاح دعا ګانې

## (۱) – د نکاح مسنونه خطبه

اِنَّ الْـحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِىَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ . يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ. يَا اَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَنِسَاءً ، وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِىْ تَسَاءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ، اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا. يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۞ يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(العمران آيت ١٠٢) (النساء آية١) (سورة الاحزاب (٧١-٧٢)

داآيتونه دِ اولولی - او بيا دِ نکاح اُوتړی. خطبه د نکاح تړلو نه مخکښې لوستل سنت ده.

[اسناد صحيح: ابوداود رقم ٢١١٨، ترمذی ١١٠٥ - ابن ماجه ١٨٩٢ - حاکم ٢/١٨٢ - المشکاة ٢/٢٧٢]

فائده: دغه شان هر حاجت غوختلو نه مخکښې دا خطبه لوستل پکار دی، دے خطبے ته خُطُبَةُ الحَاجَة وئيل کيږی دا په اووه (٧) احاديثو کښې راغلے ده او دا خطبه د دعا نه مخکښې هم لوستلے کيږی او د نکاح نه پس هم. دغه شان هر اهم کار چه کله شروع کوی نو دا خطبه لوستل پکار دی، لکه تقرير يا درس يا مشوره.

(ابوداود، ترمذی)

## کويژدن والا ته دعا

بَارَكَ اللهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ.

[ابوداود رقم ٢١٣٠ - ترمذی ١٠٩١ - ابن ماجه ١٩٠٥ - والحديث صحيح]

ترجمه: برکت دِ واچوی الله په تا کښے او برکت دِ واچوی په تاسو کښے او جمع والے دِ راولی ستاسو په مينځ کښے په خير سره.

فائده: چا به چه کويژدن اوکړه نو رسول الله ﷺ به ورته دغه دعا کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناوې سره د ملاويدو په وخت دعا

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ.

[سنده صحيح : ابوداود ٢١٦٠ - ابن ماجه ١٩١٨ - الحاكم ١٨٥/٢ - ابن السنی ٦٠٠]

**ترجمه** : اې الله ! زه غواړم تا نه خير ددې، او هغه خير چه تا پرې دا پيدا کړيده، او پناه غواړم پتا د شر ددې نه، او د هغه شر، چه تا پرې دا پيدا کړيده.

**فائده** : حديث کښې راځي : کله چه يو کس پتاسو کښې يوه جينئ کورته راولی، يا يو خادم واخلی، يا يو حيوان واخلی، نو د هغې تندې ډې اونيسی او دغه دعا ډې اووائی او که اوښ ئې واخسته نو د هغه قوب ډې اونيسی او دغه دعا ډې اووائی.

## د کور والی په وخت دعا

بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا.

[بخاری ٤٦٣/١ - رقم : ١٤١، مسلم ٤٦٣/١ - رقم : ٣٦٠٦، ابن السنی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[۶۰۸]

ترجمه : په نوم د الله . اے الله ! ورانددے کړه مونږ د شیطان نه او جدا کړه شیطان د هغے نه چه تا مونږ ته راکړے دے .

فائده : نبی علیه السلام فرمائی : کله چه یو کس په تاسو کښے د کوروالی اراده اوکړی او دا دعا اووائی او اولاد ئے پیدا شی، نو هیڅ کله به شیطان هغۀ ته ضرر ورنکړی .

## د ماشوم د پیدا کیدو په وخت دعا

د ماشوم د پیدا کیدو په وخت کښے څه خاص دعا نۀ ده ثابته، سوا د اذان کولو نه او اذان به صرف په یو غوږ کښے کوی، او که په دواړو غوږونو کښے ئے اوکړو هم جائز ده ان شاء الله .

او اقامت کول په صحیح احادیثو کښے ندی ثابت، صرف په دوه ډیرو ضعیفو روایاتو کښے راغلے دے .

[البیهقی ۹/۳۰۵ـ تحفة المودود ـص ۱۶ـ ارواء الغلیل ۱۱۵۹ـ الضعیفة رقم ۳۲۱ـ الحاکم ۳/۱۷۹، احمد ۶/۳۹۱، مصنف عبد الرزاق : ۴/۳۳۶)

ماشوم چه کله پیدا شی، نو یو نیك انسان ته ئے اوړل پکار دی او هغه دِے ورته دعا د برکت اوکړی :

[اَللّٰهُمَّ بَارِكْ فِيْهِ] (اے الله په دۀ کښے خیر او فائدے واچوه)

او په خوله کښے دِے ورله خوږه کجهوره وغیره اووهی . دارنګ ښه نوم ورله کیخودل پکار دی.

[مسلم ۱/۱۰۱ـ بخاری باب العقیقة ۲/۸۲۱، ابو داود ۱۵۰۶]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چرګ، خرۀ او د سپي د آواز په وخت دعا

(۱) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ .

[البخاری ۱/٤٦٦- رقم: ۳۳۰۳، مسلم: ٤۰۹٦، ابوداود رقم ۵۱۰۲م]

ترجمه: اے الله! زه تا نه ستا مهربانی غواړم.

فائده: رسول الله ﷺ فرمائی: کله چه د چرګ آواز واورئ نو دغه دعا لولئ او کله چه د خر آواز واورئ نو - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْم - وایئ ځکه چه چرګ ملائك وینی او خر، شیطان وینی.

بعضِ خلق چه کله د خره آواز واوری نو - لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ - وائی، دا غلطه طریقه ده، مسنونه طریقه - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ - وئیل دی.

دارنګ حدیث کښې راځی چه کله تاسو د سپی آواز د شپې واورئ نو - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ - وایئ! ځکه خرۀ او سپی هغه څه وینی چه تاسو ته نۀ ښکاری.

په یو صحیح حدیث کښې دا هم راځی چه تاسو چرګ ته بد مۀ وایئ، ځکه هغه (خلق) مانځه ته راپاڅوی. [ابوداود رقم: ۵۱۰۱].

بعض خلق چرګ ته کنځل کوی کله چه هغه آذان کوی، نو دا کار نۀ دے پکار.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ناخا پي مصيبت راتلو په وخت څه كول پكار دي

لكه اُور اُولګی یا زلزله راشي، نو كه داسې حالت راپیښ شي نو پدې وخت كښې دا راتلونكې اعمال كول پكار دي :

۱- مونځ كول ۲- صدقه وركول، څكه صدقه مصيبت دفعه كوي. ۳- الله اكبر كلمه ډیر وئیل.

۳- د الله عام ذكر كول. ٤- غلام آزادول. ٥ - د الله نه عاګانې غوختل. ٦ - او په دغه مصيبت كښې صبر كول، جزع فزع نهٔ كول، چغې نه وهل. ۷- استغفار. ۸- لاحول ولا قوة الا بالله لوستل: پدې سره هر مصيبت دفع كيږي. [بخاري ج ۱/۱٤٥]

## د يوځائې نه د پاڅيدلو دعا

(ا) - سُبُحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمُدِكَ اَشُهَدُ اَنُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنُتَ اَسُتَغُفِرُكَ وَاَتُوبُ اِلَيُكَ .

[سند صحيح : ابو داود رقم : ٤٨٥٩، الترمذى رقم : ۳٤۳۳، احمد : ۸۸۰٤]

ترجمه : اے الله ! ته پاك ئې او صفتونه د كمال تا لره دي، زه ګواهي كوم چه نشته حقدار د عبادت سِوا ستا نه، زه بخښنه غوارم ستا نه، او توبه اوباسم تا ته.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فائده : حدیث کښې راغي : څوک چه یو ځائې کښې کیني او بې ځایه خبرې اوکړي او د پاڅیدو نه مخکښې ئې دا دعا اووئیله، الله پاک به ددهٔ د مجلس تول ګناهونه دهٔ ته معاف کړي او که د نیکۍ مجلس وي، نو دا دعا به د مهر پشان شي۔

(۲) – اَللّٰهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُوْلُ بِهٖ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ مَعَاصِيْكَ وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهٖ جَنَّتَكَ وَمِنَ الْيَقِيْنِ مَا تُهَوِّنُ بِهٖ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا. اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنَا بِاَسْمَاعِنَا وَاَبْصَارِنَا وَقُوَّاتِنَا مَا اَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا . وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلٰى مَنْ ظَلَمَنَا وَانْصُرْنَا عَلٰى مَنْ عَادَانَا وَلَا تَجْعَلْ مُصِيْبَتَنَا فِيْ دِيْنِنَا وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا اَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا .

[حسن : ترمذی رقم ۳٤۹۷ ـ الحاکم ۱/۵۲۸ ـ ابن السنی رقم ٤٤٦]

ترجمه : اې الله! تقسیم کړه مونږ له ستا د یرې نه دومره چه زمونږ او ستا د نافرمانۍ په مینځ کښې پرده شي . او دومره تابعداري ستا راکړه چه ته پرې مونږ جنت ته داخل کړې، او دومره یقین راکړې چه د دنیا مصیبتونه ته مونږ ته د هغې په ذریعه آسان کړې. اې الله! ته مونږ له په غوږونو خپلو فائده راکړې او په سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ او په قوتونو زمونږ، ترڅو چه تا ژوندي اوساتلو - او دا زمونږ نه روسته پاتے کړے (يعني تر مرګه پورے پدے کښے څه فرق مه راولے) او وګرځوے قصاص زمونږ په ظالمانو زمونږ، او مدد اوکړے زمونږ په مقابله د دشمنانو زمونږ کښے. او مصيبت زمونږ په دين کښے مه راولے، او دنيا لوئی مقصد زمونږ مه ګرځوے او نه انتهاء د علم زمونږ او مه مسلط کوه په مونږ باندے هغه څوک چه رحم نکوی په مونږ باندے.

**فائده ۵**: رسول الله ﷺ به په اکثرو اوقاتو کښے چه کله د خپل مجلس نه پاڅيدو نو دغه دعا به ئے خپلو دوستانو دپاره کوله، دا په مجلس کښے دننه هم راغلے ده او د مجلس په اختتام کښے هم.

(۳) - اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ مَا قَدَّمْتُ وَمَا اَخَّرْتُ وَمَا اَسْرَرْتُ وَمَا اَعْلَنْتُ وَمَا اَسْرَفْتُ وَمَا اَنْتَ اَعْلَمُ بِهٖ مِنِّیْ، اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِیْ مِنْ طَاعَتِكَ مَا تَحُوْلُ بَيْنِیْ وَبَيْنَ مَعْصِيَتِكَ، وَارْزُقْنِیْ مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تُبَلِّغُنِیْ بِهٖ رَحْمَتَكَ، وَارْزُقْنِیْ مِنَ الْيَقِيْنِ مَا تُهَوِّنُ بِهٖ عَلَیَّ مَصَائِبَ الدُّنْيَا وَبَارِكْ لِیْ فِیْ سَمْعِیْ وَبَصَرِیْ وَاجْعَلْهُمَا الْوَارِثَ مِنِّیْ، اَللّٰهُمَّ وَخُذْ بِثَارِیْ مِمَّنْ ظَلَمَنِیْ وَانْصُرْنِیْ عَلٰی مَنْ عَادَانِیْ وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا اَكْبَرَ هَمِّیْ وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِیْ، اَللّٰهُمَّ وَلَا تُسَلِّطْ عَلَیَّ مَنْ لَا يَرْحَمُنِیْ -

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[المستدرك ۲/۲۱٤، ۲۱۵، رقم: ۱۹۷۷، المعجم الكبير للطبراني رقم: ۵۷، صحيح على شرط البخاري]

**ترجمه:** اے الله! زما هغه ګناهونه وبخښه چه ما مخکښې کړيدي او چه ما روستو کړيدي، او چه ما پټ کړيدي او چه ما ښکاره کړيدي او هغه چه ما اسراف کړيدے او هغه چه تهٔ پرے زما نه زيات پوهيږے. اے الله! ما ته رانصيب که خپل طاعت چه زما او ستا د ګناه په مينځ کښې رکاوټ وی، او رانصيب کړه ما ته ستا دومره يره چه تهٔ پرے ما خپل رحمت ته ورسوے. او رانصيب کړه داسے يقين چه تهٔ د هغې په وجه په ما باندے د دنيا مصيبتونه آسان کړے او زما په غوږ او سترګه کښې برکت واچوه او ما نه روستو دا باقی اُوساته. اے الله! زما بدله د هغه چا نه واخله چه په ما ظلم کوی او ما سره مدد اُوکړه په مقابله د هغه چا کښې چه ما سره دشمنی کوی او زما عظيم مقصد او د علم انتهاء دنيا مهٔ جوړه وه. اے الله! او په ما باندے هغه خوك مهٔ مسلط (مقرر) کوه چه په ما باندے رحم نهٔ کوی.

**فائده:** رسول الله ﷺ به چه کله د مجلس نه پاڅيدو نو دا دعا به ئے وئيله، يعنی د مجلس اختتام به ئے پرے کولو.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مجلس کښې استغفار کول

(۱) - رَبِّ اغْفِرْلِیْ وَتُبْ عَلَیَّ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُوْرُ.

[صحيح : ابوداود رقم ۱۵۱٦ ـ الترمذی : ۳٤۳٤، ابن ماجه رقم ۳۸۱٤]

**ترجمه** : اے ربه ! ما ته بخښنه اوکړه او توبه اوباسه په ما باندے، بیشکه ته توبه قبلونکے، بخنه کونکے ئے .

**فائده** : صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین فرمائی : مونږ به د نبی علیه السلام دپاره په مجلس کښے سل (۱۰۰) ځله استغفار شمارلو .

(۲) - په هر مجلس کښے ضرور څه نا څه ذکر د الله تعالی، یا درود په رسول الله ﷺ وئیل پکار دی، که داسے اونشی نو رسول الله ﷺ فرمائی : چه دا خلق به ضرور په نقصان کښے پریوځی او داسے مثال به ئے وی لکه د مردار خر نه چه څوك پاڅیږی .

[الترمذی رقم ۳۳۷۷ ـ الحاکم ۱/٤۹٦، احمد ۲/٤٤٦، ابن السنی رقم ٤٤۹]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه د غیر الله په نوم قسم اوخوری نو د کفارے په طور دے داسے اووائی

(۱) - لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ .

[بخاری فی الایمان ٤٨٦٠، وفی الادب رقم: ٦١٠٧، ومسلم فی الایمان رقم: ٤٣٤٩، واحمد ٣٠٩/٢، رقم: ٨٠٧٣، وابوداود: ٣٢٤٩]

**فائده** : دا کلمه ځکه وئیلے شی چه د الله نه ماسوا په بل چا باندے قسم کول مثلا د پلار په سر باندے، یا پیغمبر باندے، یا په کاکا صاحب یا بابا باندے نو دا شرك دے لکه چه حدیث کښے راغلی دی، نو که دغه شخص دا کلمه یقین سره اووائی نو هغه پدے بیرته مسلمانیږی او دا کفاره ده.

(۲) – لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ .

[اسناد صحیح: ابن ماجه رقم ٢٠٩٧ - احمد ١٨٣/١، ١٨٦]

**فائده** : حدیث کښے راغلی دی چا چه د الله د نوم نه سِوا د بل چا په نوم قسم اوخوړو نو دا کلمه دِ اووائی او دریے (۳) ځله دِے چپ طرف ته لاړے تو کړی او آینده دِے داسے کار نه کوی. سعد وائی: ما په لات او عزیٰ باندے قسم وکړو نو رسول الله ﷺ راته دغه حکم وکړو- [ابن ماجه]،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غصے په وخت دعا

(۱) - اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ .

[بخاری ۱/۴٦۴، رقم : ۳۲۸۲، مسلم : ٦۸۱۲، وابوداود رقم ۴۷۸۰/۴۷۸۴ـ احمد ۲۲٦/۵ ـ ۱۵۲/۵ ـ ابن السنی رقم ۴۵۴]

**فائده :** حدیث کښې راغلی ځوك چه غصه شی او اَعُوْذُ بِاللهِ ـ اووائی نو د هغهٔ غصه به لاړه شی.

دغه شان په صحیح حدیث کښې راغلی : که غصه انسان ولاړ وی نو کیدِینی او که ناست وی نو ډده ډِے اُولګوی، نو غصه به ئے ختمه شی. په یو بل روایت کښې دی : اودس ډِے اوکړی ځکه چه شیطان د اُور نه پیدا شویدے، او اُور په اوبو مری. داروایت اګرچه سنداً ضعیف دے.

(صحیح کتاب الاذکار وضعیفه ۷۴۴/۲)

لیکن اودس هر وقت کول مستحب دی لکه حدیث کښې راغلی دی چه اودس د مومن صفت دے : وَلَا يُحَافِظُ عَلَى الْوُضُوْءِ إِلَّا مُؤْمِنٌ. [الحاکم ۴۴۷، ابن حبان رقم : ۱۰۳۷] ـ په اودس باندے حفاظت صرف مؤمن کوی۔

## کله چه مسلمان په خندا اووینے نو داسے ووایه

اَضْحَكَ اللهُ سِنَّكَ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : يعنى الله تعالى دے ستا غابن اوخنده وى- يعنى الله دے تا خوشحاله لرى-

فائده : عمر فاروق رضى الله عنه رسول الله ﷺ لره په خندا وليدو نو داسے ئے ورته وفرمايل- [بخارى ۱/٤٦٥ رقم : ۳۲۹٤ مسلم: ٦٣٥٥]

## كله چه تهٔ چا ته څهٔ هديه وركړے او هغه تا ته دعا اوكړى نو تهٔ به هم هغهٔ ته همغه شان دعا كوے

حديث كښې راځى : عائشے رضى الله عنها به چه كله چاكره څه څيز اوليږلو د صدقے په طور، نو خادم نه به ئے تپوس اوكړو چه څه دعائے مونږ ته اوكړه نو هغه شان به ورته ډيے هم اوكړه، دے دپاره چه زمونږ صدقه (ام المؤمنين وائى) باقى پاتے شى او په دغه دعا سره ددے بدله پوره نشى. [ابن السنى ۲۷٦]

## كله چه تا سو سره څوك احسان اوكړى

جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا .

(الله تعالىٰ ډے غوره بدله دركړى)

[سند صحيح : الترمذى رقم ۲۰۳٦، ابن السنى رقم ۲۷٥]

فائده : حديث كښې راځى : كله چه تاسو سره څوك احسان

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکړي نو د هغې بدله ورکړئ، که بدله نشئ ورکولې نو دغه دعا ورته اوکړه، د هغه بدله به خلاصه شي.

## د منکرکار ختمولو په وخت دعا

(۱) - جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا

. [الاسراء: ۸۱]

ترجمه: حق راغلو او باطل نیست او نابود شو، یقینا باطل ختمیدونکے دے.

(۲) - یا - جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ

[سبا: ٤٩]

ترجمه: حق راغلو او (معبود) باطل نۀ اول ځل پیدائش کولے شي او نۀ به دوباره پیدائش اوکړي.

فائده: دا آیت رسول الله ﷺ په هغه وخت لوستلے وو چه کله ئې د کعبې نه بتان راغورزول.

[اخرجه البخاري ۱/۳۳٦ رقم: ٤۷۲۰، ومسلم۲/ ۱۰٤ رقم: ٤۷۲٥]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که ستا د ګیرې یا مخ
## نه خوک څۀ خس، خشاک
## لرې کړي نو داسې دعا ورته اوکړه

اَخَذَتْ يَدَاكَ خَيْرًا .

ترجمه : ستا لاس دِې خير واخلي.

فائده : عمر فاروق رضی الله عنه د يو سړي د ګيرې نه څۀ څيز لرې کړو نو هغه ورته اووئيل : صَرَفَ اللهُ عَنْكَ السُّوْءَ (يعنی الله دِې ستا نه تکليف او بدحالی لرې کړي، نو عمرفاروق ﷺ اُووئيل : داسې مه وايه، بلکه داسې وايه ! اَخَذَتْ يَدَاكَ خَيْرًا . دا روايت اګرچه منقطع دې ليکن هسې يو عام ذکر دې، که چا د خپلې دعا په ځائې اُولوستلو نو جائز ده.

[ابن السنی رقم ۲۸۳ موقوف منقطع صحيح کتاب الاذکار وضعيفه ۲/۷۶۸]

## کله چه د نظر لګيدلو نه يريږي

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ

وئيل پکار دی. ترمذی (۲۰۵۸)، ابن ماجه (۳۵۱۱)

حديث کښې راځي : کله چه يو کس پتاسو کښې هغه څيز

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووینی چه ددهٔ خوښ شی په خپل نفس یا مال کښې نو دعا د برکت دې اُوکړی: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ – يا بَارَكَ اللّٰهُ فِيهِ– ځکه سترګې لګیدل حق دی. [المستدرك : ۵۷۴۲]، دغه شان چه د بل چا بدن یا مال ښائسته اووینی نو دعا د برکت دِې ورته اوکړی : " بَارَكَ اللّٰهُ فِيكَ ".

## د بد فالئ په وخت دعا

اَللّٰهُمَّ لَا طَيْرَ اِلَّا طَيْرُكَ وَلَا خَيْرَ اِلَّا خَيْرُكَ وَلَا اِلٰـهَ غَيْرُكَ .

[اسناد حسن : ابن السنی رقم ۲۹۲ _ الصحیحة رقم ۱۰۶۵]

ترجمه : اے الله ! نشته بد فالی مګر ستا فال دے او نشته خیر مګر ستا خیر دے او ستا نه سِوا هیڅوك حقدار د بندګئ نشته.

فائده :رسول اکرم ﷺ فرمائی : کوم یو انسان چه د یو شی نه بد فالی اونیسی او د یو کار کولو نه واپس شی، نو دهٔ شرك اوکړو، صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین عرض اوکړو، کفاره به ئے څهٔ وی؟، نو نبی علیه السلام دغه دعا وراوخودله.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه یو غوره شے اووینی نو داسے دِے ووائی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ بِنِعْمَتِهٖ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ .

[صحیح : ابن ماجه : ۳۸۰۳]،

ترجمه : ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دی چه د هغه په نعمت سره ټول ښه حالتونښه پوره کیږی .

## کله چه یو بد شے اووینی نو داسے دِے ووائی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ .

ترجمه : په هر حال کښے الله تعالی دصفتونو مستحق دے .

[ابـن مـاجـه : ۳۸۰۳] ، الـمستدرك ۲/ ۱۷۳، ۱۷٤ رقم ۱۸۸۳-
حدیث صحیح قاله الالبانیؒ فی الصحیحة رقم ۲٦٥ ص ۵۳۰]

## د ریاء نه د یریدو په وخت دعا

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَعُوْذُ بِكَ مِنْ اَنْ نُشْرِكَ بِكَ شَیْئًا نَعْلَمُهٗ وَنستغفِرُكَ لِمَا لَا نَعْلَمُ.

[احمد : ۱۹٦۲۲، المعجم الکبیر للطبرانی رقم : ۱۵٦۷، صحیح الترغیب ۱/۱۹/ ۱- بِسَنَدٍ حَسَنٍ لِغَیْرِهٖ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : اے الله! مونږ پناه غواړو پتا ددے نه چه شرك اوكړو تا سره د هغه شی چه مونږ ته معلوم وی، او بخښنه غواړو تا نه د هغه څیز چه مونږ ته نه وی معلوم.

فائده : رسول الله ﷺ په یو مجلس کښې فرمائیلی وو چه د شرك نه ځان اوساتئ ځکه هغه (په خلقو کښې) د میږی د کشاری نه هم پټ راځی. چا عرض اوکړو چه مونږ به ترے څنګه ځان اوساتو چه هغه داسے پټ راځی؟ نو رسول الله ﷺ دغه دعا ورو خودله (چه دا وایئ د شرك نه به خلاص شئ).

## کله چه د یو مسلمان صفت کوے

اَحْسِبُ فُلَانًا وَاللّٰهُ حَسِيْبُهٗ وَلَا اُزَكِّیْ عَلَى اللّٰهِ اَحَدًا .

[بخاری : ۲۶۶۲، مسلم ۲/ ٤١٤ رقم : ۷۶۹۳]

ترجمه : زما ګمان دے په فلانی، چه نیك سړے دے او الله ئے حساب کونکے دے او زه نه پاکوم په الله هیڅوك.

فائده : حدیث کښې راځی کله چه ته د یو ملګری صفت کوے، نو دا دعا اووایه او مخامخ صفت مه کوه او دا هم هغه وخت کښې وایه چه تا ته معلومه وی چه نیك اعمال پکښې دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه تا ته خوک اووانی چه څما تا سره مینه ده نو ته ورته داسے اووایه !

اَحَبَّكَ اللّٰهُ الَّذِیْ اَحْبَبْتَنِیْ لَهٗ .

(صحیح : ابوداود رقم ۵۱۲۵ ـ الحاکم : ۷۳۲۱، مشکاة رقم ۵۰۱۷]

ترجمه : مینه دِے اوکړی تاسره الله، هغه ذات چه د هغه دپاره ت ما سره مینه کوے.

## کله چه تا ته خوک خپل مال پیش کړی

بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِیْ اَهْلِكَ وَمَالِكَ .

[بخاری ٤/۸۸ رقم : ۲۰٤۹ ابن السنی رقم ۲۷۷۱]

ترجمه : برکت دِے واچوی الله تعالی ستا په اهل او مال کښے.

فائده : دا دعا عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه کړے وه یو انصاری صحابی ته کله چه هغهٔ ورته خپل نیم مال پیش کړو (هغه صحابی سعد بن الربیع رضی الله عنه وو).

## د حج متعلق دعاګانے

اَللّٰهُمَّ حَجَّةً لَا رِيَاءَ فِيْهَا وَلَا سُمْعَةَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[صحيح الجامع الصغير رقم : ۱۳۰۲، وتقريب البُغية بترتيب احاديث الحلية ۴۳/۲ رقم ۱۵۸٤، الصحيحة : ۲۲۷/٦)

ترجمه : اے الله ! زما دا حج داسے حج اوګرځوه چه نه په کښې چا نه اورول وی او نه په کښې رياء وی.

## د حجر اسود ښکلولو په وخت دعا

بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَرُ

[فتح البارى ۴٧٦/۳ - البيهقى ٧٩/٥ - بسند صحيح]

په مرفوع روايت کښې صرف الله اکبر راغلے دے لکه بخاری (۱۶۱۳) کښې دی. او د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَر ثابت دے. لهذا په اول کښې دواړه وئيل او په باقی چکرونو کښې صرف الله اکبر وئيل پکار دی.

## د رکن يمانى او حجر اسود مينځ کښې دعا

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ .

[سنده حسن : ابو داود رقم ۱٦٥۳ - احمد ۴۱۱/۳]

(ترجمه ئے مخکښې تیره شویده)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صفا مروه باندے د اودریدو په وخت دعا

لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَـهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ. لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ .

[مسلم ٤١٣/١ رقم : ٣٠٠٩]

**ترجمه :** ددې الفاظو ترجمه تیره شویده : د آخری الفاظو معنی دا ده : نشته حقدار د بندګئ سوا د الله نه یواځې دے، پوره ئې کړه وعده خپله او د خپل بنده ( محمد ﷺ) سره ئې مدد اوکړو او ټولو ډلو ته ئې یواځې شکست ورکړو.

**فائده :** دا دعا به رسول الله ﷺ په صفا او په مروه باندے درے درے ځله وئیله او په مینځ کښې به ئې نورے دعاګانے هم کولے.

## د عرفے په ورځ عرفات کښې دعا

لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَـهُ، لَـهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ .

[ سند حسن : الترمذی ١٨٤/٣ رقم : ٣٥٨٥ ـ الصحيحة ٦/٤]

**فائده :** رسول الله ﷺ فرمائی : بهتر هغه ذکر چه ما لوستلے دے او زما نه مخکښې نورو پیغمبرانو لوستلے دے دا ذکر دے.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه د يو قوم نه يريږي

اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ .

[مسلم ٢/٤١٥ رقم : ٧٧٠٣]

ترجمه : اے الله ! ته څما کافي شه د دوئ نه په هغه څه چه خوښه شي ستا .

## د تعجب يا د خوشحالئ د خبر په وقت

(۱) – سُبْحَانَ اللهِ .

[بخاری مع الفتح ١/٢١٠، ٣٩٠ـ الترمذی رقم ٢٢٨٥]

(۲) – اَللهُ اَكْبَرُ .

[مسند احمد ٥/٢١٨، رقم : ٢٠٩٧]

## په سجده د تلاوت کښې دعا ګانے

(۱) – اَللّٰهُمَّ اكْتُبْ لِيْ بِهَا عِنْدَكَ اَجْرًا وَضَعْ عَنِّيْ بِهَا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَا لِيْ عِنْدَكَ ذُخْرًا وَتَقَبَّلْهَا مِنِّيْ كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوٗدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[حسن : الترمذی رقم ٣٤٦٤ ـ ابن ماجه ١٠٥٣]

**ترجمه** : اے الله ! اولیکه ما دپاره پدے سجده ثواب، او لرے کړه ځما نه پدے سره گناه، او اوگرځوه دا زما دپاره ذخیره ستا سره او قبوله ئے کړه ما نه لکه څرنگ چه تا قبوله کړے وه د خپل بنده داؤد علیه السلام نه.

**فائده** : نبی علیه السلام ته یو سړے راغلو، عرض ئے وکړو چه ما بیگاه شپه خوب ولیدو چه گویا که زهٔ د یوے ونے شا ته په مانځه ولاړ یم، نو زما په سجده باندے ونے هم سجده وکړه او ما د ونے نه دا دعا واوریده، بیا نبی علیه السلام د سجدے آیت ولوستلو او سجده ئے وکړه ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : چه ما د نبی علیه السلام نه دغه دعا واوریده کومه چه دے سړی د ونے نه آوریدلے وه.

(٢) - سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ خَلَقَهٗ وَشَقَّ سَمْعَهٗ وَبَصَرَهٗ بِحَوْلِهٖ وَقُوَّتِهٖ

[صحیح : الترمذی رقم ٣٦٦٥ ـ ابو داؤد ١٢٧٤ ـ المشکاة ١/٩٤]

**ترجمه** : سجده اوکړه مخ زما هغه ذات ته چه پیدا کړے ئے دے او غوږ او سترگے ئے ورلره څیرلی دی، پخپل قوت او طاقت سره.

## د صلوٰة تسبیح دعا

سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ .

**فائده** : صلوه تسبیح باره کښے بعضِ علماء وائی چه دا نه دے ثابت، لیکن دا خبره خطا ده، بلکه دا صحیح ثابت دے - اوگوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاسرار المرفوعه للشيخ عبد الحى اللكنوئ تفصيلًا .

دا رنګ دے باره کښې مونږ په خپله "فتاوى الدين الخالص" پنځم جلد کښې ډير دلائل راجمع کړيدى .

فائده ۵ : د صلوة تسبيح طريقه داده چه د رکوع نه مخکښې يعنى د سورت د اختتام نه پس (۱۵) ځله مذکوره دعا اُولولى، بيا په رکوع کښې لس (۱۰) ځله، بيا په قومه کښې لس (۱۰) ځله او په سجده کښې لس ( ۱۰ ) ځله بيا په جلسه کښې لس (۱۰) ځله بيا په دويمه سجده کښې لس (۱۰) ځله، بيا د دويمے سجدے نه د راپورته کيدو نه بعد يعنى جلسه د استراحت کښې (د قيام نه مخکښې) لس (۱۰) ځله نو دا په يو رکعت کښې پنځه اَويا (۷۵) ځله شو . پدے طريقه په څلورو رکعتونو کښې دغه شان اُوکړه .

[ ابوداود ج ۱/ ۱۹۰-۱۹۱، انظر فتاوى الدين الخالص ٥ /٣٦٤].

## ليلة القدر د ليدو دعا

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيْمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّىْ .

ترجمه : اے الله ! ته معافى کونکے ئے، د معافئ سره مينه لرے نو ماته معافى اوکړه .

[صحيح : الترمذى رقم (۳۷٦۰) ابن ماجه رقم (۳۸۵۰) ]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوک چه نوے مسلمان شی نو دا دعا به ورته خودلے شی

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ وَارْحَمْنِیْ وَاهْدِنِیْ وَعَافِنِیْ وَارْزُقْنِیْ .

[مسلم ٢/٣٤٩۔ رقم: ٧٠٢٥، المشکاة ١/٢١٨]

ترجمه : اے الله ! بخښنه اوکړه ما ته او رحم اوکړه په ما او هدایت اوکړه ما ته، او ما جوړ کړه، او ما ته رزق راکړه.

فائده : څوك به چه مسلمان شو نو رسول الله ﷺ به ورته اول د مونځ تعلیم ورکړو او بیا به ئے ورته ددے دعا خودنه اوکړه چه دا وایه۔

## شیشه کښ د کتلو دعا

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِیْ فَاَحْسِنْ خُلُقِیْ .

[احمد رقم: ٣٨٢٣، مسند ابی یعلی الموصلی رقم: ٥١٨١، صحیح الترغیب والترهیب رقم: ٢٦٥٧، تعلیق ابن السنی رقم١٦٣۔ ارواء الغلیل ١/١١٣۔١١٦]

ترجمه : اے الله ! تا زما شکل ښائسته کړیدے، پس زما اخلاق هم ښائسته کړے.

فائده : علماء وائی : دا دعا په صحیح حدیث کښے راغلے ده لیکن د شیشے ذکر ورسره په صحیح حدیث کښے نشته، نو دا دعا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر وخت لوستلے شی، که د شیشے په وخت هم اولوستے شی نو هم صحیح ده.

## شیطان نه د بچ کیدو اَذکار

(۱) - سُورتِ بقره لوستل.

فائده : حدیث کښې راځي چه د خپلو کورونو نه مقبرے مه جوړوئ، شیطان د هغه کور نه تختی کوم کښې چه سورتِ بقره لوستلے شی.

[مسلم ۱/۲٦٦ ـ مشکاة ۱/۱۸٤ ـ فتاوٰی الدین الخالص ۱/٤٤]

د سورتِ بقرے په هر آیت لوستلو کښې دا خصوصیت دے چه شیطان ترینه تختی.

(۲) - ذکرِ اِلٰهی په کثرت سره کول د شیطان نه د بچکیدو لویه ذریعه ده لکه چه دا په حدیث د حارث اشعری ﷺ کښې راځی.

(مسند احمد ٤/۱۳٤، ترمذی ۲/رقم ۲۸٦۳)

(۳) - سورة الفلق او سورة الناس-

لوستل د شیطان نه د بچ کیدلو ښه ذریعه ده.

(تفصیل فتاویٰ الدین الخالص کښې ۱/۱٤۳ اوګوره)

## ملاقات نه پس د جدائی په وخت دعا

(۱) - اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَفِی الْآخِرَةِ حَسَنَةً

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ .

[حسن : ابن السنی فی عمل الیوم واللیلة ٢٠٤]

**فائده :** رسول الله ﷺ به چه کله د یو سړی لاس اونیولو اوبیا به جدا کیدو نو مذکوره دعا به ئے لوستله .

(۲) – سُوْرَةُ العصر لوستل :

**فائده :** حدیث کښے راځی چه صحابه کرام به کله د یو بل سره ملاویدل نو نۀ به جدا کیدل تردے چه یو به سورة العصر اولوستلو په بل باندے، بیا به ئے سلام اوکړو او جدا به شو .

[شعب الایمان ٦/٥٠١ ـ الصحیحة ٦/٢٦٤٨ وسنده صحیح]

سُوْرَةُ الْعَصْر د لوستلو وجه داده چه په دیکښے ډیر لوئی وعظ پروت دے او هغه دا چه الله تعالی فرمائی چه هر انسان تاوانی دے سوا د هغه کس نه چه په هغه کښے څلور صفات دی چه هغه: تاوان نه بچ دے او هغه څلور صفات دا دی :

١ – صحیح ایمان۔

٢ – عمل صالح۔

٣ – یو بل ته د حق خبرے وصیت کول۔

٤ – او د صبر وصیت کول .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کله چه په مسلمان یو کار گران شي

اَللّٰهُمَّ لا سَهْلَ اِلّا مَا جَعَلْتَهُ سَهْلًا وَاَنْتَ تَجْعَلُ الْحَزْنَ سَهْلًا اِذَا شِئْتَ

[اسناده صحیح : صحیح ابن حبان ۲/۱۶۱، الدعوات الکبیر للبیهقی رقم : ۲۳٤]

ترجمه : ای الله ! نشته آسانی مګر هغه شی چه ته ئے آسان کړے او ته ګران خیزونه آسانوے کله چه ستا اراده اوشی.

فائده :نبی علیه السلام به دا دعا په هغه وخت کوله چه کله به ورته یو شے ګران شو او نه به کیدلو.

## د رزق د فراخئ اذکار او اسباب

(۱) - په نبی علیه السلام باندے ډیر درود وئیل :

فائده : حدیث کښے راځی چه ابی بن کعب رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو : یا رسول الله ! زه تهول ورد ستا درود اوکړخوم ؟ نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل :

اِذَنْ يَكْفِيكَ اللّٰهُ مَا اَهَمَّكَ مِنْ دُنْيَاكَ وَآخِرَتِكَ .

یعنی الله تعالی به ستا د دنیا او آخرت پریشانئ لرے کړی.

[حدیث حسن : مسند احمد رقم : ۲۱۲۸۰، المعجم الکبیر : ۳٤۹۳]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٢) – اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ اَوْسَعَ رِزْقِكَ عَلَيَّ عِنْدَ كِبَرِ سِنِّيْ وَانْقِضَاءِ عُمُرِيْ .

ترجمه : اې الله ! فراخه رزق ما ته راکړه په وخت د بوډا والی زما کښې او د ختميدلو د عمر زما کښې .

فائده : حديث کښې راځي عائشه رضی الله عنها فرمائي چه نبي عليه السلام به ( په عام اوقاتو کښې ) دا دعا کوله يعنی هر وخت ئې کولے شي څه خاص وخت ورله نشته دے .

[حسن : الحاكم : ١٩٨٧، المعجم الاوسط للطبرانی رقم : ٣٦١١، الصحيحة ١٥٣/٩ ـ صحيح الجامع ٣٩٦/١ ـ رقم : (١٢٥٥) مجمع الزوائد ١٦٠/١٠ ـ فتاوى الدين الخالص]

(٣) – دريم سبب : دعا کول دي په اخلاص او توجه سرهلکه حديث کښې راځي : "اَلَا اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَا يُنَجِّيْكُمْ مِنْ عَدُوِّكُمْ وَيَدِرُّ لَكُمْ اَرْزَاقَكُمْ تَدْعُوْنَ اللّٰهَ فِيْ لَيْلِكُمْ وَنَهَارِكُمْ فَاِنَّ الدُّعَاءَ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ".

نبي عليه السلام فرمائي : آيا تاسو ته هغه شے نه درښايم چه تاسو د دشمن نه خلاص کړي او رزق درله فراخه کړي هغه دعا ده د الله تعالى نه د شپے او د ورځے ، ځکه دعا د مومن وسله ده. الترغيب ٤٨٣/٢ ـ ابويعلیٰ وسنده متكلم فيه كما فى الضعيفة ٢١٥/١ رقم ١٨٠)

فائده : دا حديث اګر چه ضعيف دے ليکن پدے باندے دلائل ډير دي چه دعا په هر څه کښې تاثير لري.

(٤) – لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ

فائده : حديث کښې راځي : نوح عليه السلام خپل ځوی ته

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وصیت کړے وو په دوه خبرو، یو په : لَا اِلٰـهَ اِلَّا الله - دویم په - سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ ''- او دا ئے ورته فرمائیلی وو چه دا د ټول مخلوق عبادت دے او ټول مخلوق ته الله پدے سره رزق ورکوی.

[الادب المفرد للامام البخاریؒ رقم ٥٤٨ ـ وسنده صحیح ] او لَا اِلٰـهَ اِلَّا الله جدا کلمه ده او – سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ جدا کلمه ده.

(۵) - پنځم سبب: صله رحمی (خپلولی) قائمول دی.

حدیث کښے راځی : څوك چه د رزق فراخی غواړی او د عمر ډیر والے غواړی نو صله رحمی دِے قائم کړی. (بخاری ومسلم)

(٦) - مونځ هم سبب د فراخئ د رزق دے - كَمَا رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ فِی الْمُصَنَّفِ وَسَعِيْدُ بْنُ مَنْصُوْرٍ وَاَحْمَدُ فِی الزُّهْدِ.

(۷) - اووم سبب تقوی ده قرآن مجید کښے دی :

﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾۔

(الطلاق ۲/۳)

یعنی څوك چه د الله نه یریږی نو د هغه دپاره به الله تعالی لاره د خلاصی پیدا کړی او د هغه ځائے نه به ورته رزق ورکړی چه ګمان به ئے هم نه وی.

(۸) - اتم سبب د آخرت فکر دے : لکه حدیث کښے راځی :

[مَنْ جَعَلَ الْهُمُوْمَ هَمًّا وَاحِدًا هَمَّ الْمَعَادِ كَفَاهُ اللهُ هَمَّ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ].

یعنی چا چه ټول فکرونه په یو فکر بدل کړل چه هغه فکر د آخرت دے نو الله تعالی به ئے د دنیا او د آخرت د غمونو نه کافی شی.

[حسن : ابن ماجه : ۲۵۷، المستدرك : ۳٦۵۸، شعب الایمان، صحیح الجامع رقم : ٦۱۸۹]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنهم نه د بچاؤ او د جنت د حاصلولو دعا

حدیث کښې راغلي چا چه اووه (۷) ځله د جهنم نه پناه اوغوختله او اووه (۷) ځله ئې د جنت طلب اوکړو نو جهنم اووائی چه اے الله! ستا فلانی بنده ما نه پناه اوغوختله، ته پناه ورکړے ما نه، او جنت وائی چه اے الله! ستا بنده زه غوختلے یم جنت ته ئې داخل کړه!.

[رواه ابویعلی بسند صحیح ـ الترغیب ٤/٤٥٠، الصحیحة: ٦/٢٢]

دارنګه د ذکر د هر مجلس نه روسته د جهنم نه پناه غوختل او د جنت طلب کول پکار دی، الله تعالی وعده کړیده چه زه دے مجلس والو ته د دوئ مطلوب ورکوم.

[کما رواه مسلم رقم: ٧٠١٥ـ الترمذی رقم: ٣٦٠٠ احمد: ٧٤١٨]

## د نیکو ډیر والی دعا

(۱) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَحُبَّ الْمَسَاكِيْنِ وَاَنْ تَغْفِرَلِيْ وَتَرْحَمَنِيْ وَاِذَا اَرَدْتَّ فِتْنَةً فِيْ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِيْ غَيْرَ مَفْتُوْنٍ وَاَسْئَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُّحِبُّكَ وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِيْ اِلٰى حُبِّكَ.

[صحیح: ترمذی رقم: ٣٢٣٣ مسند احمد رقم: ٢٢١٦٢]

ترجمه: اے الله! زه تا نه د نیکو کارونو کول او د بدو کارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریخودل او د مسکینانو سره محبت غواړم او ستا مغفرت او رحمت غواړم او کله چه ته اراده اوکړې د څه امتحان په بندګانو نو ماترینه مخکښې وفات کړه او تا نه ستا مینه غواړم او د هغه چا مینه چه تا سره مینه کوی او محبت د هغه عمل چه ستا محبت ته مې نژدې کړی.

**فائده** : دا ډیره قیمتی او ایمانی دعا ده نبی علیه السلام فرمائیلی دی دا دعا یاده کړئ. (او دا د فرض مانځه نه پس هم لوستلې شی.-)

(۲)- سبحان الله وئیل : حدیث کښې راغی چا چه د ورځې سل (۱۰۰) ځله سبحان الله اووئیله نو زر نیکئ به ورله اولیکلې شی او زرګناهونه به ئې معاف شی. حدیث صحیح ابن حبان ۹۶/۲)

(۳) - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ مِلْءَ مَا خَلَقَ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَدَدَ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَدَدَ مَا اَحْصٰی کِتَابُهٗ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ مِلْءَ مَا اَحْصٰی کِتَابُهٗ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَدَدَ کُلِّ شَیْءٍ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ مِلْءَ کُلِّ شَیْءٍ:

سُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ، سُبْحَانَ اللّٰهِ مِلْءَ مَا خَلَقَ، سُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ، سُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا اَحْصٰی کِتَابُهٗ، سُبْحَانَ اللّٰهِ مِلْءَ مَا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَحۡصٰی کِتَابُهٗ، وَسُبۡحَانَ اللهِ عَدَدَ کُلِّ شَیۡءٍ، وَسُبۡحَانَ اللهِ مِلۡءَ کُلِّ شَیۡءٍ.

[رواه احمد رقم: ۲۲۱۹۸، والطبرانی فی الکبیر ۸۱۲۲/۸ - ۷۹۳۰ - واسناده صحیح کما فی صحیح الجامع رقم: ۲٦۱۵ وصحیح الترغیب]

**ترجمه:** ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دي د هغه د مخلوق د شمار برابر، ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دي، د هغه د مخلوق د ډکوالي برابر، ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دي د هغه څيزونو د شمار برابر چه په زمکه او آسمان کښې دي، ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دي د هغه څيزونو د شمار برابر چه د هغه کتاب راګير کړيدي، ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دي، د هغه څيزونو د ډکوالي برابر چه د هغه کتاب راګير کړيدي، ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دي، د هر شي د شمار برابر، ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دي، د هر شي د ډکوالي برابر.

پاکي ده الله لره د هغه د مخلوق د شمار برابر، پاکي ده الله لره، د هغه د مخلوق د ډکوالي برابر، پاکي ده الله لره د هغه څيزونو د شمار برابر چه په زمکه او آسمان کښې دي، پاکي ده الله لره د هغه څيزونو د شمار برابر چه د هغه کتاب راګير کړيدي، پاکي ده الله لره د هغه څيزونو د ډکوالي برابر چه د هغه کتاب راګير کړيدي، پاکي ده الله لره د هر شي د شمار برابر، پاکي ده الله لره د هر شي د ډکوالي برابر.

**فائده:** ابوامامه ﷺ فرمائي: ما خوله خوزوله، نبي عليه السلام راته اوفرمائيل: څه وائې؟ ما اووئيل: ذکر کوم. نبي عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلام اوفرمائیل: آیا تا ته داسې ذکر نهٔ ښایم چه که شپه او ورځ ذکر اوکړې، نو بیا به هم هغې ته اُونهٔ رسیږې. ما عرض اوکړو: ولې نه اې د الله رسوله! نو نبی علیه السلام دغه مذکوره الفاظ ما ته اوخودل او وې فرمائیل: دا پخپله هم یاد کړه او بچو ته ئې هم یاد کړه. (نو ددې یادول پکار دی)

## د دعا د قبلیدو ذریعه

د دعا د قبلیدو ډیر اسباب دی، لکه: حلال خوراك کول، رشتیا وئیل، دعا کښې کوشش کول، توجه سره دعا کول (چه دا په اول د کتاب کښې تفصیلًا تیر شویدی) او خصوصاً د الله تعالی په اسماء او صفاتو باندې وسیله نیول او داسې وئیل:

(۱) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بِاَنِّیْ اَشْهَدُ اَنَّكَ اَنْتَ اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ الْاَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِیْ لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ وَلَمْ یَكُنْ لَهٗ كُفُوًا اَحَدٌ.

[ابو داود رقم: ۱۴۹۵، ترمذی رقم: ۳۴۷۵، وسنده صحیح]

ترجمه: اې الله! زه تا نه سوال کوم پدې وسیله چه زه گواهی ورکوم چه ته الله ئې، یواځې او بې حاجته ذات ئې، هغه چه نه دده نه څوك پیدا دی او نه دا د چا نه پیدا دې او نشته ده لره مثل (برابر) هیڅوك.

فائده: حدیث کښې راځی: چا چه پدې الفاظو دعا اوکړه نو دعا به ئې قبلیږی او که څه غواړی نو ورکولې به شی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) - لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ اَكْبَـرُ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ.

[ضعيف: طبرانی فی الكبير ج ۱۹/ ۲۶۱ رقم ۸۴۹]

(ترجمه مخکښې تيره شويده)

**فائده :** حديث کښې راغلی دی : مَنْ دَعَا بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ الْخَمْسِ لَمْ يَسْأَلِ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ شَيْئًا اِلَّا اَعْطَاهُ. چاچه ددې کلماتو په وسيله د الله تعالی نه څه شے اوغوختو نو الله تعالی به ضرور ورته هغه شے ورکوی۔

او په حديث کښې ددې بل فضيلت دا هم راغلے دے چه چا په بيمارئ کښې ولوسته او بيا مړ شو نو اُور به ورته نۀ رسيږی۔

[صحيح : ابن ماجه : ۳۷۹۴ والصحيحة رقم : ۱۳۹۰]

(۳) - دغه شان دا الفاظ هم راغلی دی :

اَللّٰهُـمَّ اِنِّـیْ اَسْـأَلُكَ بِـاَنَّ لَكَ الْـحَمْدَ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اَنْتَ الْمَنَّانُ بَدِيْعُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ اَسْأَلُكَ.

[صحيح : ترمذی ۳۵۴۴، ابوداود ۱۴۹۷، نسائی رقم : ۱۳۰۰]

**ترجمه :** اے الله ! زه سوال کوم تا نه څکه تا لره ثنا ده، نشته حقدار د بندګئ سوا ستا نه، تۀ احسان کونکے ئے، ناشنا پيدا کونکے د آسمانونو او زمکے ئے. اے د لويئ او عزت خاونده !، اے هميشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندیه. ایے د عالم تدبیر کونکیه! (زه تا نه سوال کوم)

فائده: حدیث کښې راغلي چا چه دغه دعا اولوستله نو هر سوال به ئې قبلیږي او څه چه غواړي هغه به الله ورکوي.

## د جنت خزانه کنجي

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ.

ترجمه: نشته اړول د ګناه نه او نشته طاقت په نیکۍ مګر په الله دے.

فائده: حدیث کښې راغلي: چه نبي علیه السلام ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته اوفرمائیل: آیا تا ته زه د جنت خزانه اونه ښایم؟ نو دا کلمه ئې ورته اوخودله.

[بخاري رقم: ٦٣٨٤، مسلم: ٧٠٣٧]

فائده ۲: دے کلمے ته د تفویض کلمه وائی، (یعنی الله تعالی ته هر څه سپارل) دا ډیره بهتره کلمه ده، ددے د وئیلو څه خاص وخت نه دے معلوم بلکه هر وخت وئیل کیږي خصوصا دغم او فکرمندۍ په وخت کښې.

## کله چه ستا څوک صفت اوکړي

اَللّٰهُمَّ لَا تُؤَاخِذْنِیْ بِمَا یَقُوْلُوْنَ وَاغْفِرْ لِیْ مَا لَا یَعْلَمُوْنَ وَاجْعَلْنِیْ خَیْرًا مِمَّا یَظُنُّوْنَ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[الادب المفرد للبخاریؒ رقم ۷٦۱ـ قال الشیخ صحیح الاسناد، البیهقی فی شعب الایمان ۲۲۸/٤ رقم : ٤٥۳۳]

**ترجمه** : اے الله ! ما د دوئ په خبره مه رانیسه او ما ته هغه گناهونه معاف کړه کوم چه دوئ ته نه دی معلوم او ما غوره اوګرځوه د هغے نه چه د دوئ ګمان دے په ما باندے.

**فائده** : حدیث کښے راځی : کله به چه د یو صحابی صفت اوشو نو هغهٔ به دا دعا لوستله، دا حدیث موقوف بمنزلة المرفوع دے.

## فائده منه دعا

اَللّٰهُمَّ عَافِنِیْ مِنْ شَرِّ سَمْعِیْ وَبَصَرِیْ وَلِسَانِیْ وَقَلْبِیْ وَشَرِّ مَنِیِّ.

[النسائی رقم : ٥٤٥٦، ابوداود رقم ۱۳۸۷، الادب المفرد رقم ٦٦۳ باسناد صحیح]

**ترجمه** : اے الله ! ما د شر د غوږ او سترګے او ژبے او زړه نه اوساته او د شر د منی نه (مے هم بچ کړه).

**فائده** : یو صحابی عرض اوکړو یا رسول الله ! یوه فائده منه دعا را اوښایه ! نو نبی علیه السلام دا دعا ورواوخودله.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د میزان د ډکولو دعا

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ .

[بخاری ۲/ آخری حدیث ٦٦٨٢، مسلم رقم : ۷۰۲۱، ابن حبان ۲/۹۹]

**فائده :** حدیث کښې راځي چه دا دوه کلمې الله تعالی ته خوښې دي او میزان کښې به درنې وی او په ژبه آسانې دی - نو دا په هر وخت کښې ډیر ډیر لوستل پکار دی.

دارنګه - سُبْحَانَ اللّٰهِ او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ - هم میزان ډکوی.

کما فی مسلم (۱/۱۳۰، رقم: ٥٥٦) - مشکوة (۱/۳۸)

## د ګمراهۍ نه د بچاؤ دعا

(۱) - اَللّٰهُمَّ لَكَ اَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْكَ اَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِعِزَّتِكَ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اَنْتَ اَنْ تُضِلَّنِیْ اَنْتَ الْحَیُّ الَّذِیْ لَا يَمُوْتُ وَالْجِنُّ وَالْاِنْسُ يَمُوْتُوْنَ .

[مسلم : ۷۰۷٤، احمد : ۲۷٤۸، ابن حبان ۲/۱۲۸]

**ترجمه :** اې الله ! زه تابعدار یم او پتا مې ایمان راوړې او پتا مې توکل کړې او تا ته انابت کوم (یعنی عاجزی او رجوع کوم) او ستا په نوم زه جګړه کوم د خلقو سره، پناه غواړم په تا د ګمراهۍ نه،

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته حقدار د بندګۍ سوا ستا نه، ته هغه ژوندی ذات ئې چه پڼه تا مرګ نه راځي او پیران او انسانان خو به مري.

**فائده** : دا حدیث بخاري او مسلم او ابن حبان راوړیدی او دا ډیره فائده منه دعا ده.

(۲) - اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ

[مسلم رقم: ۶۹۲۱ - احمد: ۶۵۶۹، ابن حبان ۲/۱۲۹ باسناد صحیح]

**ترجمه** : اے الله ! اے د زړونو اړونکے راړونکیه ! زمونږ زړونه خپل طاعت ته راواړه وه.

**فائده** : دا دعا ګانے هر وقت لوستلے شي څه خاص معین وخت ئې نشته.

## کله چه خلق روپۍ او اشرفۍ خزانه کړي

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْاَمْرِ وَالْعَزِيْمَةَ عَلَى الرُّشْدِ وَاَسْئَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَاَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ .

[المعجم الكبير ۷/۳۳۵-۳۳۶) الصحيحة (۳۲۲۸)

**ترجمه** : اے الله ! زه ستا نه مضبوطوالے په دین غواړم او اراده د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکئ او ستا نه ستا د نعمت شکر غواړم او ښائسته عبادت ستا او غواړم ستا نه هغه خیر چه تا ته معلوم دے او پناه غواړم د هغه شر نه چه تا ته معلوم دے او بخښنه غواړم تا نه د هغه ګناهونو چه تا ته معلوم دی، یقیناً ته په پټو څیزونو باندے پوهه ئے.

**فائده :** حدیث کښے راځی کله چه خلق روپئ او اشرفئ خزانه کوی نو تاسو دا کلمات ځان سره خزانه کړئ!. (ابن حبان فی صحیحه ۲/۱۴۳) او په روایت د نسائی او مسند احمد کښے (د حُسْنِ عِبَادَتِكَ نه روستو) ورسره دا الفاظ هم راغلی دی:

وَاَسْئَلُكَ قَلْبًا سَلِيْمًا وَلِسَانًا صَادِقًا

یعنی ستا نه روغ زړه او رشتینے ژبه غواړم.

الصحیحة رقم (۳۲۲۸)

## عام ذکرونه او دعاګانے چه د څه ځائے یا وقت پورے خاص نهٔ وی چه په هغے سره انسان ته د دنیا او آخرت فائدے ملاویږی او د دنیا او د آخرت د مصیبتونو نه ورته خلاصے ملاویږی

دا عام اذکار په سجده او د مانځه په آخر کښے او د جنازے په مانځه کښے او منی او مزدلفه او ټولو ځایونو کښے هم لوستلے شی. پدے دعاګانو کښے ډیر زیات برکات دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بِاَنِّیْ اَشْهَدُ اَنَّكَ اَنْتَ اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ الْاَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِیْ لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ وَلَمْ یَكُنْ لَهٗ كُفُوًا اَحَدٌ.

[صحیح : ابو داود رقم ۱٤۹۳ صحیح الترغیب والترهیب رقم : ۱٦٤۰]

[ددې ترجمه او فائده [ددعا د قبلیدو ذریعه] عنوان لاندې تیره شوه).

(۲) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بِاَنَّ لَكَ الْحَمْدَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ الْمَنَّانُ بَدِیْعُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ یَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ یَا حَیُّ یَا قَیُّوْمُ

[صحیح : ابو داود رقم ۱٤۹۵ـ ترمذی رقم ۳۷۲۲]

(ددې ترجمه او فائده [ددعا د قبلیدو ذریعه] عنوان لاندې تیره شوه).

(۳) – رَبِّ اَعِنِّیْ وَلَا تُعِنْ عَلَیَّ وَانْصُرْنِیْ وَلَا تَنْصُرْ عَلَیَّ وَامْكُرْ لِیْ وَلَا تَمْكُرْ عَلَیَّ وَاهْدِنِیْ وَیَسِّرْ لِیَ الْهُدٰی وَانْصُرْنِیْ عَلٰی مَنْ بَغٰی عَلَیَّ رَبِّ اجْعَلْنِیْ لَكَ شَكَّارًا لَكَ ذَكَّارًا لَكَ رَهَّابًا لَكَ مِطْوَاعًا لَكَ مُخْبِتًا اِلَیْكَ اَوَّاهًا مُنِیْبًا رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِیْ وَاغْسِلْ حَوْبَتِیْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَاَجِبْ دَعْوَتِیْ وَثَبِّتْ حُجَّتِیْ وَسَدِّدْ لِسَانِیْ وَاهْدِ قَلْبِیْ وَاسْلُلْ سَخِیْمَةَ صَدْرِیْ .

[صحیح : الترمذی رقم ۳۸۰۳ ـ ابوداود ۱۵۱۰]

ترجمه : اے ربه ! مدد اوکړه زما سره او مدد مه کوه په مقابله زما کښے او امداد اوکړه زما سره او امداد مه کوه څما په خلاف، او تدبیر جوړ کړه ما لره او تدبیر مه جوړوه په خلاف زما او هدایت اوکړه ما ته، او آسانه کړه هدایت ما ته، او مدد اوکړه ما سره په مقابله د هغه چا چه ظلم کوی په ما باندے. اے ربه ! اوګرځوه ما ستا ډیر شکر کونکے. ستا ډیر ذکر کونکے، ستا نه ډیر یریدونکے، ستا ډیر تابعدار، تا ته ډیر عاجزی کونکے، نرم زړه والا، انابت والا. اے ربه ! او ثابت ( مضبوط) کړه دلیل څما او برابر کړه ژبه زما او هدایت اوکړه زړه زما ته او اوباسه کینه د سینے زما.

(۴) - اَللّٰهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَیْبَ وَقُدْرَتِكَ عَلَی الْخَلْقِ اَحْیِنِیْ مَا عَلِمْتَ الْحَیٰوةَ خَیْرًا لِیْ وَتَوَفَّنِیْ اِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاتَ خَیْرًا لِیْ، اَللّٰهُمَّ وَاَسْئَلُكَ خَشْیَتَكَ فِی الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ،

وَاَسْاَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِی الرِّضَا وَالْغَضَبِ وَاَسْئَلُكَ الْقَصْدَ فِی الْفَقْرِ وَالْغِنٰی وَاَسْئَلُكَ نَعِیْمًا لَا یَنْفَدُ وَاَسْئَلُكَ قُرَّةَ عَیْنٍ لَا تَنْقَطِعُ وَاَسْئَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْقَضَاءِ وَاَسْئَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ وَاَسْئَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ اِلٰى وَجْهِكَ وَالشَّوْقَ اِلٰى لِقَائِكَ فِيْ غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اَللّٰهُمَّ زَيِّنَّا بِزِيْنَةِ الْاِيْمَانِ وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مَهْدِيِّيْنَ .

[النسائی رقم ۱۲۳۷ ـ ۱/۱۹۲ - احمد ٤/٢٦٤ ـ الحاکم ۱/٥٢٤ ـ وصححه ووافقه الذهبی ـ فهو حدیث صحیح]

**ترجمه :** اے الله ! ستا په علم غیب، او ستا په قدرت په مخلوق باندے زه سوال کوم چه ژوندے اوساته ما، تر څو چه ژوند ما دپاره غوره وی او وفات کړه ما کله چه وفات ما دپاره غوره وی، ستا په علم کښے . اے الله ! او زه سوال کوم تا نه د یرے ستا په پټه او ښکاره، او غواړم تا نه حقه خبره په خوشحالئ او په غصه کښے او غواړم تا نه درمیانه چلیدل په غریبئ او په مالدارئ کښے، او غواړم تا نه نعمتونه (دجنت) چه نه ختمیږی او غواړم تا نه یخوالے د سترګو، چه نه ختمیږی او غواړم تا نه رضا پس د فیصلے د تقدیر نه او غواړم تا نه یخ ( مزیدار) ژوند پس د مرګ نه - او غواړم تا نه خوند د کتلو ستا مخ ته او شوق ستا ملاقات ته، په غیر د څه تکلیف او امتحان نه چه ګمراه کونکے وی . اے الله ! مونږ ښائسته کړه په ښائست د ایمان، او اوګرځوه مونږ هدایت کونکی، هدایت کړے شوی .

(٥) - اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ خَطِیْئَتِیْ وَجَهْلِیْ وَاِسْرَافِیْ فِیْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَمْرِیْ وَمَا اَنْتَ اَعْلَمُ بِهٖ مِنِّیْ . اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ جِدِّیْ وَهَزْلِیْ وَخَطَأِیْ وَعَمْدِیْ وَکُلُّ ذٰلِكَ عِنْدِیْ . اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ مَا قَدَّمْتُ وَمَا اَخَّرْتُ وَمَا اَسْرَرْتُ وَمَا اَعْلَنْتُ وَمَا اَنْتَ اَعْلَمُ بِهٖ مِنِّیْ اَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنْتَ الْمُؤَخِّرُ وَاَنْتَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ .

[البخاری ۱/۱۵۱ـ مسلم ۲/۳۴۹]

ترجمه : ای الله ! اوبخښه ما ته خطا زما او ناپوهي زما او اسراف زما په کار زما کښې او هغه ګناه چه ته پرې ځما نه ښه پوهیږې . ای الله ! اوبخښه ما ته رشتیا ځما او ټوقې زما او خطا زما اوقصد زما او دا ټول ګناهونه ما سره دی . ای الله ! اوبخښه ما ته هغه ګناهونه چه ما مخکښې کړیدی او هغه چه ما روسته کړیدی او هغه چه ما پټ کړیدی او هغه چه ښکاره مې کړیدی او هغه چه ته پرې ښه پوهه ئې زما نه . ته مخکښې کونکې ئې او ته روسته کونکې ئې ( د ګناهونو په وجه ما روستو پاتې نه کړې ) او ته په هر څیز قادر ئې .

(۲) – اَللّٰهُمَّ اَصْلِحْ لِیْ دِیْنِیَ الَّذِیْ هُوَ عِصْمَةُ اَمْرِیْ وَاَصْلِحْ لِیْ دُنْیَایَ الَّتِیْ فِیْهَا مَعَاشِیْ وَاَصْلِحْ لِیْ آخِرَتِیَ الَّتِیْ فِیْهَا مَعَادِیْ وَاجْعَلِ الْحَیَاةَ زِیَادَةً لِیْ فِیْ کُلِّ خَیْرٍ ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِیْ مِنْ کُلِّ شَرٍّ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[مسلم ۲/۳۴۹ـ رقم: ۷۰۷۶]

ترجمه : اے الله ! برابر کړه ما لره دين زما چه د هغه په وجه زما تول کار برابرېږی، او برابر کړه دنیا زما هغه چه په هغے کښے ژوند دے زما - او برابر کړه ما لره آخرت زما کوم کښے چه زما واپسی ده، او اوګرځوه ژوند زما زيادت په هر خير کښے - او اوګرځوه مرګ ما لره راحت د هر شر نه.

(۷) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیُ اَسْئَلُكَ الْهُدٰی وَالتُّقٰی وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰی.

[مسلم ۲/۳۵۰ رقم: ۷۰۷۹]

ترجمه : اے الله ! زه غواړم تا نه هدايت او تقویٰ او پاك دامنی او د زړه مالداری.

(۸) - اَللّٰهُمَّ لَكَ اَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْكَ اَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ، اَللّٰهُمَّ اِنِّیُ اَعُوْذُ بِعِزَّتِكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَنْ تُضِلَّنِیُ اَنْتَ الْحَیُّ الَّذِیُ لَا يَمُوْتُ وَالْجِنُّ وَالْاِنْسُ يَمُوْتُوْنَ . (رواه مسلم ۲/۳۴۹)

ترجمه : ددے دعا ترجمه [ د ګمراهئ نه د بچاؤ دعا ] عنوان لاندے لږوړاندے تیره شوه.

(۹) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیُ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ اَعْمَلْ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[مسلم۲/۳٤۹، رقم: ۷۰۷۰]

ترجمه : اے الله ! زه پناه غواړم پتا د شر د هغه عمل نه چه ما کړیدے او د شر د هغه عمل نه چه ما نه دے کړے.

(۱۰) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، اَللّٰهُمَّ آتِ نَفْسِیْ تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا اَنْتَ خَیْرُ مَنْ زَكّٰهَا اَنْتَ وَلِیُّهَا وَمَوْلَاهَا، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا یَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا یَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا یُسْتَجَابُ لَهَا .

[مسلم ۲/۳۵۰ رقم: ۷۰۸۱]

ترجمه : اے الله ! زهٔ پناه غواړم پتا د کمزورتیا او د سُستیٔ، او بزدلیٔ او د بخیل توب، او د بوډا والی او د قبر د عذاب نه. اے الله ! زما نفس ته تقویٰ ورکړه او پاك ئے کړه. یقینا ته غوره پاکونکے ئے ددے. ته زما د نفس دوست ئے او ته مالك د هغے ئے . اے الله ! زه پناه غواړم په تا د بے فائدے علم نه او د هغه زړه نه چه عاجزی نکوی او د هغه نفس نه چه نه مړیږی او د هغه دعا نه چه نه قبلیږی.

(۱۱) – رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چا چه :

اَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : بخښنه غواړم د الله نه هغه ذات دے چه نشته سواد هغه نه حقدار د بندګۍ هيڅوك، هغه هميشه ژوندے دے اوتدبير کونکے د عالم دے - او توبه اوباسم هغه ته.

اولوستلو نو بخښنه به ورته اوشي، اګرکه د ميدانِ جنګ نه تختيدلے وی - او ميدانِ جنګ نه تختيدل کبيره ګناه ده.

[صحيح : ابوداود رقم : ۱۵۱۷، الترمذی : ۳۵۷۷]

(۱۲) - اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِی الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِی الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ .

[بخاری ۹۴۵/۲ - مسلم ۳۴٤/۲ ابوداود رقم ۱۵۱۹]

ددے ترجمه بار بار تيره شويده.

(۱۳) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ اَنْ اَظْلِمَ اَوْ اُظْلَمَ .

[ابوادود رقم ۱۵٤٤ بسند صحيح]

ترجمه : اے الله ! زه پناه غواړم په تا پورے د غريبئ او د کموالی او د ذلت نه او پناه غواړم په تا د دينه چه زه ظلم اوکړم او يا په ما باندے ظلم اوشي.

(۱٤) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيْعِ سَخَطِكَ .

[مسلم ۳۵۲/۲ - رقم : ۷۱۲۰، ابوداود رقم ۱۵٤۵]

ترجمه : اے الله ! زه پناه غواړم پتا د زائل کيدو د نعمت ستا او د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلیدو د عافیت ستا نه او د ناځاپي عذاب ستا نه او د ټولو غصو ( ناراضګئ ) ستا نه .

(۱۵) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِیْ وَمِنْ شَرِّ بَصَرِیْ وَمِنْ شَرِّ لِسَانِیْ وَمِنْ شَرِّ قَلْبِیْ وَمِنْ شَرِّ مَنِیِّ.

[صحیح : ابوداود رقم ۱۵۵۱ ـ ترمذی ۳۷۳۸ ]

ترجمه : اے الله ! زه پناه غواړم په تا د شر د غوږونو زما نه او د شر د سترګو زما نه او د شر د ژبے زما نه او د شر د زړه زما نه او د شر د مني زما نه .

(۱۶) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَدْمِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ التَّرَدِّیْ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْغَرَقِ وَالْحَرَقِ وَالْهَرَمِ وَاَعُوْذُ بِكَ اَنْ یَتَخَبَّطَنِیَ الشَّیْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ وَاَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَمُوْتَ فِیْ سَبِیْلِكَ مُدْبِرًا وَاَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَمُوْتَ لَدِیْغًا .

[صحیح : ابوداود رقم ۱۵۵۲ ]

ترجمه : اے الله ! زه پناه غواړم په تا د کور د راپریوتو نه په ما باندے، او پناه غواړم په تا د رارغړیدلو نه - او پناه غواړم په تا د غرقیدو نه او سوزیدو نه او د بوډا والی نه - او پناه غواړم په تا د ګمراه کولو د شیطان نه ما لره په وخت د مرګ کښے او پناه غواړم په تا ددے نه چه ستا لار ( جهاد) کښے شا راړونکے مړ شم - او پناه غواړم په تا ددے نه چه مړ شم چیچلے شوے .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۷) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُنُوْنِ وَالْجُذَامِ وَمِنْ سَيِّءِ الْاَسْقَامِ .

[صحیح : ابوداود رقم : ۱۵۵٤ ]

ترجمه : اے الله ! زه پناه غواړم په تا د برګې مرض نه او د لیونتوب او د جذام او د بدو مرضونو نه .

(۱۸) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْاَخْلَاقِ وَالْاَعْمَالِ وَالْاَهْوَاءِ وَالْاَدْوَاءِ .

[سند صحیح : الترمذی رقم ۳۸٤۳]

ترجمه : اے الله ! پناه غواړم په تا د بدو اخلاقو نه او د بدو اعمالو نه او د بدو خواهشاتو نه او د بیماریانو نه .

(۱۹) - اَللّٰهُمَّ انْفَعْنِیْ بِمَا عَلَّمْتَنِیْ وَعَلِّمْنِیْ مَا یَنْفَعُنِیْ وَزِدْنِیْ عِلْمًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ وَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ حَالِ اَهْلِ النَّارِ .

[صحیح : ترمذی رقم ۳۸۵۱ ]

ترجمه : اے الله ! فائده راکړے ما ته په هغه علم چه تا ما ته راکړیدے او داسے علم را وښایه چه فائده راکړی او زما علم ډیر کړه او شکر دے الله لره په هر حال کښے - او پناه غواړم په الله تعالی د حال د اور والو نه .

(۲۰) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ وَدَرَكِ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الشَّقَاءِ وَسُوْءِ الْقَضَاءِ وَشَمَاتَةِ الْاَعْدَاءِ .

[بخاری رقم : ٦٣٤٧، مسلم رقم : ٧٠٥٢]

ترجمه : اے الله ! زه پناه غواړم په تا د سخت مصیبت نه او د بد بختئ لاندے کولو نه او د بدے فیصلے نه او د خوشحالئ د دشمنانو نه (په ما باندے)

(۲۱) – اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ وَرَبَّ اِسْرَافِيْلَ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ حَرِّ النَّارِ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ .

[صحیح : النسائی رقم ٥٠٩٢ ـ الصحيحة ١٥٤٤]

ترجمه : اے الله ! اے د جبرئیل او د میکائیل او ربّ د اسرافیل ربه ! زهٔ پناه غواړم په تا د ګرمئ د اور نه او د عذاب د قبر نه.

(۲۲) – اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ .

[مسلم : ٦٩٢١]

ترجمه : اے الله ! اے اړونکیه د زړونو ! واړه وه زړونه زمونږ ستا طاعت طرفته.

(۲۳) – يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِىْ عَلٰى دِيْنِكَ .

ترجمه : اے اړونکے د زړوتو ! کلك کړه زما زړه ستا په دین باندے. [صحیح : الترمذی رقم : ٢١٤٠، احمد : ١٢١٢٨]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ وَالْقَسْوَةِ وَالْغَفْلَةِ وَالْعَيْلَةِ وَالذِّلَّةِ وَالْمَسْكَنَةِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْكُفْرِ وَالْفُسُوْقِ وَالشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَالسُّمْعَةِ وَالرِّيَاءِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الصَّمَمِ وَالْبَكَمِ وَالْجُنُوْنِ وَالْجُذَامِ وَالْبَرَصِ وَسَيِّءِ الْاَسْقَامِ .

[المستدرك : ۱۹۸۷، صحيح الجامع الصغير : ۱۲۸۵ - ابن حبان : ۱۰۲۳]

ترجمه : اے الله ! زهٔ پناه غواړم په تا سره د کمزورئ او سُستیٔ او بزدلیٔ او کنجوسیٔ او بوډاوالی او سخت زړی توب او بے پرواهیٔ (غفلت) او محتاجیٔ او ذلت او خواریٔ نه۔ او پناه غواړم په تا پورے د غریبیٔ او کفر او نافرمانیٔ او اختلاف او منافقت او شهرت او ریاء کاریٔ نه۔ او پناه غواړم په تا پورے د کونړ والی او گونگ والی او لیونتوب او جذام بیماری نه او د برگی مرض نه او د ناکاره بیماریو نه۔

(۲۵) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ صِحَّةً فِیْ اِیْمَانٍ، وَاِیْمَاناً فِیْ حُسْنِ خُلُقٍ، وَنَجَاحاً یَتْبَعُهٗ فَلَاحٌ وَرَحْمَةً مِنْكَ وَعَافِیَةً وَمَغْفِرَةً مِنْكَ وَرِضْوَاناً .

[صحيح : المستدرك : ۱۹۶۲، المعجم الكبير رقم : ۷۱۷]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : ای الله ! زهٔ تا نه د ایمان په حالت کښې صحت غواړم او په ښائسته اخلاقو کښې ایمان (غواړم) او داسې کامیابي چه د هغې پسې مقصد پوره والې وي او ستا نه رحمت او عافیت او بخنه او رضا مندي (غواړم)۔

(۲۶) – اَللّٰهُمَّ قِنِیْ شَرَّ نَفْسِیْ، وَاعْزِمْ لِیْ عَلٰی اَرْشَدِ اَمْرِیْ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ مَا اَسْرَرْتُ وَمَا اَعْلَنْتُ، وَمَا اَخْطَأْتُ وَمَا عَمَدْتُّ وَمَا عَلِمْتُ وَمَا جَهِلْتُ ۔

[صحیح علی شرط الشیخین : المستدرك : ۱۹۲۳ – احمد : ٤/٤٤٤ رقم : ۲۰۰۰٦ – والحافظ فی الاصابة : ۱۷۳۱)

ترجمه : ای الله ! ما د خپل نفس د شرونو نه محفوظ کړه او ما ته د نیك کارونو پوخ همت راکړه۔ ای الله ! ما ته بخنه اُوکړه د هغه ګناه چه ما په پټه کړې وي او هغه چه ما ښکاره کړې وي او هغه چه ما په هیره کړې وي او هغه چه ما ښکاره کړې وي او هغه چه ما په هیره کړې وي او هغه چه ما قصداً کړې وي، او هغه چه پرې پوهه یم او هغه چه زهٔ ترې ناخبره یم۔ (دا ټول راته معاف کړه)۔

(۲۷) – اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَظُلْمَنَا وَهَزْلَنَا وَجِدَّنَا وَعَمْدَنَا وَكُلُّ ذٰلِكَ عِنْدَنَا. اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الْعِبَادِ وَشَمَاتَةِ الْاَعْدَاءِ .

[اسناده حسن : المستدرك : ۱۹۵۹ – الطبرانی فی الدعاء : ۱۷۹٤ –

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



والطبرانی فی الکبیر : ١٣/٩٢- احمد /٦٦١٧-ابن حبان رقم : ١٠٢٧،
والهیثمی : ١٠/١٧٢]

**ترجمه** : اې الله ! اُوبخښه مونږ ته ګناهونه زمونږ او ظلم زمونږ او توقې زمونږ او رشتیا (سره شوې ګناه) زمونږ او قصد (سره شوي ګناه) زمونږ۔ او دا ټول زمونږ سره دي (مونږه ئې اقرار کوو)۔ اې الله زهٔ په تا پورې پناه طلب کوم د غلبې د قرض نه او د غلبې د سړو نه او د خوشحالئ د دشمنانو نه۔

**(٢٨) – اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْئَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ اِثْمٍ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالْفَوْزَ بِالْجَنَّةِ وَالنَّجَاةَ بِعَوْنِكَ مِنَ النَّارِ .**

[ المستدرك : ١٩٦٨ فی اسناده مقال]

**ترجمه** : اې الله ! مونږ تا نه سوال کوو د هغه خیزونو چه ثابتونکی دی ستا رحمت لره او اسباب د بخښنې ستا او د هرې ګناه نه بچاؤ او د هرې نیکئ غنیمت او په جنت باندې کامیابیدل او د جهنم نه ستا په مدد نجات (تا نه غواړم)۔

**(٢٩) – اَللّٰهُمَّ احْفَظْنِىْ بِالْاِسْلَامِ قَائِمًا، وَاحْفَظْنِىْ بِالْاِسْلَامِ قَاعِداً، وَاحْفَظْنِىْ بِالْاِسْلَامِ رَاقِداً، وَلَا تُشْمِتْ بِىْ عَدُوّاً حَاسِداً، اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْأَلُكَ مِنْ كُلِّ خَيْرٍ خَزَائِنُهٗ بِيَدِكَ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ كُلِّ شَرٍّ خَزَائِنُهٗ بِيَدِكَ .**

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[حسن : المستدرك : ۱۹۶۷) (الصحيحة : ۱۵٤۰]

ترجمه : اے الله ! ما په اسلام کښې اُوساته د ولاړے په حالت کښې او ما په اسلام کښې اُوساته د ناستے په حالت کښې او ما په اسلام کښې اُوساته د اُودهٔ کیدو په حالت کښې او په ما باندے دشمن او حسد کونکے مهٔ خوشحالوه. اے الله ! زهٔ له تا نه د هر خیر سوال کوم چه د هغے خزانے ستا په لاس کښې دی او په تا پورے پناه غوارم د هر شر نه چه د هغے خزانے ستا په لاس کښې دی.

(۳۰) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الطَّیِّبَاتِ وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِیْنِ وَاَنْ تَتُوْبَ عَلَیَّ، وَتَغْفِرَلِیْ وَتَرْحَمَنِیْ، وَاِذَا اَرَدْتَّ فِیْ خَلْقِكَ فِتْنَةً فَنَجِّنِیْ اِلَیْكَ مِنْهَا غَیْرَ مَفْتُوْنٍ، اَللّٰهُمَّ وَاَسْاَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ یُّحِبُّكَ وَحُبَّ عَمَلٍ یُّقَرِّبُنِیْ اِلٰی حُبِّكَ.

(المستدرك : ۱۹۵٦)

ترجمه : اے الله ! زهٔ له تا نه تول پاك څیزونه او نیکئ کول او بدئ پریخودل او د مسکینانو سره د مینے کولو توفیق غواړم. (زما درخواست دے) چه زما توبه قبوله کړه، او ما اُوبخښه او په ما رحم اُوکړه، او کله چه تهٔ خپل مخلوقات په امتحان کښې اچوے نو ما د امتحان کښې اچولو نه بغیر خپل ځان ته را اُوویله. اے الله ! زهٔ تا نه غواړم ستا مینه او تا سره د مینه کونکی مینه، او د داسے عملونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه چه ما ستا محبت ته درلنډ کړي.

(۳۱) - اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الْاَوَّلُ فَلَاشَيْءَ قَبْلَكَ، وَاَنْتَ الْآخِرُ فَلَا شَيْءَ بَعْدَكَ، اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ دَابَّةٍ نَاصِيَتُهَا بِيَدِكَ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْاِثْمِ وَالْكَسَلِ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْغِنٰى، وَمِنْ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ، اَللّٰهُمَّ نَقِّ قَلْبِيْ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْاَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، اَللّٰهُمَّ بَعِّدْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ خَطِيْئَتِيْ كَمَا بَعَّدْتَّ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ .

(المستدرك : ۱۹۶۵: صحيح- الذهبی)

ترجمه : اے الله ! ته اول ئے تا نه مخکښې هیڅ څیز نشته او ته آخرئے تا نه روستو هیڅ نشته. زهٔ په تا پورې پناه غواړم د هر زنده سر د شر نه چه د هغې تندے ستا په لاس کښې دے او په تا پورې پناه غواړم د ګناه نه او د سستئ نه او د قبر د عذاب نه او د مال د فتنې نه او د فقر د فتنې نه او په تا پورې پناه غواړم د ګناه او تاوان نه. اے الله ! زما زړهٔ پاک کړه د ګناهونو نه لکه څرنګه چه تا سپینې جامې د خیرې نه پاکې کړیدی. اے الله ! لرې والے راوله زما او زما د ګناه په مینځ کښې لکه څرنګه چه تا د مشرق او د مغرب ترمینځ جدائی راوستې ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳۲) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهٖ عَاجِلِهٖ وَآجِلِهٖ مَاعَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ اَعْلَمْ ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهٖ عَاجِلِهٖ وَآجِلِهٖ مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ اَعْلَمْ، وَاَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ اِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ اَوْ عَمَلٍ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ اِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ اَوْ عَمَلٍ، وَاَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ مُحَمَّدٌ (ﷺ) وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَ بِكَ عَنْهُ عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ مُحَمَّدٌ (ﷺ) وَاَسْأَلُكَ مَا قَضَيْتَ لِیْ مِنْ اَمْرٍ اَنْ تَجْعَلَ عَاقِبَتَهٗ رُشْداً .

[صحيح : المستدرك : ١٩٥٧ - ابن حبان: ٢٤/٣ - ابن ماجه ـ احمد ١٣٤/٦، ١٤٧ ـ الصحيحة : ١٥٤٢]

ترجمه : اے الله ! زهٔ تا نه سوال کوم د هر خیره هغه زر ملاویدونکے وی یا روستو ملاویدونکے وی، هغه چه ما ته معلوم وی او هغه چه ما ته معلوم نهٔ وی۔ او پناه غواړم په تا سره د هر شر نه چه زر رسیدونکے وی یا روستو۔ هغه چه ما ته معلوم وی او هغه چه ما ته معلوم نهٔ وی او غواړم ستا نه جنت او هغه وینا یا عمل چه دے طرف ته نزدے کول کوی، او پناه غواړم په تا پورے د أور نه او هغه وینا یا عمل نه چه دے طرفته نزدے کول کوی۔ او زهٔ غواړم تا نه هر هغه خیر چه تا نه ستا بنده او رسول محمد (ﷺ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتې دي او پناه غواړم د هغه شر نه چه ستا نه ستا بنده او رسول محمد (صلی الله علیه وسلم) پناه غوښتې ده. او سوال کوم تا نه د هغه کار چه تهٔ زما دپاره فیصله کوې چه تهٔ زما د کار انجام په هدایت باندې کړه.

(۳۳) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ الْمَسْأَلَةِ، وَخَيْرَ الدُّعَاءِ وَخَيْرَ النَّجَاحِ وَخَيْرَ الْعَمَلِ، وَخَيْرَ الثَّوَابِ، وَخَيْرَ الْحَيَاةِ، وَخَيْرَ الْمَمَاتِ، وَثَبِّتْنِیْ، وَثَقِّلْ مَوَازِيْنِیْ، وَحَقِّقْ اِيْمَانِیْ، وَارْفَعْ دَرَجَاتِیْ، وَتَقَبَّلْ صَلَاتِیْ، وَاغْفِرْ خَطِيْئَتِیْ، وَاَسْئَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلٰى مِنَ الْجَنَّةِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ فَوَاتِحَ الْخَيْرِ وَخَوَاتِمَهٗ، وَجَوَامِعَهٗ وَاَوَّلَهٗ وَظَاهِرَهٗ وَبَاطِنَهٗ، وَالدَّرَجَاتِ الْعُلٰى مِنَ الْجَنَّةِ آمِيْنَ ط

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ مَا آتِیْ، وَخَيْرَ مَا اَفْعَلُ، وَخَيْرَ مَا اَعْمَلُ، وَخَيْرَ مَا بَطَنَ، وَخَيْرَ مَا ظَهَرَ، وَالدَّرَجَاتِ الْعُلٰى مِنَ الْجَنَّةِ آمِيْنَ ط

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ اَنْ تَرْفَعَ ذِكْرِیْ، وَتَضَعَ وِزْرِیْ، وَتُصْلِحَ اَمْرِیْ، وَتُطَهِّرَ قَلْبِیْ، وَتُحَصِّنَ فَرْجِیْ، وَتُنَوِّرَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لِیْ قَلْبِیْ، وَتَغْفِرَ لِیْ ذَنْبِیْ، وَاَسْئَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلٰی مِنَ الْجَنَّةِ آمِیْنَ ط

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ اَنْ تُبَارِكَ لِیْ فِیْ نَفْسِیْ، وَفِیْ سَمْعِیْ، وَفِیْ بَصَرِیْ، وَفِیْ رُوْحِیْ، وَفِیْ خَلْقِیْ وَفِیْ خُلُقِیْ وَفِیْ اَهْلِیْ، وَفِیْ مَحْیَایَ، وَفِیْ مَمَاتِیْ، وَفِیْ عَمَلِیْ، وَتَقَبَّلْ حَسَنَاتِیْ، اَسْئَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلٰی مِنَ الْجَنَّةِ آمِیْنَ ط.

[المستدرك (١٩٥٤)- وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبى- وقال الهيثمى فى مجمع الزوائد: رواه الطبرانى فى الاوسط (والكبير رقم: ٧١٧) ورجاله رجال الصحيح غير محمد بن زنبور وعاصم بن عبيد وهما ثقتان]

**ترجمه:** اے الله! زۀ تا نه غوره سوال، او غوره دعاء او غوره کامیابی، او غوره عمل او غوره ثواب او غوره ژوند او غوره مرگ غواړم، او ما مضبوط کړه او زما تلے (د میزان) درنے کړه او زما ایمان کلك کړه، او زما درجات اُوچت کړه او زما مونځ قبول کړه او بخښنه اُوکړه ما ته زما د گناهونو، او زۀ تا نه غواړم د جنت اُوچتے درجے۔ اے الله! زۀ تا نه د خیر شروع کونکی او د خیر ختمونکی او د خیر راجمع کونکی څیزونه او د خیر اول او ښکاره خیر او پټ خیر او اُوچت درجات د جنت غواړم، آمین۔

اے الله! زۀ تا نه د هغه عمل خیر غواړم کوم ته چه زۀ راتگ کوم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زۀ ئې (يو ځل) کوم او خير د هغه عمل چه زۀ ئې (هميشه) کوم، او د هغه عمل چه پټ وی او هغه چه ښکاره وی او د جنت اُوچت درجات آمين۔

اے الله! زۀ تا نه غواړم چه تۀ زما ذکر اُوچت کړه او زما بوج لرے کړه او کار زما برابر کړه او زما زړۀ پاك کړه او زما د عورت حفاظت اُوکړه او زما دپاره زړۀ روښانه کړه او زما ګناه معاف کړه او غواړم ستا نه اُوچت درجات د جنت آمين۔

اے الله! زۀ تا نه دا سوال کوم چه تۀ زما په نفس او زما په غوږ او زما په سترګه او زما په روح او زما په شکل او زما په اخلاقو او زما په اهل او زما په ژوند او زما په مرګ او زما په عمل کښې برکت واچوه او زمونږ نيك اعمال قبول کړه او غواړم تا نه اُوچت درجات د جنت، آمين۔

(۳۴) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الۡهَمِّ وَالۡحُزۡنِ، وَالۡعَجۡزِ وَالۡكَسَلِ، وَالۡبُخۡلِ وَالۡجُبۡنِ، وَضَلَعِ الدَّيۡنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ.

[بخاری: ۲/۹٤۱، ۹٤۲ – شرح السنة: ۱۳۵۵]

ترجمه: اے الله! زۀ په تا پورے پناه غواړم د فکر او غم او د عاجزئ او سستئ او بخل او بزدلئ او د قرض د بوج او د سړو د غالبه کيدو نه۔

(۳۵) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ عَذَابِ الۡقَبۡرِ،

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَفِتْنَةِ الْمَمَاتِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ .

[بخاری : ۱/۱۱۵- شرح السنة رقم (۶۹۱)]

**ترجمه :** اے الله ! زهٔ په تا پورے پناه غواړم د قبر د عذاب نه، او په تا پورے پناه غواړم د مسیح دجال د فتنے نه، او پناه غواړم په تا پورے د ژوند د فتنے نه او د مرګ د فتنے نه۔ اے الله ! زهٔ پناه غواړم په تا پورے د ګناه او د تاوان (یا د قرضداره کیدو) نه۔

**(۳۶) - سُبْحَانَ رَبِّیْ وَبِحَمْدِهٖ، سُبْحَانَ رَبِّیْ وَبِحَمْدِهٖ .**

[صحیح : المستدرك : ۱۸۸۹- بیهقی فی شعب الایمان : ۵۹۲- شرح السنة : ۶۵۵]

**ترجمه :** پاکی ده رب زما لره او د هغهٔ دپاره د کمال صفتونه دی۔

**فائده:** د ابو ذر رضی الله عنه بیمار پرسیٔ ته رسول الله ﷺ تشریف راوړو نو هغهٔ عرض وکړو اے د الله رسوله ! کوم کلام الله تعالیٰ ته زیات محبوب دے؟ وے فرمایل : هغه چه الله تعالیٰ د ملائکو دپاره غوره کړیدے، هغه دغه مذکور ذکر دے۔

**(۳۷) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ يَوْمِ السُّوْءِ، وَمِنْ**

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَيْلَةِ السُّوْءِ، وَمِنْ سَاعَةِ السُّوْءِ، وَمِنْ صَاحِبِ السُّوْءِ، وَمِنْ جَارِ السُّوْءِ فِيْ دَارِ الْمُقَامَةِ .

[حسن : الطبرانی فی الکبیر : ۸۱۰ - مجمع الزوائد : ۷/۲۲۰ صحیح الجامع رقم ۱۲۹۹]

ترجمه : اے الله ! بیشکه زهٔ په تا پورے پناه غواړم د بدے ورځے نه، او د بدے شپے نه او د بد ساعت نه او د بد ملګری نه او د بد ګاونډی نه په ځائے د اُوسیدو کښے.

(۳۸) - اَللّٰهُمَّ اَحْيِنِيْ مِسْكِيْنًا، وَاَمِتْنِيْ مِسْكِيْنًا وَاحْشُرْنِيْ فِيْ زُمْرَةِ الْمَسَاكِيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

[صحیح : ترمذی : ۲٤۷۱ - ابن ماجه : ٤۱۲٦]

ترجمه : اے الله ! ما مسکین ژوند اُوساته او د مسکینئ په حالت کښے مرګ راکړه او د (قیامت په ورځ) زما حشر د مسکینانو په ډله کښے اُوکړه.

(۳۹) - اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُوْعِ فَاِنَّهٗ بِئْسَ الضَّجِيْعُ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ فَاِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ .

[حسن صحیح : ابوداود : ۱٥٤۷ - ابن ماجه : ۳۳٥٤]

ترجمه : اے الله ! زهٔ پناه غواړم په تا پورے د لوګے نه ځکه چه دا د اړخ بد ملګرے دے، او پناه غواړم په تا د خیانت نه ځکه چه دا بده (باطنی) جامه ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴۰) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الْهُدٰی وَالسَّدَادَ .

[مسلم : ۲/ ۳۵۰ رقم : ۷۰۸۷]

ترجمه : اے الله ! زهٔ تا نه هدایت او په نیغه لاره روانیدل غواړم۔ (یا برابر والے د کارونو)

(۴۱) – اَللّٰهُمَّ اهْدِنِیْ وَسَدِّدْنِیْ .

[مسلم : ۲/ ۳۵۰ رقم : ۷۰۸۶]

ترجمه : اے الله ! ما ته هدایت وکړه او ما برابر روان کړه۔

(۴۲) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا یَنْفَعُ، وَعَمَلٍ لَا یُرْفَعُ، وَدُعَاءٍ لَا یُسْمَعُ .

[صحیح : عن انس تخریج العلم لابی خیثمة : ۱۶۵، مسند احمد رقم : ۱۳۶۹۹، ابن حبان رقم : ۸۳]

ترجمه : اے الله ! زهٔ تا پورے پناه غواړم د هغه علم نه چه فائده نهٔ ورکوی، او د هغه عمل نه چه نهٔ پورته کیږی (قبلیدو ته) او هغه دعاء نه چه نهٔ آوریدے کیږی (نهٔ قبلیږی)

فائده : د (الطبرانی فی الکبیر : ۲۲۷۰) په روایت کښے ددے سره : وَقَلْبٍ لَایَخْشَعُ وَنَفْسٍ لَاتَشْبَعُ ۔ الفاظ هم راغلی دی۔ (یعنی د هغه زړهٔ نه چه خشوع پکښے نهٔ وی او د هغه نفس نه چه نهٔ مړیږی۔

(۴۳) – رَضِیْتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْاِسْلَامِ دِیْنًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ابو داود : ۱۵۲۹ - الصحيحة : ۳۳٤]

**ترجمه** : زهٔ د الله په ربوبيت او د اسلام په دين کيدو او د محمد ﷺ په رسول کيدو باندې راضي يم.

**فائده** : حديث کښې راغلي دي : چا چه دا ذکر شوې ذکر اُوکړو هغهٔ دپاره جنت واجب شو.

او مخکښې ذکر شو چه څوك دا سهار او ماښام ووائي نو الله تعالیٰ به ئې د قيامت په ورځ خامخا راضي کوي.

**(۴۴) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُشْهِدُكَ وَاُشْهِدُ مَلَائِكَتَكَ وَحَمَلَةَ عَرْشِكَ وَاُشْهِدُ مَنْ فِی السَّمٰوَاتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ اَنَّكَ اَنْتَ اللّٰهُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ، وَحْدَكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ .**

[ الحاكم : ۵۲۳/۱ رقم : ۱۹۲۰ - الصحيحة : ۲۶۷]

**ترجمه** : اے الله ! زهٔ تا گواه کوم او ستا ملائك او د عرش پورته کونکی ملائك گواه کوم او هغه څوك چه په آسمانونو او هغه څوك چه په زمکه کښې دی هغه گوام پدے خبره چه يقيناً هم ته حق معبود ئې، نشته حقدار د بندگئ سوئ ستا نه، ايکی يواځې ئې ستا هيڅوك شريك نشته، او گواهی کوم چه محمد ﷺ ستا بنده او ستا رسول دے.

**فائده** : چا چه دا دعا يو کرته وکړه نو الله تعالیٰ به د هغهٔ يو حصه د اُور نه آزاده کړی او چا چه دا دوه کرته ولوسته نو الله تعالیٰ

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د هغهٔ دوه حصے د اُور نه آزاد کړی او چا چه درے کرته ولوسته نو الله تعالیٰ به ئے ټول د اُور نه آزاد کړی۔

۲ - دا ذکر په عامو اوقاتو کښے لوستلے شی۔ او په صبا او بیګاه کښے هم راغلے دے لیکن د صبا او بیګاه والا روایت ضعیف دے انظر الضعیفة رقم (۱۰۴۱)

(۴۵) - رَبَّنَا اَصْلِحْ بَيْنَنَا وَاهْدِنَا سَبِيْلَ الْاِسْلَامِ وَنَجِّنَا مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ وَاصْرِفْ عَنَّا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَبَارِكْ لَنَا فِيْ اَسْمَاعِنَا وَاَبْصَارِنَا وَقُلُوْبِنَا وَاَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا وَتُبْ عَلَيْنَا اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ وَاجْعَلْنَا شَاكِرِيْنَ لِنِعْمَتِكَ مُثْنِيْنَ بِهَا قَائِلِيْنَ بِهَا وَاَتِمَّهَا عَلَيْنَا .

[صحیح : صحیح الادب المفرد : ۶۳۰، ابن ابی شیبة رقم : ۲۹۵۳۴]

**ترجمه** : اے الله ! زمونږ ترمینځ اصلاح وکړے، او مونږ د اسلام په لاره روان کړے، او مونږ ته د تیارو نه رڼړا طرف ته نجات راکړه، او مونږ نه بنکاره او پټے بے حیایئ واړه وه، او مونږ ته برکت راکړه زمونږ په غوږونو او زمونږ په سترګو او زمونږ په زړونو او زمونږ په بیبیانو (او خاوندانو) او زمونږ په اولاد کښے۔ او په مونږ باندے رحم وکړه یقیناً تهٔ توبه قبلونکے رحم کونکے ئے، او مونږ ستا د نعمتونو شکر کونکی د هغے په وجه ستا ثناء کونکی، د هغے اقرار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونکی جوړ کړه، او نعمتونه په مونږ باندې پوره کړه.

(٤٦) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ جَارِ السُّوْءِ، وَمِنْ زَوْجٍ تُشَيِّبُنِیْ قَبْلَ الْمَشِيْبِ، وَمِنْ وَلَدٍ يَكُوْنُ عَلَیَّ رَبًّا، وَمِنْ مَالٍ يَكُوْنُ عَلَیَّ عَذَاباً، وَمِنْ خَلِيْلٍ مَاكِرٍ عَيْنُهٗ تَرَانِیْ، وَقَلْبُهٗ يَرْعَانِیْ، اِنْ رَاٰی حَسَنَةً دَفَنَهَا، وَاِذَا رَاٰی سَيِّئَةً أَذَاعَهَا.

[اخرجه الطبرانی فی الدعاء : ۱٤۲٥/۱۳۳۹ ومسند الفردوس للدیلمی : ۱۸۳/۱/۱) وانظر الصحیحة : ۳۱۳۷)]

**ترجمه** : اے الله! زۀ په تا پورې پناه غواړم د ناکاره ګاونډی نه او د هغه ښځې نه چه ما د بوډا والی نه مخکښې بوډا کړی، او د هغه بچی نه چه په ما باندې حکم کونکے جوړ شی، او د هغه مال نه چه په ما باندې عذاب جوړ شی او د هغه چلباز (مکار) دوست نه چه د هغۀ سترګې ما ته نظر کوی او زړۀ ئے زما په تاك وی، که (زما) نیکی وینی هغه پټوی او که بدی وینی هغه (خلکو) ته ښکاره کوی.

(٤٧) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ اِيْمَانًا لَا يَرْتَدُّ وَنَعِيْمًا لَا يَنْفَدُ وَمُرَافَقَةَ نَبِيِّكَ فِیْ اَعْلٰی جَنَّةِ الْخُلْدِ.

[حسن صحیح : مسند احمد رقم : ٤۲٥٥، تخریج احادیث احیاء علوم الدین : ۱۰۰٦ -والطبرانی فی الکبیر : ٥۹/۹، الصحیحة : ۲۳۰۱]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : اے الله ! زۀ تا نه داسے ایمان غواړم چه بیرته نۀ واپس کیږی او داسے نعمتونه چه نۀ ختمیږی، او په اعلیٰ جنتونو د همیشوالی کښے ستا د نبی ملګرتیا (غواړم)۔

(۴۸) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ لَا یَخْلِطُهٗ شَیْءٌ

[صحیح : صحیح الادب المفرد : ٦٧٥]

ترجمه : اے الله ! زۀ تا پورے پناه غواړم د هغه شر نه چه د هغے سره هیڅ شے یو ځائے شوے نۀ وی۔

فائده : دا د ابوالدرداء رضی الله عنه دعا ده۔

(۴۹) – اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنِیْ بِسَمْعِیْ وَبَصَرِیْ وَاجْعَلْهُمَا الْوَارِثَ مِنِّیْ، وَانْصُرْنِیْ عَلٰی عَدُوِّیْ وَاَرِنِیْ مِنْهُ ثَأْرِیْ .

[صحیح الادب المفرد : ٦٥٠]

ترجمه : اے الله ! ما ته زما په غوږ او نظر سره فائده راکړه، او دا دواړه زما نه روستو باقی پریده، او زما د دشمن په مقابله کښے زما مدد وکړه او ما ته د هغۀ بدله (انتقام) راوښایه۔

(۵۰) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْغِنٰی وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فِتۡنَةِ الۡفَقۡرِ وَاَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ فِتۡنَةِ الۡمَسِيۡحِ الدَّجَّالِ .

[بخاری : ۹٤٣/۲]

ترجمه: اے الله ! زۀ په تا پورے پناه غواړم د فتنے د اُور نه او د عذاب د اُور نه او په تا پورے پناه غواړم د فتنے (امتحان) د قبر نه، او په تا پورے پناه غواړم د عذاب د قبر نه او په تا پورے پناه غواړم د فتنے د مالدارئ نه او په تا پورے پناه غواړم د فتنے د فقر (غربیئ) نه او په تا پورے پناه غواړم د فتنے د مسیح دجال نه۔

(۵۱) - اَللّٰهُمَّ اِنِّىۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الۡكَسَلِ وَالۡهَرَمِ وَالۡمَاۡثَمِ وَالۡمَغۡرَمِ وَمِنۡ فِتۡنَةِ الۡقَبۡرِ وَعَذَابِ الۡقَبۡرِ وَمِنۡ فِتۡنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ وَمِنۡ شَرِّ فِتۡنَةِ الۡغِنٰى وَاَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ فِتۡنَةِ الۡفَقۡرِ وَاَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ فِتۡنَةِ الۡمَسِيۡحِ الدَّجَّالِ، اَللّٰهُمَّ اغۡسِلۡ عَنِّىۡ خَطَايَاىَ بِمَاءِ الثَّلۡجِ وَالۡبَرَدِ، وَنَقِّ قَلۡبِىۡ مِنَ الۡخَطَايَا كَمَا نَقَّيۡتَ الثَّوۡبَ الۡاَبۡيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَبَاعِدۡ بَيۡنِىۡ وَبَيۡنَ خَطَايَاىَ كَمَا بَاعَدۡتَ بَيۡنَ الۡمَشۡرِقِ وَالۡمَغۡرِبِ .

[بخاری : ۹٤۲/۲، رقم : ٦٣٦٨]

ترجمه : اے الله ! په تا پورے پناه غواړم د سُستئ او د بوډاوالی او د گناه او د قرض نه او د قبر د فتنے نه او د قبر د عذاب نه او د فتنے د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُور نه او د عذاب د اُور نه او د ضرر د فتنې د مالدارئ نه او په تا پورې پناه نیسم د فتنې د غریبئ نه، او په تا پورې پناه نیسم د فتنې د مسیح دجال نه۔ اے الله ! ما نه زما گناهونه د واورے او د گلئ په اُوبو سره وینځه، او زما زړهٔ د گناهونو نه داسے صفا کړه لکه چه تهٔ سپینه جامه د خیرو نه صفا کوے، او زما او زما د گناهونو ترمینځ داسے جدا راوله لکه چه تا د مشرق او د مغرب ترمینځ جدائی راوستے ده۔

(۵۲) – اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ، فَاِنَّهٗ لَایَمْلِكُهَا اِلَّا اَنْتَ .

[صحیح : المعجم الکبیر رقم : ۲۰۲۲٦ صحیح الجامع الصغیر : ۱۲۷۸]

ترجمه : اے الله ! زهٔ تا نه ستا فضل او ستا رحمت غواړم، ځکه چه ددے مالك صرف هم تهٔ ئے۔

(۵۳) – اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِیْ وَآمِنْ رَوْعَاتِیْ، وَاقْضِ عَنِّیْ دَیْنِیْ . [صحیح الجامع الصغیر :۱۲٦۲]

ترجمه : اے الله ! زما عورتونه پټ وساته او زما یرے په امن کښے کړه او زما نه زما قرض ادا کړه۔

(۵۴) – اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْكَ لَهٗ وَاَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَاَنَّ عِیْسٰی عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهٗ وَکَلِمَتُهٗ اَلْقَاهَا اِلٰی مَرْیَمَ وَرُوْحٌ مِنْهُ وَ الْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حَقٌّ

[بخاري: ۱/۴۸۸، رقم: ۳۴۳۵ مسلم رقم: ۱۴۹]

**ترجمه:** زهٔ گواهي کوم چه نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه ایکی یواځے دے، هیڅ شریك ئے نشته، او محمد ﷺ د هغهٔ بنده او د هغهٔ رسول دے، او یقیناً عیسی علیه السلام د الله بنده او د هغهٔ رسول دے او د هغهٔ کلمه ده چه مریم ته ئے غورزولے ده او د هغهٔ د طرف نه روح دے، او جنت حق دے او اُور حق دے۔

**فائده:** په حدیث کښے راغلی دی: چا چه دا وویل نو هغهٔ ته به د جنت اته واړه دروازے کولاوے شی په کومه ئے چه خوښه وی، ترے ننوزی۔ دا روایت د مسلم دے۔ او په روایت د بخاری کښے دی چه الله تعالیٰ به ئے جنت ته داخل کړی که هر عمل ئے کړے وی۔

**(۵۵) - اَللّٰهُمَّ تَوَفَّنِیْ مَعَ الْاَبْرَارِ، وَلَا تُخَلِّفْنِیْ فِی الْاَشْرَارِ، وَاَلْحِقْنِیْ بِالْاَخْیَارِ.**

[صحیح: صحیح الادب المفرد: ۶۲۹]

**ترجمه:** اے الله! ما ته د نیکانو خلکو سره مرګ راکړه او ما د شریانو سره مهٔ پریده او ما د غوره خلکو سره یو ځائے کړه۔

**فائده:** دا د امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه دعا ده۔

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هغه سورتونو او آیتونو بیان چه د هغې فضیلت په صحیح احادیثو کښ راغلے او په خاص ځایونو کښ لوستل شي

فائده : د قرآن مجید د لوستلو ډیر فضائل په احادیثو کښې راغلي دي، لیکن دلته مونږ د موقع او محل سورتو نه لیکو :

(۱) - سُو رة الفاتحه : په مانځه کښې د لوستلو نه علاوه د مریض یا چیچل شوي په دمولو کښې هم لوستل کیږي، لکه دے باره کښې د ابوسعید خدري حدیث امام بخاري او مسلم راوړیدے.

[بخاري رقم : ۲۲۷۶ ـ مسلم : ۵۸٦۳]

دارنګ سورت الفاتحه د اُودهٔ کیدو وخت کښې هم لوستل راغلي دي، لکه ابن کثیر ۱/ ۱۲- کښې دا حدیث راغلے دے.

(۲) - سُوُرة البقرة : حدیث کښې راځي : کوم کور کښې چه سورتِ بقره لوستلے شي نو هلته شیطان نه راځي (نو د سورتِ بقرے لوستل پکار دي). (مسلم ۱/ ۲۷۰)

(۳) - آيَةُ الْكُرْسِيُّ : ډیر فضائل احادیثو کښې راغلي دي دا د هر مانځه نه روستو، دارنګ د اوده کیدو وخت کښې لوستل پکار دي کما تقدم (بخاري رقم : ۳۲۷۵)

(٤) - سُوُ رة كَهْف : د جُمعې په ورځ د سورة الكهف لوستل صحیح احادیثو کښې راغلي دي. نبي علیه السلام فرمائي : کوم انسان چه د جمعې په ورځ سورتِ کهف اولوستلو نو هغه لره به الله تعالیٰ د راتلونکې جمعې پورې یوه خاصه رڼړا ورکړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[السنن الكبرى للنسائی رقم : ۶۲۰۹، الحاكم رقم : ۲۰۷۲]

بل روایت کښې راځي : هغه له به یوه رنړا ورکړی لکه ددې ځائے نه (یعنی د لوستونکی دځائے نه) تر مکے مکرمے پورے.

[السنن الكبرى للنسائی رقم : ۱۰۷۲۲، ابن کثیر ۳/۷۰]

دارنګ حدیث کښې راځي : چا چه د سورة الکهف اولنی لس آیتونه زده کړل نو د دجال نه به محفوظ شي. (مسلم : ۱۹۱۹)

نو د سورتِ کهف اولنی آیتونه یادول هر مسلمان له پکار دی.

(۶) – سورة بنی اسرائیل اوسورة الزمر :

عائشه رضی الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به تر هغې نهٔ اُوده کیدو تر څو چه به ئے دغه دوه سورتونه نهٔ وو لوستلی.

(ترمذی رقم (۳۶۴۶) وسنده صحیح)

(۷) –" آلم تنزیل السجده " او " تَبَارَكَ الَّذِیْ " :

حدیث کښې راځي: رسول الله ﷺ به دغه دوه سورتونه هم د شپې د اُودهٔ کیدو په وخت کښې لوستل او ددې په لوستلو کښې ډیر حکمتونه دی چه هغه دلته د بیان نه بهر دی. ترمذی رقم (۳۶۴۵).

(۸) – " سورة الکافرون " : د نوفل رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ما ته اوفرمایل : سورة الکافرون وایه او بیا اُودهٔ کیږه، ځکه دا د شرك نه براءت ( بیزاری ) ده.

ابو داود رقم (۵۰۵۵) ترمذی (۳۶۴۳) وسنده صحیح.

(۹) – " سورة الاخلاص او معوذتین " : رسول الله ﷺ به چه کله د شپې اوده کیدو نو دا درے واړه سورتونه به ئے یو ځل اولوستل او په لاسونو مبارکو کښې به ئے تُف تُف اوکړو او په ټول بدن به ئے

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريے ځله لاسونه راخکل. [بخاري رقم: ۵۰۱۷، مسلم، ابوداود (۵۰۵٦]

دارنګ دغه دريے سورتونه د هر فرض مانځه نه روستو يو ځل لوستل سنت دی. [ترمذی رقم: ۳۰۷۹ صحيح]

دارنګ دغه دوه روستني سورتونه د هر مصيبت او مرض په وخت کښے لوستلے شي.

[ابوداود رقم: ۱٤٦۵ باب في المعوذتين]

دارنګه رسول الله ﷺ عبد الله بن خبيب رضي الله عنه ته وفرمايل: قل هو الله احد او معوذتين هر صبا او بيګاه دريے دريے کرته وايه [تَكْفِيْكَ كُلَّ شَيْءٍ] دا به ستا دپاره د هر شي نه کافي شي.

[الترمذي رقم: ۳۵۷۵، النسائي ۵٤۲۸، احمد رقم: ۲۲۷۱٦ باسناد حسن]

## د درود شريف د الفاظو بيان

(۱) - اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ.

[ابوداود ۹۸۱ - بسند صحيح]

**ترجمه:** اے الله! رحمت را اوليږه په محمد ﷺ باندے چه امی پيغمبر دے او په آل د محمد عليه السلام باندے.

(۲) - اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اَهْلِ بَيْتِهٖ وَعَلٰى اَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اَهْلِ بَيْتِهٖ وَعَلٰى اَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ .

[مسند احمد رقم : ۲۳۲۲۱، صحيح – شعيب]

ترجمه : اے الله ! رحمت را اولیږه په محمد ﷺ او د هغه په کور والو اود هغه په بیبیانو او د هغه په اولادو لکه څرنګ چه تا رحمت رالیږلے دے په آل د ابراهیم علیه السلام باندے. بیشکه ته ستائیلے شوے، شرافت والا ئے – او برکت را اولیږه په محمد ﷺ او په کور والو د هغه او په بیبیانو د هغه او په اولاد د هغه لکه څرنګ چه تا برکت رالیږلے دے په آل د ابراهیم علیه السلام باندے. بیشکه ته ستائیلے شوے شرافت والا ئے.

(۳) – اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ .

[جلاء الافهام بسند صحيح /٤٤]

(۴) – اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حَمِيدٌ مَجِيدٌ

[بخاری ۱/۴۷۷ رقم: ۳۳۶۹]

(۵) – اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ.

[بخاری رقم: ۳۳۷۰]

(۶) – اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ، وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَآلِ اِبْرَاهِيْمَ .

[رواه البخاری ۲/۹۴۰ رقم: ۴۷۹۸]

ترجمه : اے الله ! رحمت نازل کړه په محمد (صلی الله علیه وسلم) باند چه ستا بنده او رسول دے لکه څنګه چه تا رحمت نازل کړیدے په ابراهیم علیه السلام باندے او برکت نازل کړه په محمد (صلی الله علیه وسلم) او د هغه په آل باندے لکه څنګه چه تا برکت نازل کړے په ابرهیم علیه السلام او د هغه په آل باندے، یقینا ته د صفت مستحق ئے او شرافت والا ئے .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده :** د درود شریف الفاظ نور هم ډیر شته چه ددې الفاظو نه اوږده دی . دا بهترین درودونه او په صحیح سند سره ثابت دی - که تفصیل غواړې نو د مولوی زکریا کتاب (( فضائل درود )) کښې اوګوره لیکن په هغې کښې هغه د علامه سخاویؒ نه بعض ضعیف درودونه هم نقل کړیدی چه سندونه ئې ضعیف دی - د وردا وظیفې دپاره مختصر درود ډیر ښه وایه - او د درود ډیر زیات فضائل دی چه دا ځائې ئې د بیان نه دې . چه د هغینه یو فضیلت دا دې چه حدیث کښې راغلی دی ، نبی علیه السلام فرمائی :

اِنَّ مِنْ اَفْضَلِ اَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَأَكْثِرُوْا عَلَيَّ الصَّلَاةَ فِيْهِ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوْضَةٌ عَلَيَّ .

[اخرجه ابوداود والنسائی وابن ماجة والدارمی ۱/۳٦۹ واحمد ٤/۸ والحاکم ۱/۲۷۸ بسند صحیح]

**ترجمه :** یقیناً ستاسو په ورځو کښې د جمعې ورځ بهترینه ورځ ده، نو تاسو پدې کښې په ما باندې درود زیات وایئ، ځکه چه ستا سو درود په ما باندې پیش کیږی ( د ملائکو په ذریعه) .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اَسمَاءِ حُسنیٰ

حدیث کښې راغلي دي : اِنَّ لِلّٰهِ تِسۡعَةً وَتِسۡعِيۡنَ اسۡمًا مِائَةً اِلَّا وَاحِدًا، مَنۡ اَحۡصٰهَا دَخَلَ الۡجَنَّةَ .

[بخاری رقم : ۲۷۳٦، مسلم رقم : ٦۹۸٥ من حدیث ابی هریرة رضی اللّٰه عنه ـ مشکوة ۱/۹۹]

**ترجمه :** بیشکه الله تعالی دپاره یو کم سل (۹۹) نومونه دي، چا چه د هغې اِحصاء اوکړه، جنت ته به داخل شي .

د **احصاء** ډیرې معانې دي . احصاء معنی یادول، او د هغې په معنی باندې پوهیدل، د هغې وِرد کول، په هغې یقین کول او د هغې په وسیله دعا کول . (کما فی شرح اللّٰه الحسنیٰ)

د الله تعالی نومونه ډیر دي، دا پکښې قرآن او حدیث کښې مونږ ته معلوم شویدي :

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیۡ لَا اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ (هغه الله چه د هغه نه سوا حقدار د عبادت نشته)

الرَّحۡمٰنُ (نهایت مهربان)

الرَّحِیۡمُ (ډیر رحم کونکے)

الۡمَلِكُ (بادشاه)

الۡقُدُّوۡسُ (د هر عیب نه پاك)

السَّلَامُ (د هر آفت نه سلامتیا ورکونکے)

الۡمُؤۡمِنُ (امن ورکونکے)

الۡمُهَیۡمِنُ (نګهبانی کونکے)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| اَلْعَزِيْزُ | اَلْجَبَّارُ | اَلْمُتَكَبِّرُ |
| (غالب) | (د خرابۍ صحیح کونکے) | (ډیر د لوئی والا) |
| اَلْخَالِقُ | اَلْبَارِئُ | اَلْمُصَوِّرُ |
| (پیدا کونکے) | (تیک تیک جوړونکے) | (صورت جوړونکے) |
| اَلْغَفَّارُ | اَلْقَهَّارُ | اَلْوَهَّابُ |
| (ډیر بخنه کونکے) | (ډیرے غلبے والا) | (ډیر بخشش کونکے) |
| اَلرَّزَّاقُ | اَلْفَتَّاحُ | اَلْعَلِيْمُ |
| (ډیر روزی ورکونکے) | (ډیر فیصله کونکے) | (ډیر پوهیدونکے) |
| اَلْقَابِضُ | اَلْبَاسِطُ | اَلْخَافِضُ |
| (روزی وغیره تنګونکے) | (ډیر فراخه کونکے) | (ډیرخکته کونکے) |
| اَلرَّافِعُ | اَلْمُعِزُّ | اَلْمُذِلُّ |
| (پورته کونکے) | (عزت ورکونکے) | (ذلت ورکونکے) |
| اَلسَّمِيْعُ | اَلْبَصِيْرُ | اَلْحَكَمُ |
| (اوریدونکے) | (لیدونکے) | (اتل فیصله کونکے) |

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| اَلْعَدْلُ | اَللَّطِیْفُ | اَلْخَبِیْرُ |
| (بالکل صحیح انصاف کونکے) | (د باریکو څیزونو لیدونکے) | (پوره خبردار) |
| اَلْحَلِیْمُ | اَلْعَظِیْمُ | اَلْغَفُوْرُ |
| (صبرناك) | (عظمت والا) | (بنه گناه بخښونکے) |
| اَلشَّكُوْرُ | اَلْعَلِیُّ | اَلْکَبِیْرُ |
| (قدردان، په لږ بانده ډیر شے ورکونکے) | (اوچتے مرتبے والا) | (ډیر لوئی) |
| اَلْحَفِیْظُ | اَلْمُقِیْتُ | اَلْحَسِیْبُ |
| (حفاظت کونکے) | (خوراکونه پیدا کونکے۔ تولو لره پیژندونکے) | (حساب کونکے) |
| اَلْجَلِیْلُ | اَلْکَرِیْمُ | اَلرَّقِیْبُ |
| (لوئی بزرگئ والا) | (بغیر د غوختلو نه ورکونکے) | (نگهبان) |
| اَلْمُجِیْبُ | اَلْوَاسِعُ | اَلْحَکِیْمُ |
| (دعا قبلونکے) | (فراخئ والا) | (لوئی حکمت والا) |
| اَلْوَدُوْدُ | اَلْمَجِیْدُ | اَلْبَاعِثُ |
| (ډیر محبت والا) | (ډیر شرافت والا) | (د قبرونو نه ژوندے کونکے) |

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| اَلشَّهِيْدُ | اَلْحَقُّ | اَلْوَكِيْلُ |
| (حاضر وموجود) | (خپلو صفاتو سره ثابت ذات) | (کار سنبالونکے) |
| اَلْقَوِیُّ | اَلْمَتِيْنُ | اَلْوَلِیُّ |
| (قوت والا) | (نهایت طاقت والا) | (کارساز) |
| اَلْحَمِيْدُ | اَلْمُحْصِیْ | اَلْمُبْدِئُ |
| (د صفت مستحق) | (ښه شمارونکے) | (ابتدائی پیداکونکے) |
| اَلْمُعِيْدُ | اَلْمُحْيِ | اَلْمُمِيْتُ |
| (دوباره پیداکونکے) | (ژوندے کونکے) | (مړکونکے) |
| اَلْحَیُّ | اَلْقَيُّوْمُ | اَلْوَاجِدُ |
| (همیشه ژوندے) | (تدبیر کونکے) | (بالفعل په هرکمال سره متصف) |
| اَلْمَاجِدُ | اَلْوَاحِدُ | اَلْاَحَدُ |
| (شرافت والا) | (یوذات) | (ایکی یواځے) |
| اَلصَّمَدُ | اَلْقَادِرُ | اَلْمُقْتَدِرُ |
| (بے حاجته) | (قدرت والا) | (ډیر زیات قدرت لرونکے) |

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| اَلْمُقَدِّمُ | اَلْمُؤَخِّرُ | اَلْاَوَّلُ |
| (مخکښے کونکے) | (روستو کونکے) | (د ټولو نه اول) |
| اَلْآخِرُ | اَلظَّاهِرُ | اَلْبَاطِنُ |
| (د ټولو نه آخری) | (ښکاره) | (پټ) |
| اَلْوَالِیُ | اَلْمُتَعَالِیُ | اَلْبَرُّ |
| (د ټولو کائناتو متولی) | (د مخلوق د صفاتو نه اوچت) | (ډیر احسان کونکے |
| اَلتَّوَّابُ | اَلْمُنْتَقِمُ | اَلْعَفُوُّ |
| (ډیره توبه قبلونکے) | (انتقام اخستونکے) | (معاف کونکے) |
| اَلرَّءُوْفُ | مَالِكُ الْمُلْكِ | ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ |
| (ډیر شفقت کونکے) | (د ټول ملك مالك) | (د اُوچت شان او عزت والا) |
| اَلْمُقْسِطُ | اَلْجَامِعُ | اَلْغَنِیُّ |
| (ډیر انصاف کونکے) | (ټولو لره جمع کونکے) | (د ټولو نه بے حاجته) |
| اَلْمُغْنِیُ | اَلْمَانِعُ | اَلضَّارُّ |
| (نورو لره غنی کونکے) | (منع کونکے) | (نقصان رسونکے) |

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| النَّافِعُ | النُّوْرُ | الْهَادِیُ |
| (نفع رسونکے) | (تولو لره روښانه کونکے) | (هدایت کونکے) |
| الْبَدِیْعُ | الْبَاقِیُ | الْوَارِثُ |
| (بلا مثال پیدا کونکے) | (همیشه پاتے کیدونکے) | (د تولو د فنا کیدو نه بعد باقی) |
| الرَّشِیْدُ | الصَّبُوْرُ | الْحَیِیُّ |
| (هدایت ورکونکے) | (ډیر برداشت کونکے) | (ډیر حیا کونکے) |
| السِّتِّیْرُ | الْحَنَّانُ | الْمَنَّانُ |
| (ډیر پرده اچونکے) | (شفقت کونکے) | (ډیر احسان کونکے) |
| الْمُسْتَعَانُ | الْعَلَّامُ | الْمُحْسِنُ |
| (مدد طلب کړے وشوے) | (ډیر پوهه - د هرے خبرے نه خبر) | (ډیر ښیګړه کونکے) |
| الْجَمِیْلُ | الْمَوْلٰی | النَّصِیْرُ |
| (ښائسته شکل) | (مددګار - مالك، دوست) | (مدد کونکے) |
| السَّیِّدُ | الْمُسْعِرُ | الطَّیِّبُ |
| (سردار، آقا) | (نرخ لګونکے) | (پاکیزه) |

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| اَلْوِتْرُ | اَلْكَرِيْمُ | اَلْاَكْرَمُ |
| (طاق – يو) | (عزت والا) | (ډير عزتمند – سخا والا) |
| اَلشَّافِیْ | اَلْاَعْلٰی | اَلْمُبِيْنُ |
| (شفا وركونكے) | (ډير اوچت) | (وضاحت كونكے) |
| اَلْعَالِمُ | غَافِرُ الذَّنْبِ | قَابِلُ التَّوْبِ |
| (پوهه) | (گناه معاف كونكے) | (توبه قبلونكے) |
| شَدِيْدُ الْعِقَابِ | ذُو الطَّوْلِ | اَلْجَوَّادُ |
| (سخت عذاب وركونكے) | (طاقت والا) | (سخاء كونكے) |
| اَلرَّفِيْقُ | اَهْلُ التَّقْوٰى | اَهْلُ الْمَغْفِرَةِ |
| (نرمي كونكے) | (قابلِ خوف) | (قابل د بخښنے) |
| خَيْرُ الْحَافِظِيْنَ | خَيْرُ الرَّاحِمِيْنَ | اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ |
| (بهترين حفاظت كونكے) | (د تولو نه بهتر رحم كونكے) | (د تولو نه زيات رحم كونكے) |
| خَيْرُ الْغَافِرِيْنَ | | خَيْرُ النَّاصِرِيْنَ |
| (د تولو نه بهتر بخښنه كونكے) | | (د تولو نه بهتر مدد كونكے) |

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَحۡكَمُ الۡحَاكِمِيۡنَ نِعۡمَ الۡمَوۡلٰى نِعۡمَ النَّصِيۡرُ

(د ټولو نه بهتر فيصله کونکے) (بهترين مددګار) (ښه امدادی)

فَعَّالٌ لِمَايُرِيۡدُ ذُوۡ الۡعَرۡشِ الۡمَجِيۡدُ الۡقَرِيۡبُ

(د څه اراده چه کوی هغه کوی) (د عزتمند عرش مالك) (نژدې)

الۡقَائِمُ اَلۡاَعَزُّ السُّبُّوۡحُ

(تدبير کونکے – پوهه) (د ټولو نه زيات عزت والا) (د هر عيب نه پاك)

وَ لِلّٰهِ الۡاَسۡمَاءُ الۡحُسۡنٰى فَادۡعُوۡهُ بِهَا

او د الله دپاره ښائسته نومونه دی نو تاسو ددے نومونو په وسيله

د هغهٔ نه دعا غواړئ.

**د هغه ذکر او دعا بيان، چه خلق ئے کوی او هغه د ين کښې ثابت نهٔ وی**

**(۱) - پُل باندے د تيريدو دعا**

رَبِّ سَلِّمۡ رَبِّ سَلِّمۡ

دا دعا چرته مونږ د احاديثو په کتابونو کښے نه ده موندلے،

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صرف دومره ده چه بخاري وغيره كښې راغلي چه په پُلِ صراط باندې د تيريدلو په وخت كښې به انبياء عليهم السلام دغه الفاظ وائي.

(۲) - د شمع د بلولو په وخت كښې - اَلْحَافًا لفظ لوستل او د شمع د مړه كولو په وخت كښې - "مِنَ التَّعَفُّفِ" لفظ لوستل چرته احاديثو كښې نه دي راغلي.

(۳) - په سورلئ باندې د سوريدلو په وخت - وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ - لوستل په دې نيت چه دا امان دې د غرقيدو نه نو دا روايت ابن السني رقم (٥٠٠) طبراني، او ابويعلى راوړيدې ليكن موضوع (د ځان نه جوړشوې) دې اوګوره.

[الكلم الطيب رقم ١٤٥ - ضعيف الجامع رقم ١٢٤٨ - ١٨٠ / ابن كثير ٤٤٦/٢، ميزان الاعتدال ٤٩٧/٤]

(۴) - د مانځه نه پس سر باندې لاس كيخودل او - يَا قَوِيُّ يَا قَوِيُّ - وئيل يا - اَللّٰهُمَّ اَذْهِبْ عَنِّي الْهَمَّ وَالْحُزْنَ - لوستل صحيح حديث كښې ندي ثابت، دا هميشه دپاره وئيل بدعت دې.

[مجمع الزوائد ١١٠/١٠ - ضعيف الجامع - ٤٤٢٩، ابن السني رقم ١١٣ وفى السنن والمبتدعات ١/ ٧١ - بِدْعَةٌ قَبِيْحَةٌ]

(۵) - د سورلئ نه مونډلو په وخت بعض خلق - سورة قريش - لولي، دا چرته ندي ثابت كه چاته معلوم وي، مونږ ته دې هم اوښائي.

(۶) - د اذان د - اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ

وئيلو په وخت كښې غتې ګوتې په سترګو راخكل، او دا وئيل - قُرَّةُ عَيْنِيْ بِكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ - دا چا د ځان نه دروغ جوړ كړيدي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(موضوعات د ملا علی قاریؒ)

(۷) – نَوَيْتُ لِسُنَّةِ الْاِعْتِكَافِ مَا دُمْتُ فِيْ هٰذَا الْمَسْجِدِ :

دا هم چرته دین کښې ندی ثابت بلکه لوستل ئې بدعت دې او مسجد ته دداخلیدو په وخت کښې د اعتکاف نیت کول سنت نه دی ځکه چه د نبی علیه السلام او د عامو صحابو نه نقل ندی، صرف د یعلی بن امیه صحابیؓ نه نقل دې په حیاة الصحابه ۱۱۰/۳– او په حلیة الاولیاء ۳۱۲/۳– کښې لیکن د هغې سند هم نه دې معلوم.

(۸) – نَوَيْتُ اَنْ اَتَيَمَّمَ لِرَفْعِ الْحَدَثِ وَلِاسْتِبَاحَةِ الصَّلٰوةِ

– دا نیت په تیمم کښې هم چا د ځان نه خپل کور کښې جوړ کړیدې. د پیغمبر نه ندې ثابت.

(۹) – نَوَيْتُ اَنْ اُوَدِّیَ لِلّٰهِ اَرْبَعَ تَكْبِيْرَاتِ الْجَنَازَةِ مُتَوَجِّهًا اِلٰى جِهَةِ الْكَعْبَةِ الشَّرِيْفَةِ وَالدُّعَاءَ لِهٰذَا الْمَيِّتِ.

دا هم بې سنده او د ځان نه جوړ شوې نیت دې. هیڅ ثبوت نه لري.

(۱۰) – **سورة کوثر**– لوستل په وخت د لیدلو د ګډو بیزو کښې پدې نیت چه پدې سره د دغه کنډك په مقدار ثواب ملاویږي دا قسم روایات په فضائلو د سورتونو کښې د ځان نه جوړ شویدي- او دا روایاتِ موضوعه تفسیر ثعلبی، تفسیر بیضاوی او تفسیر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشاف د زمخشری معتزلی راوړیدی د سورت په اول او کله د سورت په آخر کښې. جاهلان اوبے تحقیقه خلق پرے عمل کوی او حال دا دے چه دغه روایات یو ظالم مُلا جوړ کړیدی لکه دا خبره اهلِ تحقیق ته معلومه ده.

(اُوګوره موضوعات د ملا علی القاریؒ)

(۱۱) - د څلور رکعتو تراویح نه روسته :

سُبْحَانَ ذِیْ الْمُلْكِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْجَبَرُوْتِ.

لوستل چرته حدیث کښې نشته، بعض رسالو کښې ئے لیکلے دے لیکن څه اصل ئے نشته. دارنګ : يَا حَیُّ يَا قَيُّوْمُ - لوستل پس د هر دوه رکعتو د تراویحو نه هم ندے ثابت. يَاحَیُّ يَا قَيُّوْمُ - کلمه خو ښته لیکن په دے خاص موقعه کښې ئے وئیل ندی ثابت.

(۱۲) - درود تاج لوستل جائز ندی ځکه په هغے کښې د شرك الفاظ دی، چا د ځان نه جوړ کړیدے، د حدیثو په کتابونو کښې هیڅ وجود نه لری.

(۱۳) - مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرٰى.

دا ایتونه لوستل په وخت د خاورے راړولو کښې په قبربانده د نبی علیه السلام نه ندی ثابت نو لوستل ئے بدعت دے.

(۱۴) - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ بِحَقِّ اَنْبِيَائِكَ وَاَوْلِيَائِكَ.

اے الله ! زهٔ تا نه په وسیله د انبیاء علیهم السلام او اولیاؤ سوال

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم – دا قسم وسیله نیول بدعت دے، په صحیح احادیثو کښے چرته هم دا قسم وسیله ثبوت نهٔ لری بلکه وسیله الله تعالی ته د هغهٔ په ښائسته نومونو او صفاتو نیول پکار دی ۔

دارنگ د ژوندی نیک عمله سړی نه دعا غوختل په احادیثو کښے شته دے خو لیکن نیکان خلق الله تعالی ته وسیله کول بدعت دے۔

نو علامه جزریؒ چه په حصنِ حصین کښے دا لیکلی چه د آدابو د دعا نه دا ده چه وسیله اُونیسے په نیک بندګانو – نو دا خبره ئے خطا او بے بنیاده کریده، ځکه چه په نیک بندګانو وسیله نیول بدعت دے.

---

وَسُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ وَصَلَّى اللّٰهُ وَسَلَّمَ عَلٰى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَآلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ

---

**کمپوزنگ واعراب وتحقیق واضافات :**

ابوزهیر سیف الله شیخ آباد پشاور.

التاریخ : – ذی الحجة الحرام / سنه ١٤٢٥هـ

الموافق : ٢٠٠٥/١٠/١٩ یوم الاربعاء

تحقیق جدید : رجب ١ / ١٤٣٩هـ

Scanned with CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**